فتاوی یعقوبیہ

تألیف

ذو الجد الفاخر والعلم الذاخر والفہم الباہر
شیخ الحدیث والتفسیر

مفتی عبد الرزاق کدنوی عفی عنہ

مہتمم مدرسہ محمدیہ نور روڈ چوک خروٹ آباد کوئٹہ

ناشر

قاری بسم اللہ نوری کاریزی

مکتبہ حقانیہ
کانسی روڈ کوئٹہ

فتاوٰی

یعقوبیہ

جلد (۱۱)

تألیف :

ذو المجد الفاخر و العلم الذاخر و الفہم الباہر



قاری بسم اللہ لوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ

کانسی روڈ۔ کوئٹہ

تقریظ

شیخ الحدیث والتفسیر فصیح اللسان حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی ادام اللہ برکاتہ الجاری بانی و مدیر جامعہ ام القراء چمن ۔

الحمدللہ العلی العظیم وصلوات اللہ البر الرحیم علی صاحب الخلق العظیم محمد و علی آلہ و صحبہ و کل من اھتدیٰ بھدیہ المستقیم اما بعد: فیقول الفقیر الی اللہ نظر محمد الافغانی انما طالعت نماز ج من الفتاوی الیعقوبیة لاخینا فی اللہ الشیخ الفقیہہ المفتي النبیہ الشیخ عبدالرازق زید مجدہ المدیر باالمدرسة المحمدیة فی کویتہ و علی الاسف انی لم آستوعب المطالعة لتزاھم آشغالی و تفاقم ھمومی و مع ذلک حین قلبت الحدقة فی نبذات من تلک الفتاویٰ و نماز ج منھا عثرت علی تفوقہ و عموم و قوفہہ فی آنحا العلوم من درایة الحدیث وروایة و من ناحیة الفقہ الحنفی دقا وجلا و سن ناحیة الحوادث والنوازل فی العصر الحاظر و ما الیہ ذلک من رد البدع والمنکرات واصلاح الصدور المعتقدات مع الترجمة السھلة الوجیزة الی لغتنا الا فغانیة السلمانیة فجزی اللہ تعالیٰ المؤلف خیر الجزاء و تقبل جھودہ و مساعیہ فی تلک الفتاویٰ و فی المصنفات اللتی صنفھا قبلھا ووفقہ لتا لیفات آخر کما یحب ویرضی و علی العلماء والائمة ان یطالعوھا و یستفیدوا منھاخذما نظرت ودع شیئا سمعت بہ ۔ فی طلعة الشمس ما یغنیک عن زحل ۔

حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا حمد الله صاحب استاذ و بانی مدرسه عشره مبشره بائی پاس آخری استاپ الله دی دشیخ صاحب په عمر کښې برکت واچوي .

الحمد الله الذی خلق السموات والارض وجعل الظلمت والنور و فضل العلم علی الجهل فقال قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون انما یتذکر اولوالاباب وصلوات ربي و سلامه علی محمد عبده و رسوله القائل من یرد الله به خیر یفقهه فی الدین و علی آله واصحابه القاده السادة و علی من تبعهم باحسان الی یوم الدین .

اما بعد: کله چې ما عاجزه بنده فتاوی یعقوبیه چې پر ۱۲ جلدو مشتمله ده چې د ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر جامع المنقول والمعقول محسود الاقرآن المفتي الاعظم جناب مولانا عبدالرازق کدنوی حفظه الله تألیف وو وکتل نو می په اخلاص دا وویل چې صادق هغه قائل ښې ویلی دي کم ترک الاول للاخر ځکه چې ډیری داسې جدیده مسائل پکښې سته چې متقدمینو نه دي بیان کړي خو په دې مذکور کتاب کې سره د تحقیق او معتبرو حوالو سره بیان شوی دي .

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث مناظر اسلام فصیح اللسان حضرت مولانا منظور احمد مینکل صاحب شیخ الحدیث مدرسة صدیقیة کراچی پاکستان .

الحمد للہ رب العالمین والصلوٰۃ والسلام علیٰ اشرف الانبیاء محمد المصطفیٰ وعلیٰ آلہ واصحابہ نجوم الہدیٰ وفقہاء ملۃ الی یوم الجزی۔ امابعد:

اسلام ایک کامل مکمل دین ہے جس میں ہر شعبہ زندگی کے حوالے سے رہنمائی موجود ہے قرآن مقدس جو ہدی للمتقین ہے بغیر کسی تغیر وتبدیل کے پوری آب وتاب کے ساتھ محفوظ ہے دوسری طرف رحمت عالم ﷺ کے فرامین مبارکہ بھی محفوظ ہیں جنہیں امت کے خوش نصیب طبقے محدثین عظام نے فرب مبلغ اوعیٰ من سامع کے تحت بعد والوں کو منتقل کیا۔ فقہا کرام نے خداداد بصیرت کی بنیاد پر قرآن وسنت میں غوطہ زن ہو کر فقہ کی صورت میں جو عظیم ذخیرہ ملت کے سامنے پیش کیا وہ رہتی دنیا تک عملی میدان میں رہنمائی فراہم کرتا رہے گا لیکن پھر بھی النصوص محدودۃ والحوادث محدودۃ کے پیش نظر نوازل اور پیش آمدہ مسائل کا صحیح حل تلاش کرنا ہر دور کے فقہاء کی ذمہ داری ہوتی ہے جنہیں وہ بہتر طریقے سے نباہ رہے ہیں موجودہ دور میں مرکز رشد وہدایت دارالعلوم دیوبند کی طرف منسوب اہل علم اکابر نے دین کے تمام شعبوں کی خوب آبیاری کی صرف فقہ وافتاء کے باب میں جو عظیم ذخیرہ عربی او اردو زبان میں مدون کیا اسے دیکھ کر عقلیں دنگ رہ جاتی ہیں ضرورت اس بات کی ہے کہ دیگر زبانوں میں اس طرح کی تالیفات اور تراجم کا اہتمام کیا جائے پیش نظر مسودہ فتاوی یعقوبیہ اسی سلسلے کی ایک کڑی ہے جس کو حضرت مولانا مفتی عبدالرازق الکدنوی صاحب نے پشتو زبان میں مرتب کیا ہے فقہا مسائل میں بالخصوص آراء کے اختلاف بدیہی الامر حقیقت ہے اس وجہ سے اہل علم کے خلاف کی گنجائش موجود ہے۔ مؤلف اس قابل قدر محنت پر قابل داد اور کتاب قابل دید ہے۔ خوشبو آن است کہ خود بیوید نہ آنکہ عطار بگوید

اللہ تعالیٰ اسے مؤلف کے لئے ذخیرہ آخرت اور امت کے لئے باعث ہدایت اور رہنمائی بنائیں آمین

﴿حضرت مولانا ڈاکٹر منظور احمد مینگل صاحب﴾ ﴿حفظہ اللہ﴾

رئیس جامعہ صدیقیہ گلشن معمار کراچی

دمطالبو فهرست

فتاوی

یعقوبیه

جلد (١١)

تألیف :

ذو المجد الفاخر والعلم الذاخر والفهم الباهر



قاری بسم اللہ لوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ
کانسی روڈ۔ کوئٹہ

دكتاب لنډه پيژند ګلوي

دكتاب نوم: اضحيه
مؤلف: مفتي عبدُالرّازق كدنوي
كمپوزر: راز محمّد راز،مركز كتابت كوټه
دخپرېدو كال: ۲۰۲۰ عيسوي
صفحات: (   )

کتاب الدعاوی

سوال: ......

دیوه سړي او ښځي واده سره سوي دي په نکاح صحیح سره وروسته بیا اختلاف سره جوړ سو اوس د ښځي مېړه دعوه د نکاح کوي د دغي دعوې طریقه کار به څه ډول وي؟

جواب:

......دا سړی به داسي وایي چي زه دعوه کوم پر دغه حاضره ښځه چي دا زما منکوحه ده او دا زما د پاره حلاله ده او ما په دې دخول کړیدی په نکاح صحیحه سره ادې ماته خپل ځان په نکاح راکړیدی په حضور د شاهدانو کي په عوض د مهر کي چي هغه معلوم دی.

"ادعی علی هذه الحاضرة أنها منكوحتي و حلالي و مدخول بها مني بنكاح صحيح زوجت نفسها مني الخ۔" ۔(موجبات الاحكام و واقعات الايام ص۱۱۰)

سوال: ......

که چیري دیو سړي د ښځي سره نکاح سوې وه یعني کوزده یې سوې وه واده یې نه وو سوی بیا یې اختلاف سره راغلی نو طریقه د دعوې به یې څه ډول وي؟

جواب:

...... نوره طريقه داغسي ده لكه چي په اول سوال كي چي ذكر سوله صرف دا يو لفظ به پكښې نه وايي چي مدخول بها ده.

"فان لم يكن الزوج دخل بها فلا يتعرض للدخول موجبات الاحكام" ـ(موجبات الاحكام ص۱۱۰)

سوال:......

كه چيري ديوه سړي او د ښځي نكاح سره سوې وه خو ليكن ښځه وكيل وركړيوه خپله يې عقد نه وو كړى بيا يې د دعوې طريقه څه رقم كيږي؟

جواب:

...... د دعوې طريقه نوره دغسي ده لكه چي په سوال اول كي چي ذكر سوله صرف د دغه عباراتو پر ځاى چي (زوجت نفسها منى) به داسي عبارت وليكي چي زوجها منى وكيلها فلان .(موجبات الاحكام ص۱۱۰).

سوال:......

كه چيري ديو سړي او د ښځي د نكاح عقد وسواو ښځه كوچنۍ وه پلار په نكاح وركړه او بيا اختلاف د مېړه او د ښځي سره جوړ سو، مېړه به دعوه په څه طريقه باندي كوي؟

جواب:

...... مېړه به يې داسي وايي چي دغه ښځه ماته د دې پلار په نكاح راكړه په حال د كوچني والي كي په ولايت د پلار والي چي كله يې پلار زه كفو وكڼلم د دې لپاره په معلوم مهر سره.

"و ان كان العقد جرى فى حال صغرها قال زوجها منى ابوها فلان فى حال صغرها بولاية الابوة حال نفاذ تصرفاته فى الوجوه كلها لما رأنى كفواً

لها علی صداق کذا الخ" ۔(موجبات الاحکام ص١١١)

سوال:......

کـه چيـري ديـو سړي او د ښځې نکا ح په کوچني والي سره سوې وه يعني دواړه کـوچنـي وو پـلـرو يـې نـکـا ح سره کړې وه او بيـا يې اختلاف سره راغلی او س به يې د دعوې طريقه څه ډول کيږي؟

جواب:

...... د دعـوې طـريقه يې دا ده چي مېړه به يې ووايي چي دغه ښځه د دې پـلار مـاتـه پـه نـکـا ح را کړې ده په کوچني والي چي د پلار نوم يې فلا ن دی په نـفـاذ د ټـولـو تـصرفاتو کي په حضور د شاهدانو کي او زما پلار د دغه ذکر سوې ښـځـه ځيـني قبوله کړه زما دپاره په مجلس د نکا ح کي په ولايت د پلار والي سره .

"و ان کان العقد جری بین أبويهما حال صغرهما قال زوجها منی أبوها فلان فی حال صغرها حال نفاذ تصرفاته فی الوجوه كلها بحضرة الشهود المرضيين تزويجاً صحيحاً و قَبِل والدی التزويج الموصوف حال صغری فی مجلس التزويج الخ" ۔(موجبات الاحکام ص١١١)

سوال:......

ديـو سړي سره ښځه ورسره ده بل سړي دعوه پر وکړه چي دغه ښځه زما ده مـا نـکـا ح ورسره کړې وه دغه ښځه زما څخه تللې ده د دعوې طريقه به يې څه رقم کيږي؟

جواب:

...... د دعـوې طـريقه يې دا ده چي دغه دعوه.کونکی سړی به داسي وايي چي

دغه حاضره ښځه زما ښځه ده ما ته په صحیح نکاح حلاله وه دا زما له حکم څخه نافرمانه سوې ده او دغه سړي له ما څخه منع کړې ده ناحقه منعه کړې ده او زه د دواړو څخه جواب غواړم .

”و ان کانت المرأة فی ید رجل تقر له بالنکاح قال ادعی علی هذه الحاضرة أنها امرأتی و حلالی بنکاح صحیح و أنها خرجت عن طاعتی والانقیاد لی فی احکام النکاح بغیر حق و أن هذا الحاضر یمنعها من ذلك بغیر حق الخ“ ۔(موجبات الاحکام ص١١١)

دعوه د پاره د اثبات د خلوت:

سوال :......

که ښځې پر یو سړي دعوه وکړه چي دغه سړي له ما سره نکاح وکړه او زه هم ورباندي راضي وم په دغه مقدار مهر باندي په حضور د شاهدانو کي، او ده بیا ما ته طلاق بائن راکړی او س د دعوې طریقه به په څه انداز باندي وي؟

جواب :

...... دغه ښځه به داسي وایي چي دغه حاضر سړي ما سره نکاح وکړله په صحیح نکاح سره او زه هم ورباندي راضي وم په معلوم مقدار د مهر باندي په حضور د شاهدانو کي او ده له ما سره خلوت وکړی په خلوت صحیحه سره او هیڅ مانع هم نه وو نو زه له ده څخه د مهر مطالبه کوم او جواب غواړم .

”ادعی علی هذا الحاضر أنه تزوجنی بتزویج فلان ولی برضائی او کما تقدم علی مهر کذا بشهادة عدول حضوره و انه خلا بی خلوة صحیحة لا ثالث

معنا و لا مانع شرعاً و طبعاً“ ۔(موجبات الاحکام ص۱۱۱)

د میت په ترکه کې د مهر دعوه:

سوال:......

یو سړی مړ سو یو زوی یې وارث پاته سو اوس ښځې دعوه پر وکړه چې دا مړی زما مېړه دی او له ما سره یې نکاح کړې وه په معلوم مهر او هغه مهر لږ رقم لا پاته وو چې دی مړ سو اوس زه له دغه زویه څخه زه خپل باقي مهر غواړم د دعوې صورت به یې څه ډول وي؟

جواب:

...... د دعوې صورت یې دا دی چې دغه ښځه به پر دغه حاضر زوی دعوه وکړي چې زما پر مېړه زما باقي مانده مهر سته او د مړي څخه صرف زه او دی پاته سولو نو زما باقي حق دی له دغه ترکې څخه راکړي .

”ادعی علی هذا الحاضر أننی کنت زوجة والده فلان بن فلان و حلالته بنکاح صحیح و أن لی علیه من بقیة الصداق الذی تزوجنی علیه کذا و کذا دیناراً الخ“ ۔(موجبات الاحکام ص۱۱۲)

دپاره د اثبات د مهر مثل دعوه:

سوال:......

یوې ښځې پر سړي دعوه وکړه چې دغه سړي له ما سره نکاح وکړله او مهر یې نه دی را معلوم کړی اوس دغه ښځه د خپل مهر دپاره به څه ډول دعوه کوي ؟

جواب:

...... دغه ښځه به داسي وایي چې زه پر دغه حاضر سړي دعوه لرم چې ده له

ما سره نکاح کړې ده زما په خوښه سره په حضور د عادلو شاهدانو کې او ده زما مهر نه دی معلوم کړی او زما مهر مثل پر ده واجب دی او زما مهر مثل دغوني دی .

" ادعى على هذا الحاضر أنه كان تزوجني برضائي بشهادة شهود عدول نكاحاً صحيحاً و لم يسم لي مهراً فواجب لي مهرمثل نسائي و أن مهر مثلي كذا و كذا دينار الخ" ۔(موجبات الاحكام ص١١٢)

دعوه دپاره د اثبات د مُتعَه

سوال :......

يوې ښځې پر سړي دعوه کوله چې دغه سړي له ما سره نکاح وکړه او بيا يې تر دخول دمخه طلاق راکړ د دعوې طريقه به يې څه وي ؟

جواب :

...... د دعوې طريقه يې دا ده چې دا ښځه به ووايي چې دغه حاضر سړي له ما سره نکاح وکړه نکاح صحيحه او زما دپاره يې مهر نه دی معلوم کړی او تر دخول دمخه يې ماته طلاق راکړ او زما متعه پر ده واجبه ده چې هغه قميص دی او پړونی دی او چادري ده .

" ادعى على هذا الحاضر أنه تزوجني تزويجاً صحيحاً و لم يسم لي مهراً ثم طلقني قبل الدخول بي و قد وجب لي عليه المتعة ثلاثة اثواب ردع و خمار و ملحفة الخ" ۔(موجبات الاحكام ص١١٣)

دعوه د حرمت غليظه :

سوال :......

که چيرې يوې ښځې پر سړي باندې دعوه وکړه چې دغه سړي ما ته درې

طلاقـه راكـړي دي او سـره لـه دې چي بيا مي هم لـه ځان څخه نه جلا كوي د دعوې طريقه پـه شريعت كي بيان كړئ ؟

جواب :

...... دا ښځـه بـه داسي ووايي چي زه ددغـه حاضر سړي پـه نكا ح كي وم او ده پـه ما دخول كړی دی پـه نكا ح صحيحه سره او زما پر ده باندي معلوم مهر دی او ده زه پر ځان حرامه كړم پـه درې طلاقـه سره .

”ادعـی علـی هـذا الـحاضر أنـی كـنت منكوحة ومدخولا بی منه بنكاح صحيح و ان لـی عليـه مـن الـصداق كـذا و كذا دينارا ديناً لازماً و حقاً واجباً بسبب هذا النكاح و أنه حرمنی علی نفسه الخ“ ۔(موجبات الاحكام ص۱۱۳)

دعوه پر مېړه چي دا عنين دی دپاره د تفريق:

سوال :......

يوې ښځي پر خپل مېړه دعوه وكړه چي زما مېړه عنين دی يعني ذكر لري خو د جماع قابل نه دی د دعوې طريقه يې بيان كړئ؟

جواب :

...... ښځه به داسي تعبير له خپلي مدعی څخه وكړي چي دغه حاضر سړی زمـا مېړه دی او زه د ده ښځـه يـمـه پـه نكا ح صحيحه سره او د ملاقات پـه وخت كـي دا سـړی عـنين وو د جماع كولو قابل نه وو او زه پېغلـه او باكره يم پـر خپـل حـال بـانـدي سـالـمـه يم او ما دغه دعوه و قاضي ته پېش كړه او قـاضي يو كال وخت وركړي او د هغه بعد كي هم دا سړي عنين دی اوس زه د خپلي دعوې جواب غواړم .

” ادعـی علی هذا الحاضر أنی زوجته و حلاله بنكاح صحيح و أنی وجدته

عنيناً لا يصل اليَّ و أني بكر على حالي و أني رفعت أمري إلى القاضي و أمهله القاضي سنة بعد ما ثبت عنده الأمر كما ادعيت بطريق ثبوته الخ "۔(موجبات الاحكام ص١١٤)

دعوه دپاره د ثبوت د نسب د اولاد:

سوال:.......

يوې ښځې پر خپل مېړه دعوه وكړه چې دغه زوى زما له دغه مېړه څخه دى د ثبوت د نسب دپاره، ددعوې طريقه څه ډول جوړيږي؟

جواب:

...... ښځه به په دعوه كې داسې الفاظ ووايي چې زه پر دغه حاضر سړي دعوه كوم چې د دغه هلك چې زما په غېږ كې دى او اشاره به ورته وكړي ددغه حاضر سړي زوى دى او دغه هلك د ده څخه د نكاح په حالت كې زما څخه پيدا سوى دى .

"ادعى على هذا الحاضر أن هذا الصبي الذي في حجري و تشير اليه ابن هذا الحاضر ولدته على فراشه حال قيام النكاح بيننا فواجب على هذا الحاضر ادراء النفقة عليه والكسوة و أطالبه بذلك و أسأل مسألته" ۔(موجبات الاحكام ص١١٤)

دعوه دپاره د رق (يعني د مريتوب)

سوال:.......

يو سړي پر بل سړي دعوه وكړه چې دغه سړى زما مريي دى او يا يو سړي پر يو ښځه دعوه وكړه چې دغه ښځه زما مينځه ده، د دعوې طريقه يې پر څه ډول جوړيږي ؟

جواب:
......سړی به داسي ووايي چي دغه حاضره ښځه زما مینځه ده او پر دې واجب دي چي زما د امر تابعداري وکړي او هم دا راز به د نر په باره کي ووايي چي دغه سړی زما مريیی دی او زما د امر تابعداري پر ده واجب ده .
"ادعى على هذا الحاضر أنه مملوكى أو ان هذه الحاضرة جاريتى و مملوكتى و أنه او أنها تمتنع عن طاعتى فواجب عليه طاعتى والمقام معنى" ـ(موجبات الاحكام ص١١٤)

دعوه دپاره د اثبات د عتق (یعني آزادېدل):

سوال: ......
یو سړي پر بل سړي باندي دعوه وکړه چي زه د ده غلام وم بیا یې آزاد کړم دغه د آزادېدلو د دعوې طریقه به پر څه ډول وي ؟
جواب:
......دغه آزاد سوی غلام به په دعوه کي داسي لفظونه وایي چي زه پر دغه حاضر سړي دعوه لرم چي زه د ده مريیی وم او بیا ده زه آزاد کړم خاص دپاره د الله او اوس زه آزاد یم او سره د آزادېدلو دغه سړی ما مريیی بولي او د مريیي کار را څخه اخلي .
"ادعى على هذا الحاضر أنى كنت مملوكه و أنه اعتقنى عتقاً باتاً جائزاً لوجه الله و أنى الآن حر بهذا السبب و ان هذا الحاضر يستعبدنى و يسترقنى بغير حق فواجب عليه قصر يديه عنى و أسأل مسألته " ـ(موجبات الاحكام ص١١٥)
سوال: ......

يو سړي پر بل سړي دعوه وكړه چي زه په اصل كي حر وم دغه سړى زما څخه د غلام كار اخلي، دعوه يې څه ډول وي؟

جواب:

......دا سړى چي حر الأصل دى داسي به ووايي چي زه دعوه لرم پر دغه حاضر سړي باندي چي زه حر الأصل يم او زما مور او پلار حر او آزاد خلك دي نه زما پر مور او پلار او نه پر ما مرييتوب راغلى دى هيڅ كله .

"ادعى على هذا الحاضر أني حر الأصل حر الابوين لم يجر عليهما و لا عليَّ رق قط و أن هذا الحاضر يستعبدني و يسترقني بغير حق فواجب قصر يده عني " ـ(موجبات الاحكام ص١١٥)

دعوه دپاره د اثبات د قسم:

سوال:......

يو سړي قسم اخيستى وو چي هره ښځه كه ما په نكاح كړه هغه به پر ما طلاقه وي بيا يې د يوې ښځي سره نكاح وكړه اوس يې د دعوې څه طريقه ده؟

جواب:

......د دعوې طريقه يې دا ده چي دا ښځه به ووايي چي زه دعوه لرم پر دغه حاضر سړي چي ده قسم اخيستى وو د نكاح كولو د هري ښځي څخه نو د قسم بعد كي يې له ما سره نكاح وكړه او زه پر ده طلاقه يمه او پر حرامه يمه او سره د قسمه واقع كېدو داسړى ما نه ايله كوي .

"ادعى على هذا الحاضر أنه قد كان حلف بطلاق كل امرأة يتزوجها ثم تزوجني بعد هذه اليمين ووقع الطلاق فصرتُ محرمة عليه بهذا السبب و أنه

یمسکنی حراماً و لا یقصر یده عنی الخ“ ۔(موجبات الاحکام ص۱۱٦)

دعوه دپاره د اثبات د حد قذف:

سوال:......

یو سړي پر بل سړي د زنا تهمت ولګوی د دعوې طریقه به یې پر څه رقم کیږي؟

جواب:

......د دعوې طریقه یې دا ده چې دا سړی چې تهمت پر لګېدلی دی په خپله دعوه کې به ووایي چې زه پر دغه حاضر سړي دعوه لرم چې ده پر ما د زنا تهمت لګولی دی او صریح یې و ماته وویل چې اې زانی نو پر ده واجب سو حد قذف چې اتیا (۸۰) دُرې دي .

”ادعی علی هذا الحاضر أنه قذفنی بالزناء فقال لی صریحاً یا زانی و وجب علیه حد القذف ثمانون جلدةً الخ“ ۔(موجبات الاحکام ص۱۱٦)

دعوه دپاره د اثبات د تعزیر:

سوال:......

یو سړی پر بل سړي دعوه کوي چې دغه سړي و ما ته ښکنځل وکړل د دعوې ثابتولو به یې څه طریقه وي؟

جواب:...... دغه دعوې والا سړی به داسي دعوه وکړي چې زه پر دغه حاضر سړي دعوه لرم چې ده و ما ته ښکنځل کړي دي داسي ښکنځل چې هغه ښکنځل تعزیر واجبه وي او د هغو ښکنځلو تعین به وکړي او طلب د جواب به وکړي .

”ادعی علی هذا الحاضر أنه شتمنی شتمة توجب التعزیر فقال لی کذا و

یعین الشتمة و وجب علیه التعزیر فی الشرع زجراً له عن مثله و اطالبه بالجواب عن ذلك“ ۔(موجبات الاحکام ص١١٦)

دعوه دپاره د اثبات د ملکیت د ځمکي:

سوال: ......

یو سړی پر بل سړي دعوه د ځمکي وکړي چي دغه ځمکه زما ده او س دی پر قابض دی د دعوې طریقه به یې څه ډول کیږي چي دی دعوه دائروي ؟

جواب: ......د دغي دعوې د دائرولو دپاره داسي طریقه پکار ده چي دا سړی به داسي وایي چي زه دعوه لرم پر دغه حاضر سړي باندي چي ټوله ځمکه چي په فلان علاقه کي ده او د هغې علاقي په فلان طرف کي ده چي د هغه طرف نه فلان دی او او به یې د فلان نهر څخه دي او دومره مقدار ده او ټول حدود به یې معلوم یاد کړي او حقوق به یې ټول یادوي او بیا به ووایي چي واجب دی پر دغه حاضر لاس اخیستل زما د ملکي څخه .

”ادعی علی هذا الحاضر أن جمیع الارض التی موضعها فی قریة کذا ، فی ناحیة گذا منها ۔ تدعی بکذا ۔ و شربها من نهر کذا۔ من عمل کذا ۔ من قری المدینة کذا ۔ المحدودة بحدود کذا۔ بحدودها کلها ۔ و حقوقها و مرافقها ، ملکی و حقی ۔ و هی فی ید الحاضر بغیر حق فواجب علی هذا الحاضر قصر یده عنه“ ۔(موجبات الاحکام ص١١٨)

فائده: . د ځمکو مسئله ډېره پېښیږي باید مفتیان او علماء کرام دغه مسئله په غور سره ځیني واوري او بیا فتویٰ ورکړي .

دعوه دپاره د اثبات د پور:

سوال: ......

یو سړی پر بل سړي دعوه کوي چي زما پر تا باندي پیسې روپۍ پور دي نو د دعوې طریقه یې څه ډول جوړیږي؟

جواب:

...... دا سړی به داسي دعوه وکړي چي زما پر دغه حاضر سړي باندي دغونـدي روپۍ دیارونه او یا درهمونه پور دي او د دینار یا درهم صفت او وزن به هم ذکر کړي نو پر ده واجبه ده چي دا پور را ادا کړي زه مطالبه لرم .

"ادعی علی هذا الحاضر أن لی علیه و فیذمته کذا و کذا دیناراً او درهماً و یذکر الصفة والوزن ثم یقول دیناً لازمة و حقاً واجباً فواجب علیه انقاذه و اطالبه بالجواب" ۔(موجبات الاحکام ص۱۱۹)

د دعوې دپاره اثبات وکالت:

سوال: ......

یو سړی پر بل سړي د کفالت دعوه کوي چي دغه سړي زما د پوروړي ذمه وار وو د دعوې طریقه به یې پر څه طرز او طریقه وي؟

جواب:

......د دعوې طریقه یې دا ده چي دغه دعوه کونکی به ووایي چي دغه سړی زما د پوروړي ذمه وار جوړ سو تر معلومه وخته پوري وېل که چیري ستا پوروړی پر هغه وخت پور نه کړي وصول زه یې ذمه وار یم او روپۍ به زه و تا ته درکوم نو اوس هغه وخت تېر سو زه له ده څخه د هغه مال ادا کول غواړم .

"ادعی علی هذا الحاضر أنه کفیل لی بنفس فلان بن فلان وکلنی انه متی لم یسلمه إلی یوم کذا فهو کفیل بالمال الذی لی علیه و هو الف درهم

قرض او دین بسبب کذا الخ" ۔(موجبات الاحکام ص ۱۲۰)

دعوه دپاره د اثبات د کفالت :

سوال : ......

یو سړی دعوه کوي چي زه د فلان سړي وکیل یم د وکالت د اثبات لپاره، د دعوې طریقه څه ده؟

جواب :

......د اثبات د وکالت لپاره د دعوې طریقه دا ده چي وکیل به داسي وایي چي زه د فلان بن فلان سړي وکیل یم په ټولو دعوو او جګړو کي او زه وکیل یم په تمامو دلائلو کي د هغه د طرفه او زه د ده وکیل یم په خلاصولو د قضیو کي او زه وکیل یم د ده د تمامو روپو د قبلولو او د شاهدانو د ثابتولو .

"ادعی علی هذا الحاضر انی وکیل من قبل فلان بن فلان وکلنی بالدعاوی والخصومات و اقامت الحج والبینات و تنجیز القضایا و السجلات والبیاعات والاشریة و قبض الاثمان و الحقوق الخ" ۔(موجبات الاحکام ص۱۲۰)

دعوه دپاره د اثبات د امانت یا عارية:

سوال : ......

یو سړی پر بل سړي دعوه کوي چي دغه سړی زما امانت عارية یعني په خواست یې یو شی وړی وو او اوس یې هلاک کړی دی د دعوې طریقه به یې څنګه وي؟

جواب :

...... د دعوې طریقه یې دا ده چې دعوې والا به ووایي چې زه دعوه کوم پر دغه حاضر سړي باندې چې ما و ده ته امانت یښې وو یو شی د هغه شي نوم او مقدار به ذکر کړي او یا ما و ده ته یو شی اعارةً ورکړي وو او دٔ قبض کړي وو پر طریقه د امانت او یا پر طریقه د عاریة نو پر ده واجب دی چې زما او د خپل امانت په مابین کي یو ځای والی او تخلیه راولي او پر ده واجب دي چې زما عاریه و ما ته رد کړي .

"ادعی علی هذا الحاضر انی اودعت عنده کذا او تقول انی اعرته کذا و أنه قبضه علی سبیل الودیعة او تقول علی سبیل العاریة فواجب علیه التخلیة بینی و بین الودیعة وفی العاریة تقول فواجب علیه ردها اِلیَّ الخ" ۔(موجبات الاحکام ص۱۲۲)

دعوه دپاره د رجوع کولو په هبه کي:

سوال :......

که چیری یو سړي د خپلي هبې د رجوع دعوه کوي طریقهٔ کار به یې پر څه ډول باندي وي ؟

جواب :......

دا سړی به په خپله دعوه کي داسي الفاظ ذکر کړي چې زه دعوه لرم پر دغه حاضر سړي باندي چې ما و ده ته یو شی هبه کړی وو ده هغه شي نوم او مقدار به معلوم کړي په هبه یې صحیحه سره او هغه هبه جلا او تقسیم سوې هبه ده او ده له ما څخه قبض کړې هم وه په قبض صحیح سره او زه اوس بیرته په خپله هبه کي رجوع کوم او دی له ما څخه هغه هبه سوی شی منعه کوي .

"ادعی علی هذا الحاضر انی کنت وهبت له کذا هبة صحیحة مفرزة محوزة مقسومة و أنه قبض ذلك منی فی مجلس العقد قبضاً صحیحاً و أنی الآن رجعت فی هبتی الخ " ۔(موجبات الاحکام ص۱۲۲)

دعوه دپاره د فسخې کولو د اجارې:

سوال:......

یو سړي یو چا ته سرای دیوه کال په کرایه ورکړی بیا یو عذر ور پېښ سو نو د اجارې د فسخه کولو طریقه به یې پر څه ډول باندي کیږي ؟

جواب:

......دغه د سرای مالک به په خپله دعوه کي داسي ووایي چي زه دعوه کوم پر دغه حاضر سړي باندي چي ده له ما څخه دغه سرای دیوه کال دپاره په دغوندي مقدار پیسو په کرایه واخیستی سره د دغو شرائطو، وروسته پر ما باندي یو داسي پور باندي سو چي د هغه پور په عوض کي زه بندي هم سوم او زما دغه پور په بل شي نه ادا کیږي بغیر له دغه سرای د خرڅولو نو زه مطالبه لرم چي دغه اجاره دي فسخه سي دپاره د دې عذر .

"ادعی علی هذا الحاضر أنه استاجر منی داراً و یحددها مدة کذا بکذا درهم و أنه استأجر ها منی بهذا الشرائط و تقابضا و انه لحقنی دین قادح بینة قامت علی بمجلس القضاء و حبست به وأنه لا وفاء لهذا الدین الا من ثمن هذه الدار التی اجرتها منه الخ" ۔(موجبات الاحکام ص۱۲۳)

دعوه دپاره د اثبات د مفلس والي:

سوال:......

چي پر یو سړي باندي د بل پور باندي وي او دی خپل مفلسوالی ثابتوي د

اثبـات د دعـوې بـه يـې څـنـګـه طريقه وي تاسي يې بيان کړئ الله (ج) دي ثواب درکړي؟

جواب:

......د اثبـات د مفلسوالي دپاره د دعوې الفاظ داسي دي چي مفلس به ووايي چي زه پر دغه حاضر سړي دعوه لرم چي ده له ما څخه مطالبه د پور کړې ده او دعـوه د لزوم د ورکولو د پور يې کړې ده چي خامخا به زما پور را ادا کوي او د بـنـدي کـولـو دعـوه يې را باندي کړې ده نو زه پر ده دعوه کوم لرم په دفع کـولـو د دعـوې کـي چـي دی پـه دغـه دعـوه پر باطله باندي دی ولي چي زه فـقـيـر يـم او د يوې ورځي معاش نه لرم او نه کپړې لرم او دی په دې هم خبر دی نو پر ده واجب ده چي دی دي د دغي دعوې څخه ځان منعه کړي.

"ادعـی عـلـی هـذا الحاضر فی دفع دعواه قبلی بوجه المطالبة عليَّ بكذا ولزومـی الخروج عنه إليه و استدامة الحبس عليَّ فادعى عليه فی دفع دعواه هـذه أنـه مبطل فی هذه الدعوی لأنی فقير معدم لا أملك قوت يوم و لا ثياب و هو فی علم من ذلك الخ" ۔(موجبات الاحكام ص١٢٤)

دعوه دپاره د اثبات د غصب:

سوال:......

يـو سـړي پـر بـل سړي دعوه وکړه چي دغه سړی له ما څخه يو شی په زوره وړی دی د دعوې طريقه چي يې بيان سي ډېر ثواب به مو وي؟

جواب:

...... طـريقه د دعوې يې په دا ډول ده چي مغصوب عنه به داسي ووايي چي زه دعـوه لرم پر دغه حاضر سړي چي ده له ما څخه دا شی په زوره يوړی چي د

هغـه شي پيمـانـه وزن او صـفـت به بيان کړي که چيرې هغه شي هلاک سوى وو د هغه قيمت به بيان کړي نو پر دا غاصب واجب دى چي دا شي يا قيمت و ما ته د ده وي .

"ادعى عـلـى هـذا الـحاضر أنهٗ غصب منى كذا يبين كيله و وزنه و صفته او صيغته ان لم يكـن مكيلا و لا موزونا و قيمته ان كان هالكاً قهراً او قسراً و غلبةً فواجب عليه رد عينه ان كان قائماً الخ" ـ(موجبات الاحكام ص۱۲۵)

دعوه دپاره د اثبات د شفعي:

سوال:......

يـو سړى پر بل سړي د شفعي دعوه کوي چي دغه سړي زما د سراى بغل ته سراى اخيستى دى او يا يې زما د باغ پـر بغل باغ اخيستى دى د دعوې طريقه به يې پر څه رقم وي ؟

جواب:

......دا سړى بـه داسـي ووايـي پـه خپلـه دعوه کي چي زه دعوه لرم پر دغـه حاضر سړي چي ده سراى يا باغ اخيستى دى زما د همسايه څخه چي هغه فلان بن فلان نوميږي په فلاني ځاى کي دى څلور سره حدود به يې بيان کړي پـه دغـونـدي پيسـو بـانـدي او زه د ده شـفـيـع يم دا شفعه مي د سراى د همسايتـوب لـه وجهـي ده او زمـا د سراى حدود دغوندي دي او چي زه خبر سوم دستي مي د شفعي مطالبه وکړه .

"ادعى عـلـى هـذا الـحـاضر أنـه اشترى من فلان بن فلان جميع الدار او الـكـرم الـذى هـو مـلـك فلان بموضع كذا و يحده بحدوده الاربعة بحدوده و حقوقه بـكـذا درهـمـاً و أنـه باعها منه بهذا الثمن و تقابضا و انى شفيعها شفعة

جوار الدار الخ“ ۔(موجبات الاحکام و واقعات الایام ص۱۲۵)

دعوه دپاره د اثبات د مزارعة يعني کښت کول:

سوال:......

يو سړي پر بل سړي د مځکي دعوه کوي چي دُ دغه ځمکه و ما ته را کړې وه د فصل د کرلو دپاره د دعوې صورت به يې څه ډول جوړيږي ؟

جواب:

...... ددې دعوې طريقه يې دا ده چي دعوې والا به داسي ووايي چي زه پر دغه حاضر سړي دعوه کوم چي ما د ده څخه ټوله هغه ځمکه چي په فلانی علاقه کي ده اجاره کړې ده د دريو کالو دپاره چي زه به فصل پر کرم او ما دغه وعده ورسره کړې ده چي کوم فصل را شين سو هغه به زموږ سره نيمى وي نو زه د ده محترم څخه مطالبه لرم چي دا ځمکه دي را ايله کړي .

” ادعى على هذا الحاضر انى أُجرت منه جميع الارض التى بقرية كذا من عمل كذا بحدود ها مزارعة ثلاثة سنين على أن أزرعها ببذرى و بقرى و اعوانى ما بدأ لى من الزراع من غلة الشتاء و الصيف الخ“ ۔(موجبات الاحكام ص۱۲٦)

دعوه دپاره د اثبات د ګروي:

سوال:......

يو سړی پر بل سړي د ګروي دعوه کوي چي زما يو شی د ده سره د مال په عوض کي ګرو دې طريقه د دعوې به يې پر څه ډول کيږي؟

جواب:

...... طريقه د دعوې داسي کيږي چي زه پر دغه سړي دعوه لرم چي ما ورته

یو شی په ګروي کي ایښی دی د هغه شي صفت به بیان کړي او وزن او پیمانه به یې بیان کړي او بیا به ووایي چي د دغه ګرو د دغوندي پیسو په عوض کي د ما څخه ګرو کړې او اوس ما هغه پیسې ورکړي نو دی دي هم زما شی و ما ته رد کړي .

"ادعی غلی هذا الحاضر أنی رهنت عنده کذا و یبین صفته و قدره او وزنه او کیله و صفته بکذا و کذا دیناراً دهناً صحیحا مفرراً مقسوماً و أيء ارتهنه منی بهذا المال الخ" ـ(موجبات الاحکام و واقعات الایام ص۱۲۷)

دعوه دپاره د قود اخیستلو یعني قصاص اخیستل:

سوال:......

یو سړي پر یو چا باندي دعوه وکړه چي ده زما پلار وژلی دی د دغي دعوې د کولو طریقه به پر څه ډول وي؟

جواب:

...... دا قصاص اخیستونکی سړی به داسي ووایي چي زه پر دغه حاضر سړي دعوه لرم چي ده زما پلار قتل کړی دی په قصد سره بغیر حق او ده زما پلار زخمي کی او زما پلار په هغه ساعت کي مړ سو او یا صاحب الفراش سو او وروسته د دغه زخم څخه مړ سو او د دې مړي د وارثانو څخه بل څوک نه دی پاته سوی بغیر د ما څخه او زه مطالبه د خپل قصاص اخیستلو کوم .

" ادعی علی هذا الحاضر أنه قتل أبی فلاناً عمداً بغیر حق بالمحدد و جأه به و جرحه و هلك من ذلك الضر ساعتئذٍ او لم یزل صاحب فراش من ذلك حتی هلك و أي هذا المقتول لم یترك من الورثة سوای و أن لی حق استیفاء

القصاص في الشرع۔' ۔(موجبات الاحكام و واقعات الايام ص۱۲۷)

دعوه دپاره د ثبوت د ديت:

سوال:......

يـو سړى پر بل سړي دعوه كوي چې زما پر دغه سړي د ديت حق جوړيږي نو د دعوې طريقه به يې پر څه رقم كيږي؟

جواب:

...... دا مـدعـي د ديـت بـه پـه خـپله دعـوه كي داسي ووايي چې زه دعوه لرم پر دغـه حـاضـر سـړي باندي چې ده زما پلار قتل كړى دى په قتل خطا سره په داسـي طـرقـه چې دغه سړي په يو تېره غشي سره چې د اوسپني څخه جوړ وو واريې وكړى پر ښكـار بـانـدي او هـغـه غـسـيى خطا سو زما پر پلار ولګېدى زما پلار زخمي سو او بيا دستي مړ سو.

" ادعى على هذا الحاضر أنه قتل أبي خطاءً فانه كان رمى بسهم ذى نصلٍ من الـحديد إلى صيدٍ قد رأه فأصاب ذلك السهم أبي فجرحه فمات من ذلك ساعتئذٍ الخ" ۔(موجبات الاحكام ص۱۲۷)

دعوه دپاره د اثبات د وصيت په دريمه حصه:

سوال:......

يـو سړي پر بل سړي دعوه وكړه چې د دغه سړي پلار و ما ته وصيت كړى دى د دريمي حصې د مال د دعوې بيان به يې پر څه طريقه باندي وي؟؟

جواب:

...... د دعـوې طـريـقـه يـې دا ده چـې زه پـر دغه حاضر سړي دعوه لرم چې د ده پـلار چې فلان بن فـلان دى هغه و ده ته وصيت وكړى زما په حق كي چې

زمـا د ټـول مـال دریـمـه حصه به بیا و ده ته ور کوي دا وصیت یې په صحت کـي او ښـه پـه هـوش کـي وو چـي و کړی او ما دغـه وصیت لـه ده څخه قبول کـړی یـعـنـي لـه مـرګـه وروسـتـه پـه قـبـلـیـدلو صـحـیـحو سره او اوس د دغه حـاضـر پـه لاس کـي د موصـی دغـونـدي مال دی نو پر ده واجب دی چي د دې مال دریمه حصه و ماته را تسلیم کړي او زه دغه سوال لرم .

”ادعـی علی هذا الحاضر ان والده فلان بن فلان اوصی إلی هذا الحاضر و أن فـلان بـن فـلان الـمـوصـی اوصی لی بثلث جمیع ماله وصیة صحیحة فی حیاتـه و صـحـتـه و ثبات عقله و قبلت ذلك منه بعد موته قبولاً صحیحاً و فی ید هـذا الحاضر کذا و کذا فواجب علیه تسلیم ثلث ذالك إلیَّ الخ “ ۔(موجبات الاحـکام وواقعات الایام ص۱۲۸) للشیخ قاسم بن قطلوبغا الحنفی ، المتوفی سنه ۸۷۹ھ۔

. . . .

سوال:......

کـه زیـد دعـوه د مـحـدود شـي و کـړه او مـعـلوم یې نه کړی چي انګور دي او مـځـکـه ده او شـاهـدان هـم دغـه رقـم شاهدي پر اداء کړي معلوم یې نه کړي اوس ددې څه حکم دئ؟

جواب:

...... دا دعوه نه صحیح کیږي .

”لـو ادعـی مـحـدودا و لم یبین انه کرم او رض و الشهود شهدوا کذلك عن شـمـس الائمة السرخسیؒ انه لا یصح و قال شمس المرغینانیؒ ان بین البلد و المحلة صح “(سراجیه کتاب الدعوی ص ۴۸۴)

سوال:......

كه زيد په ځين كي ناست وي عمرو يې شاته ناست وي او س دوى دواړه دعوه سره وكړي زيد ووايي دا زما دئ عمرو ووايي زما دئ اوس دا موټر سائيكل د چا كيږي د دې څه حكم دئ؟

جواب:

...... دا موټر سائيكل د زيد كيږي .

"ولو كان أحدهما فى سرج الآخر رديفا فادعياها فهى لصاحب السرج"(فتوى السراجية كتاب الدعوى ص ٤٨٥)۔

سوال:......

:كه زيد او عمرو دعوه د ملک مبهم سره وكړي او شاهدان هم سره ودروي او مدعىٰ د دريم سړي په لاس كي وي زيد او عمرو دواړو تاريخ نه وي ليكلى يا دواړو ليكلى وي يا يوه ليكلى وي هغه بل نه وي ليكلى اوس دا ملک د زيد دى كه د عمرو او كه تاريخ دواړو ليكلى، ديوه دا مخته وي تر هغه بل، دلته ملک د چا بلل كيږي؟

جواب:

...... په اول صورت كي د دواړو سره نيمايى دى او په دا دويم صورت كي د هغه چا بلل كيږي چه د چا تاريخ مخته وي .

"اثنان ادعيا ملكاً مبهما و اقاما البينة والمدعى فى يد ثالث و لم يورخا او ارخا تاريخا او ارخ أحدهما دون الآخر فهو بينهما ، و ان ارخا و تاريخ أحدهما اسبق يقضى لاسبقهما۔"(فتوى السراجية كتاب الدعوى ص ٤٨٥)

سوال:......

د ښـځـو شـاهـدي د نـرو سـره پـه حدود كي او پـه قصاص كي جائز ده كه نه، ددې څه حكم دئ؟

جواب:

هو كـه د ښـځـو شـاهـدي پـه حدودو او پـه قصاص كي د نرو سره صحيح ده.

"و تجـوز شهادة النساء مع الرجال في جميع الاحكام في الحدود و القصاص في قول أبي حنيفة و صاحبيه" (النتف في الفتوى كتاب الدعوى ص ٤٨٣)

سوال:......

كـه زيد دعوه وكړي په عمرو باندي د سرای چي هغه سرای د عمرو پـه لاس كي وي او شـاهـدان هـم پر ودروي چي دا سرای د زيد دی اوس دا سرای د چا بلل كيږي او ددې څه حكم دئ؟

جواب:

......دا سرای د زيد دئ.

"وإذا ادعى رجل على رجل بدار في يده او متاع او شيئ من الحيوان و المكيل او الموزون او غير ذلك و اقام البينة انه له فانه يقضى له بذلك" (النتف في الفتوى كتاب الدعوى ص: ٤٨٤)۔

سوال:......

كـه زيد دابـه خـلاصـه كـړي د مـوږي څـخه يا دروازه د قفس خلاصه كړي مرغـه والـوزي يـا مريـبى خلاص كړي د قيد څخه هغه مريـبى وتبنتي يا د سـرای دروازه خـلاصـه كـړي د هـغـه سـرای څـخه غلا وسي او نور دغه رقم

شیان په دا کارو کې پر زید ضمان سته که نه، د دې څه حکم دئ؟
جواب:
......په دې ټولو کې پر زید ضمان نسته په نزد د امام صاحب او د یارانو .
"ولو ان رجلا حلّ دابة من و ثاقها او فتح قفصا فطار منه طيرا و حلّ عبدا من قيده فهرب او فتح باب دار فسرق متاعها و نحو ذلك فانه لا ضمان فى ذلك كله ، على الذى فعل فى قول أبى حنيفة و صاحبيه و الشافعى" (النتف فى الفتوى كتاب الدعوى ص: ٤٨٦)۔
سوال:......
که یو سړی عاجزه وي د دعوې د یاد ویلو نه وي اوس چې دا سړی پر ورقه باندې دعوه ولیکې د دا سړي دعوه اورېدل کیږي که نه، ددې څه حکم دئ؟
جواب:
...... وو که د دې سړي دعوی اورېدل کیږي .
"ولو كان المدعى عاجزا عن الدعوى عن ظهر القلب يكتب دعواه فى صحيفة و يدعىٰ منها فتسمع دعواه" (بحر الرائق ج ۷ كتاب الدعوى ص ۳۲۷)

سوال:......
که مدعی وکیل و دروي خپل پر ځای چې دعوه ورته وکړي او په مدعی پوري عذر هم نه وي او مدعی علیه د مدعی ویل هم نه مني مدعی علیه وایي چې مدعی به پخپله دعوه کوي اوس دلته د مدعی د وکیل دعوه صحیح کیږي که نه، د دې څه حکم دئ؟
جواب:

......د مدعی وکیل نه صحیح کیږي تر هغه وخته پوري چي د مدعی علیه نه وي خوښه .

"ومنها کونها بلسان المدعی فلا تصح بلسان وکیله الا برضا خصمه عند الامام إذا لم یکن به عذر" ـ(بحر الرائق کتاب الدعوی ص ۳۲۷) ـ

سوال:......

که زید و عمرو ته ښکنځل وکړي اوس به عمرو و زید ته ښکنځل کوي او که به یې نه کوي ، د دې څه حکم دئ؟

جواب:

......چي زید څومره ښکنځل ورته کړي دي عمرو دي هم هغومره اندازه ښکنځل ورته وکړي او که یې معاف کړي داخو ډېره بهتره ده .

"و اما إذا شتمه فله ان یقول له مثله و الاولیٰ ترکه" ـ(بحر الرائق کتاب الدعوی ج۷ ص ۳۲۸) ـ

سوال:......

که یو سړی دعوه وکړي پر بل سړي چي دغه سرای چي ستا په لاس کي دئ دا ما اجاره کړی دی د فلان څخه په فلانکي تاریخ کي مخته تر دې چي تا اجاره کړی دی د فلانکي څخه، آیا دريږي دا مستاجره خصم په حق د اثبات د اجارې کي، پر ده باندي دپاره ددې چي واورېدل سي دا دعوه پر ده باندي، د دې څه حکم دئ؟

جواب:......

دا دعوه پر دوه قسمه ده اول صورت: که یې چیري دعوه وکړه پر ده باندي فعلاً و یې ویله چي ما اجاره کړی دی دا سرای د پلانکي څخه او ما قبض

کړی دی د ده شخـه او تـا اخیستـی دی بېله حقه او غـصب کړی دي دئ زما شـخه بیا یې دعـوه اورېدل کیږي . دویم صورت یې که یې چیري وویله ما اجـاره کـړی دی د پـلانـکـي شـخـه مختـه تر دې چي تا اجاره کړی د پلانکي شخه او ده تسلیم کړی دی و تا ته و ما ته یې نه دی تسـلیم کړی .

"رجـل ادعـی علی آخر انی استاجرت هذه الدار التی فی یدك من فلان بتـاريـخ كـذا قبل ان تستاجر هذه الدار انـت مـنـه هـل ینتصب هذا المستاجر خـصـمـا فـی حـق اثبات الاجارة علیه حتی تسمع هذه الدعوی علیه فهذا علی الـوجهین ان ادعی علیه فعل و قال انا استاجرت هذه الدار من فلان و قبضته و انـت اخذت بغیر حق و غصبت منی تسمع دعواه و ینتصب خصما و اما إذا قال انـا استـاجـرت من فلان قبل ان تستاجر انت منه و قد سلم إليك لا إلی لا تسمع لأن الـمستاجر لا ینتصب خصما لا فی اثبات الملك المطلق و لا فی ولاية اثبات الاجـارة عـلیـه الا إذا ادعـی الفعل" (فتاوی ولوجیة ، کتـاب الدعوی ج ٤ ص ١٦٤)۔

سوال:......

که دوه نفره دعـوه وکړي پر دابه باندي یو ووایي زما ده دا دابه او دا بل ووایي دا دابه زما ده او دواړه په ځین کي ناست وي، د دې څه حکم دئ؟

جواب:

......دوی دواړه ته فیصله په نصف سره کیږي:

"رجلان ادعیا دابة کل وأحد منهما انها ملکه و هما راکبان علیها فی سرج وأحد قضی بها لهما لأنهما استویا فی الید"(الفتوی الولوالجیة کتاب الدعوی ج ٤ ص ١٦٧)

سوال:......

کـه یـو سړی چرګـه غـصب کړي او چرګه دوې هګۍ وکړي بیا دا سړی پر یـوه هګۍ چرګه کښېنوي او هغه بله هګۍ دا سړي په خپله وشربله او د دا هګیو څخه چیچان را ووتله، د دې څه حکم دئ؟

جواب:

......هغـه چـرګي چي ایسـتلی ده چرګه او هغه چیچی د مغصوب منه دي او هـغـه بـل چیـچی د غاصب دی او پر غاصب باندي مغصوب منه لره هګۍ ستـه .

"ولـو غـصـب دجـاجـة فبـاضت بیضتین فحصنت الدجاجة علی أحدهما و حضن الغاصب الاخریٰ فخرج منها فرخ کانت الدجاجة والفرخ الذی حضنته الـدجـاجة الـمـغـصـوب مـنــه و الـفـرخ الذی حضنـه الغاصب لـه و علیـه بیضـه "(ولولوالیجه کتاب الدعوی ج٤ص١٧٦) ۔

سوال:......

کـه یو سړی د لسو قفیزو غنمو د پور دعوه په یو چا وکړي او سبب یې ذکر نه کړي د دې سړي دعوه اوریدل کیږي که نه، د دې څه حکم دئ؟

جواب:

...... ددې سړي دعوه نسی اوریدل کېدی .

"و إذا ادعـی عـلیـه عشـرة اقـفـزة حـنـطة دینا علیه و لم یذکر بای سبب ، لاتسمع و لا بـد مـن بیـان السبب لأنهـا إذا کانت بسبب السلم فانما یکون له حـق الـمـطـالبة فی الموضوع الذی عیناه" ۔(بحر الرائق کتاب الدعوی ج۷: ص ٣٤٤)

سوال:......
که شاهدانو شاهدي ادا کړه په سرای سره او په بناء د سرای سره بیا وروسته مقضی له اقرار وکړي په بناء سره مقضی علیه لره اوس دلته د شاهدانو شاهدي ردیږي که نه، د دې څه حکم دئ؟

جواب:
......هو! د شاهدانو شاهدي باطلیږي او سرای په مقضی علیه باندي ردیږي.

"ولو کان الشهود شهدوا بالدار ببنائها ثم اقر المقضی له بالبناء للمقضی علیه بطلت الشهادة وردت الدار علی المقضی علیه"۔(خلاصة الفتوی، کتاب الدعوی ج٤ص٨٨)

سوال:......
که خلیفه مړ سي د لره امیران وي او عاملان وي اوس به دا سره بدلوي که نه، د دې څه حکم دئ؟

جواب:
......دا ټول به خپل پر ځای وي.

"مات الخلیفة وله امراء وعمال فالکل علی ولایته" (الاشباه والنظائر، کتاب الدعوی ص١٩٨)۔

سوال:......
که مدعی شاهدان ودروي پر ځمکه باندي چي په هغه ځمکه کي درختي وي او دوی په درختو بحث سره و نکړي وروته ذوالید شاهدان ودروي پر کرلو د درختو باندي اوس شاهدي د مدعی د شاهدانو په حق د ځمکي کي

باطليږي كه نه، د دې څه حكم دئ؟

جواب:

......يا د مدعي د شاهدانو شاهدي په حق د محٔكه كي نه باطليږي .

"اقام المدعى البينة على دعوى ارضٍ فيها اشجارٌ و لم يتعرض للاشجار ثم اقام ذواليد البينة انه غرس الاشجار لم تبطل شهادته شهود المدعى فى حق الأصل" (سراجيه كتاب الدعوى ص ٤٨٨)۔

سوال:......

كه زيد او عمرو دعوه سره وكړي د نكاح كولو ديو ښځي او ښځه اقرار وكړي دپاره د زيد، زيد او عمرو شاهدان ودروي اوس دلته ښځه د زيد ده كه د عمرو ده، د دې څه حكم دئ؟

جواب:

......په دې صورت كي ښځه نه د عمرو ده او نه د زيد ده .

"ادعا نكاح امرأة فاقرت لأحدهما ثم اقاما البينة لم يقض لأحدهما"(سراجيه كتاب الدعوى ص ٤٨٦) ۔

سوال:......

كه زيد دعوه وكړي په عمرو باندي ديو شي چي هغه شى د عمرو په لاس كي وي زيد لره شاهدان نه وي بيا به عمرو ته قسم وركول كيږي كه عمرو قسم واخيستى، د دې څه حكم دئ او كه يې قسم وانه خيستى بيا يې څه حكم دئ؟

جواب:

......كه عمرو قسم واخيستى بيا عمرو بري دئ يعني شى د عمرو دى او كه

يې قسم وانه خيست بيا نو شى د زيد دئ .

"فان لم يكن له بينة فعلى الآخر اليمين فان حلف برئ و ان أبى اليمين قضى به للمدعى"(االنتف فى الفتوى كتاب الدعوى ص:٤٨٤)

سوال :......

كه يو سړي د زق خوله ور خلاصه كړه د زق څخه غوړي توى سوه يا يو شى را ځړېدى د هغه شي غوټه يې ور خلاصه كړه هغه شى را ولوېدى او هغه شى خراب سو او د دې ضمان پر دا سړي سته كه نه؟

جواب :

......په دا شيانو كي ضمان سته د ټولو علماؤ په قول سره .

"و لو حل رأس زق فخرج ما فيه او كان شئ معلقا فحل علاقته فسقط و فسد فعليه ضمان فى قولهم جميعا" ۔(النتف فى الفتوى كتاب الدعوى ص ٤٨٦)

سوال :......

دعوه هر ځاى صحيح كيږي كه خپل شخصي ځاى غواړي؟

جواب :

......دعوه په مجلس د قضاء كي صحيح كيږي بل ځاى نه صحيح كيږي .

"و شرط صحتها مجلس فلا يصح فى غيره حتى لا يستحق على المدعى عليه جوابه و حكمها و جوب الجواب على المدعى عليه"(فتوى الملا على القارى ، كتاب الدعوى ص ۱۸۰ ، ج ۳)

سوال :......

كه يو وار مدعى ووايي چي زه شاهدان نه لرم بيا وروسته شاهدان ودروي اوس د ده دشاهدانو شاهدي قبليږي؟

جواب :

......هو ! د مدعي د دغو شاهدانو شاهدي قبليږي .

”و لو قال لا بينة لی علیه و لاشهادة ، ثم اقام المدعی البینة او شهد الشاهد قبلت فی الاصح“ ۔(فتوی الملا علی القاری کتاب الدعوی ج٤، ص١٨٦)

سوال :......

كـه زيـد د درختـو ښـاخـلـې د عـمـرو د سراى خالي گاه و نيسي بيا عمرو را ولاړ سي د زيد ښاخلې ور پرې كړي اوس دلته پر عمرو ضمان سته كه نه ؟

جواب :

......كـه چيـري عمرو لره ممكنه ده چي دا ښاخلې په رسى وتړي بيا ضمان پر سته كه چيري ممكنه نه وه بيا ضمان نستـه ورباندي ، كه چيري حاكم ته خبره پورته كړي او حاكم په پرېكولو سره حكم وكړي .

”اخـذت اغـصـان شـجـرة انسان هـواء دار آخـر فقطع رب الدار الاغصان فـانـكـانـت الاغـصـان بحالة يمكن لصاحبها ان يشدها بحبل و يفرغ هواء داره ضـمـن الـقـاطـع و ان لم يكن لا يضمن إذا قطع من موضع لو رفع إلى الحاكم أمر بالقطع من ذلك الموضع“ ۔(بحر الرائق ، كتاب الدعوی ج٧، ص ٣٢٨)

سوال :......

كـه دوه قـاضيـان وي په يوه بازار كي يو په يوه محله كي وي او دا بل په بله مـحـلـه كـي وي ، مـدعـي وايـي چـي دا زموږ د محلې و قاضي تـه ورځو او مـدعى عليه وايي چي زموږ دمحلې قاضي ته ورځو ، نو به كوم قاضي ته ورځي ؟

جواب :

......صحيح خبره دا ده چي ځای د مدعی علیه معتبر دی .

”و لو كان في البلدة قاضيان كل واحد منهما في محلة على حدة فوقعت الخصومة بين رجلين أحدهما من محلة و الآخر من محلة اخرى و المدعى يريد ان يخاصمه إلى محلته و الآخر يابیٰ ذلك اختلف فيها أبو يوسف و محد و الصحيح ان العبرة لمكان المدعى عليه“ ۔(بحر الرائق ، ج ۷ ، ص ۳۲۹)

سوال :......

کومه دعوه ده چي ذکر د قیمت پکښي شرط دئ؟

جواب :

......هغه دعوه د غلا ده د دې لپاره چي معلومه سي چي دا غلا د نصاب ده که نه .

”انما يشترط ذكر القيمة في الدعوى إذا كانت دعوى سرقة ليعلم انما نصاب او لا“ ۔(بحر الرائق ، كتاب الدعى ، ج ۷ ص ١٣٦)

سوال :......

قسم سړی په کوم شي سره اخیستلی سي ؟

جواب :

......قسم یو د الله جل جلاله په نامه سره اخیستلی سي .

”لما في الصحيحين من حديث ابن عمران النبي ﷺ ، قال من كان حالفا فليحلف بالله او ليصمت ، و في رواية أبي داؤد و غيره انه ﷺ قال ان الله نهاكم ان تحلفوا بآبابكم فمن حالفا فيحلف بالله او يسكت“ ۔(فتوى الملا على القارى ج ٤،كتاب الدعوى ص ١٨٦)

سوال:......
که دیو سړي چارپای وي او دی وابښه نه وراچوي د دې څه حکم دئ؟
جواب:
......په قول د امام مالک صاحب او د امام شافعي دا سړی مجبوره کیږي په وښو وراچولو سره، او په قول د امام صاحب او دیارانو دی نه مجبوره کیږي او ګنهګاره دی.

"ولو ان بهيمة لرجل لا يحلفها فانه يجبر على علفها فى قول مالك و الشافعى و الشيخ و لا يجبر عليه فى قول أبى حنيفة و صاحبيه و هو آثم"
۔(النتف فى الفتوى كتاب الدعوى ص:٤٨٧)

سوال:
......که دوه نفره شاهدي ادا کړي پر غلا د غوایي او د شاهدانو یې په رنګ کي سره اختلاف وي او س د دوی شاهدي قبلیږي که نه؟
جواب:...... هو! د دوی شاهدي قبلیږي.

"إذا شهدا على سرقة بقرة و اختلفا فى لونها قبل الشهادة خلافا لهما"
۔(بحر الرائق، کتاب الدعوی ج٧، ص ٣٣٤)

سوال:......
که مدعي د یوشي صفت وکړي چي دا رقم دی چي کله دا شی حاضر سي بیا په بعض شیانو کي مخالفت وي او س د مدعي دعوه اوربدل کیږي که نه؟
جواب:
......که یې هغه زړه دعوه پرېښوله د حاضر شي دعوه یې شروع کړه بیا یې

دعوه او ربدل کیږي .

"إذا وصف المدعی المدعیٰ فلما حضر خالف فی البعض و حاصله انه ان ترك الدعوى الاولى و ادعى الحاضر تسمع لأنها مبتدأ ة و الا فلا" ـ(بحر الرائق ، کتاب الدعوى ج ۷)

سوال:......

که یو سړی د سرای څخه را ووځي او سامان ورسره وي خلک یې ووینې شاهدي ادا کړي چې موږ دی ولیدی چې د دې سرای څخه را ووتی سرای والا ووایي چې دا سامان زما دی او هغه بل سړی چې د سرای څخه را وتلی وي هغه ووایي چې دا سامان زما دی، ددې څه حکم دئ؟

جواب:

......که چیري دا سړی چې د سرای څخه را وتلی دی خلکو پېژندی په دې سره چې دی دغه رقم سامان خرڅوي یعني سوداګر وو بیا دا سامان د دغه سړي دی او که چیري خلکو نه پېژندی دا را وتلی په سوداګري سره بیا نو سامان د کور والا دی .

"و كذلك رجل خرج من دار رجل و على عنقه متاع فرأه قوم فشهدوا انا رأينا هذا خرج من هذه الدار و هذا المتاع فی عنقه و قال صاحب الدار المتاع لی و الخارج یدعی لنفسه ذلك ان كان الحمال ممن یعرف ببيع مثل هذا المتاع بان كان بزازا او صاحب (خز) فهو للحمال و ان لا یعرف به فهو لصاحب البیت" ـ(الفتوى الولوالجيه ، كتاب الدعوى ج ٤ ص ١٨٠)

سوال:......

که یو سړی اقرار وکړي چې دا شی د دغه سړي دئ بیا دعوه وکړي چې دا

شـى مـا اخيسـتـى دى او تـاريـخ هـم بيان نه كړي اوس دده دعوه قبليږي که نه؟ ؟

جواب :

......هو! د ده دعوه قبليږي .

"إذا اقر انه له ثم ادعى شراء ه بلا تاريخ يقبل" ۔(الاشباه والنظائر ، كتاب الدعوى ص ۱۸۹)

سوال :......

قاضي به د يو چا تحفه قبلوي که به يې نه قبلوي ؟

جواب :

......قـاضـي بـه د چـا تـحـفـه نه قبلوي مګر د قريب محرم څخه به قبلوي او د هغـه چـا څـخـه بـه يـې قبلوي چي د هغه عادت جاري وي په تحفه ور کولو سـره، مخـتـه تر قضا، په شرط ددې سره چي زياتوب نه کوي او خصومة به نه وي دوى لره .

"لا يـقـبـل الـقـاضـى الهد ية الا من قريب محرم او ممن جرت عادته به قبل الـقـضاء بشرط ان لايزيد و لا خصومة لهما" ۔(الاشباه والنظائر ، كتاب الدعوى ص ۱۹۲)

سوال :......

کـه د يـو شاهد شاهدي رد کړل سي د وجهي د علته بيا هغه علت ليري سي اوس د دې شاهد شاهدي قبليږي که نه قبليږي ؟

جواب :

......د دې شـاهـد شـاهـدي نـه قبليږي بيله څلور و نفرو د مرييي او د کافر پر

مسلمان او د ړانده او د کوچني چې دوی شاهدي ادا کړي بيا رد کړل سي بيا وروسته مانع زائل سي بيا دا خلک شاهدي ادا کړي شاهدي يې قبليږي .

"الشاهد إذا اردت شهادته لعلّه ثم زالت العلة فشهد فی تلك الحادثة ثم تقبل الا اربعة العبد والكافر على المسلم و الاعمى و الصبى إذا شهدوا فردت ثم زال المانع فشهدوا تقبل " ۔(الاشباه النظائر كتاب الدعوى ص ۱۹۷)

سوال :......

که يو سړی اقرار وکړي په پور سره وروسته بيا دعوه وکړي د اداء کولو د پور اوس ددې سړي دعوه قبليږي که نه ؟؟

جواب :...... د دې سړي دعوه نه قبليږي .

"وعلى هذا لو اقر بالدين ثم ادعى ايفاء ه لم تقبل للتناقض " (الاشباه والنظائر ص ۱۹۰، كتاب الدعوى)۔

سوال :

......که زيد د موټر دعوه وکړي چې دا موټر يو کال کيږي چې زما څخه ورک سوی دی او شاهدان ودروي او موټر والا ووايي دا موټر پنځه کاله کيږي چې زما سره را سره دی او شاهدان پر دغه باندي ودروي د دې څه حکم دئ ؟

جواب :

......دا نسي دفع کېدلی .

"ادعى حماراً انه ملكه سرق منه منذ عام و اقام البينة ثم اقام المدعى عليه البينة انه في يده منذ خمس سنين لم يكن دفعاً" ۔(سراجيه ، كتاب الدعوى ص ٤٨٨)

سوال :......

کـه د مـدعـی عـلیـه په لاس کي مدعی به نه وي مدعي دعوه په کولی سي که نه د دې څه حکم دئ؟

جواب :

......که مدعی به د مدعی علیه په لاس کي نه وي د مدعي دعوه نه صحیح کیږي .

"و ذكر الـمـدعـی ان المدعی به فی يد المدعی علیه لأنه انما یصیر خصما بـكونه في يده فان لم يكن في يده فلا خصومة بينهما" ـ(بحر الرائق ج ۷ ص ۳٤۱)

سوال :......

کـه شـاهـدان شاهدي ادا کړي چي دا د پلانکي ملک دی او دا و نه وایي دا د ده پـه لاس کـي چي دی دا پـه نـاحقه سره دي اوس دلتـه د دوی شاهدي قبلیږي که نه، د دې څه حکم دئ ؟

جواب :

......صحیح خبره دا ده چي نه قبلیږي .

"شهـدوا انـه مـلـكـه ولـم يـقـولـوا فـی یده بغير حق يفتى بالقبول قال الصدر الاجل الـعـلـوانـی اختلف فیه المشائخ والصحیح انه لا یقبل لأنه لم يثبت انه فـی يـده بـغـير حق لا یمكنه المطالبة بالتسليم و به كان يفتى اكثر المشائخ" ـ(بحر الرائق ، کتاب الدعوی ج۷ ص۳٤۲)

سوال :......

دعوه د ملک په مځکه کي بغیر د صاحب الید څخه پر بل چا چي یې و کړي

دا اورېدل کیږي که نه ؟
جواب :
......دا دعوه نسي اورېدل کېدی .
"فالحاصل ان دعوی الملك فی العقار لا تسمع الاعلی صاحب الید و دعوی الید تقبل علی غیر صاحب إذا کان ذلك الغیر ینازعه فی الید فیجعل مدعیا للید مقصودا و مدعیا للملك تبعا لملك الید" ۔(بحر الرائق ، کتاب الدعوی ج۷ ص۳٤۳)
سوال :......
که یو سړي سرای خر ځ کړ په بیعه صحیحه سره او تسلیم یې کړ و هغه سړي ته سرای په پټه سره په حضور د ثقاتو سره بیا یې دغه سرای وقف کړ په ښکاره سره اوس دا وقف صحیح دئ که نه دئ ؟
جواب :
......دا وقف یې ظاهراً صحیح دئ که چیري مشتري دعوه په وکړه او شاهدان یې ودرول بیا د مشتري دعوه صحیح ده وقف باطلیږي .
"رجل باع داره من رجل بیعا صحیحا و سلمها إلیه فی السر بعصرة الثقات ثم وقفها فی العلانیة بمحضر من الشهود فان وقفه صحیح فی الظاهر و لو ان المشتری ادعی علیه الشراء بعد ایام و اقام البینة علی ذلك صحت دعواه و بطل الوقف" ۔(فتوی الولوالجیة کتاب الدعوی ، ج ٤ ص١٦٣)
سوال :......
که سرای د یو سړي په لار کي وي بل سړی دعوه په وکړي او شاهدان پر ودروي او په دا سرای کي بناء وي اوس به قاضي په سرای او په بناء سره

فيصله كوي مقضى له ته او كه به خالي په سراى سره فيصله كوي په بناء سره به يې نكوي د دې څه حكم دى ؟

جواب :

......قاضي به په سراى او په بناء په دواړو سره فيصله كوي مقضى له لره .

"إذا كانت دار فى يد رجل ادعاها رجل و اقام البينة انها له و فيها بناء يقضى القاضى له بالدار و ببناها تبعا للدار" (خلاصة الفتوى ، كتاب الدعوى ج٤ص ٨٨)۔

سوال :......

كه سړى ساكت سي جواب ورنكړي اوس دا سړى منكر بلل كيږي او كه به يې بندي كوي كه به بل چم په كوي ؟

جواب :

......بندي كوي به يې .

"فان سكت و لم يجب ينزله منكرا قال الامام السرخسى هذا قولهما اما عند أبى يوسف فيحبس إلى ان يجيب و فى روضة الفقهاء لو سكت عن الجواب لا يكون منكرا بلا خلاف و الفتوى على قول أبى يوسف فيما يتعلق بالقضاء كما فى القنية والبزازيه فلذا افتيت بان يحبس إلى ان يجيب" ۔ (بحر الرائق ، كتاب الدعوى ، ج ٧ ص ٣٤٦)

سوال :......

كه دوه نفره اختلاف سره وكړي په بدل د اجارې كي يا اختلاف سره وكړي په منفعة د اجارې كي ، اوس قسم و چا ته وركول كيږي ؟

جواب :...... و دواړو ته قسم وركول كيږي .

" ولو اختلفا في بدل الاجارة او المنفعة تحالفا" ۔(فتوى الملا على القارى ، كتاب الدعوى ج ٤ ص ١٩٢)

سوال :......

كه دوه نفره اختلاف سره وكړي په بدل د اجارې كي يا اختلاف سره وكړي په منفعة د اجارې كي ، مخته تر استفاء د منفعة ، قسم خو ب و دواو ته وركول كيږي اول به يې و چا ته وركوي ؟

جواب :......

كه چيري واقع وو اختلاف په بدل كي بيا به شروع په قسم سره مستاجر كوي ځكه دى منكر دئ د وجوب د اجر څخه او كه چيري اختلاف واقع وو په منفعت كي بيا به شروع په قسم سره مؤجر كوي ځكه دى منكر دى د وجوب منفعت څخه .

" وان وقع الاختلاف في البدل بدئ بيمين المستاجر لأنه منكر لوجوب الاجرة و ان وقع في المنفعة بدى بيمين المؤجر" ۔(فتوى الملا على القارى ، كتاب الدعوى ج ٤ ص ١٩٢)

سوال :......

كه زيد په واله كي اوبه روان كړي خپلي مځكي ته يا اور بل كړي هغه د زيد همسايه ته تاوان ورسوي اوس پر زيد ضمان سته كه نه ؟

جواب :...... پر زيد تاوان نسته په قول د امام أبى حنيفةؒ او په قول د يارانو د ده .

"ولو رجلا اجرى ماء في نهر إلى ارضه او ، اوقيد نارا في ارضه فاضر ذلك جاره و كذلك ما اشبه فلا شيئ عليه في قول أبى حنيفة و صاحبيه" ۔(النتف

في الفتوی ، كتاب الدعوی ص ٤٨٦)

سوال :......

کـه یـو سـرای د یـو سـړي پـه لاس کي وي بيا دوه نفره دعوه په وکړي هر يو شاهدان ودروي پـر دې بـانـدي چـي سـرای زمـا مـلک دئ ما و ده ته په اجاره ورکړی دی يو مياشت په لس درهمه سره او سکونت پکښي کړی وي هغه سړي چي اوس سرای في الحال د ده په لاس کي وي ددې څه حکم دئ ؟

جواب :

......دوی دواړه بـه سـرای ځينـي اخلي او دا سرای د دوی دواړو نيمايي دئ او هغه لس درهمه به هم سره نيمايي کوي .

”دار في يد رجل ادعاه رجلان و اقام كل واحد منهما البينة ان الدار ملكه اجره اياها شهرا بعشرة و قد سكنها الذی في يده فانهما ياخذان الدار و يكون بينهما“ ـ(فتوی الولوالجية ، كتاب الدعوی ج ٤ ص ١٦٧)

سوال :......

کـه يـو سـړی مړ سو لور او ورور يې پاته سوه لور يې وويله چي زما د پلار دپاره يـو شـی هـم نـه وو دا کـوم شيـا ن چي دي دا شيان زما پلار زما لپاره رانيـولي وو زما په پيسو زما پلار زما وکيل وو او ورور ددې مړي ووايي چي دا ټوله مال ملک د پلار د دې دی اوس د چا قول معتبر دئ ؟

جواب :

......دلته قول د ورور معتبر دئ سره د قسمه .

”رجل مات و ترك ابنة و اخا فقالت الابنة ليس لأبی شيئ و انما اشتراه كله لي بمالي و كان هو وكيلي في ذلك و الاخ يقول ان ذلك كله ملك الاب

و القول قول الاخ مع یمینه لانهما اتفقا ان المال کله فی ید الاب و المشتری هو فبعد ذلك البنت تدعی کونه وکیلا والاخ منکر فیکون القول قوله مع یمینه " ۔(فتوی ولوجیة ، کتاب الدعوی ج ٤ ص ١٨٧)

سوال :......

که ډېر خلک مشترک وي په واله کي یا په ځاه کي او نیمایي خلک هغه نور نیمایي خلک مجبوره کولی سي پر اصلاح د والې یا د ځاه او که یې نسي مجبوره کولی او که یې نیمایي خلک د والې اصلاح وکړي هغه نور چي د والې اصلاح یې نه ده کړې هغه د والې له منفعة څخه منعه کولی سي که نه د دې څه حکم دئ؟

جواب :

...... په مشترکه واله کي یا په مشترکه ځاه کي نیمایي خلک نور نیمایي نسي مجبوره کولی او که یې نیمایي خلک اصلاح وکړي هغه نور نیمایي خلک د منفعت د والې او د ځاه څخه نسي منعه کولی .

"وکذلك الشرکاء فی نهر او بئر فلا یجبر أحدهم علی الاصلاح فان اصلحه بعضهم فلیس له ان یمنع الاخیرین من المنفعة" ۔(النتف فی الفتوی ، کتاب الدعوی ص ٤٨٥)

سوال :......

که یو سړی دعوه د ساحې وکړي او حدود ذکر کړي او طول و عرض په ګزه سره ذکر نکړي اوس ددې سړي دعوه صحیح کیږي که نه صحیح کیږي ؟

جواب :

...... هو! ددې سړي دعوه صحیح کیږي .

"ولـو ادعـى سـاحة و ذكـر الـحـدود لـم يـذكـر طولها و عرضها بالزراع يصح الدعوى" ۔(خلاصة الفتوى ، كتاب الدعوى ج ٤ ص ٩٢)

سوال:......

كـه يـو سړی دعـوه د سرای وكړي چي هغـه سرای د بـل سړي په لاس كي وي قاضي ورته ووايي مدعي ته آيا ته د سرای حدود پېژني مدعي ورته ووايي يـا بيا مدعي دعوه د سرای وكړي او حدود يې بيان كړي اوس د مدعي دعوه اورېدل كيږي كه نه اورېدل كيږي؟

جواب:

...... د مدعي دعـوه نه اورېدل كيږي .

"رجل ادعى دارا فى يد رجل فقال له القاضى هل تعرف حدود الدار قال لاثم ادعاها و بين الحدود لا يسمع اما إذا قال لا اعرف اسامى صاحب الحدود يعني الجيران ثم ذكر فى المدة الثالثة يسمع و لا حاجة إلى التوفيق" ۔(خلاصة الفتوى ، كتاب الصلح ج ٤ ص ٩٣)

سوال:......

كـه شـاهـدان شـاهـدي ادا كـړي پـر شراء باندي او پر نغدوالي د پيسو او ذكر نـكړي الـقـبـض نـه تسـليـم نـه ملك د بائع نـه ملك د مشتري اوس دا دعوه اورېدل كيږي او شاهدان قبليږي كه نه؟

جواب:

......نه دا دعوه اورېدل كيږي او نه يې شاهدان قبليږي .

"و لـو شهـدوا عـلـى الشراء و نقد الثمن و لم يذكروا القبض و لا التسليم و لا ملك البائع و لا ملك المشترى لا يسمع الدعوى و لا يقبل الشهادة" ۔(خلاصة

الفتوى ، كتاب الدعوى ج ٤ ص ١٠١)

سوال :......

كـه يـو سړى دعـوه وكـړي پـه بـل سړي باندي د زر درهمه د پيسو د منځي چـي ده خـرڅه كړې ده پر دې بل سړي او ذكر نكړي تسليم د منځي او قبض د منځي اوس د ده دعوه اورېدل كيږي كه نه اورېدل كيږي؟

جواب :...... د ده دعوه نه اورېدل كيږي .

"رجل ادعى على اخر الف درهم ثمن جارية باعها منه و لم يذكر تسليم الجارية و لا قبضها و لا يسمع الدعوى" ۔(خلاصة الفتوى ، كتاب الدعوى ج ٤ ص ١٠٢)۔

سوال :......

كـه يـو سـړي دعـوه وكـړه پـه بل سړي باندي چې ما پر ده باندي سراى خرڅ كـړى دئ پـه لس دنانيره حمره وه سره او سراى مي ورتـه تسليم كړى دى او حدود يې ذكر نكړي اوس د ده دعوه اورېدل كيږي كه نه اورېدل كيږي ؟

جواب :...... ددې سړي دعـوه اورېدل كيږي .

"ولـو ادعـى على رجل انه باع دارا منه بعشرة دنانير حمر و سلم الدار و لم يذكر حدود الدار يسمع" ۔(خلاصة الفتوى ، كتاب الصلح ج ٤ ص ١٠٢)

سوال :......

اشاره د ګونګي ښنګه ده يعني قاضي استفاء پـه كولى سي كه يې نسي پـه كولى؟

جواب :

......د ګـونـګي پـه اشاره سره قاضي استفاء كولى سي بې له حدودو خالصه

وو الله لره .

”و اشارة الاخرس فیما لا یسقط بالشبهات و فیما یسقط کعبارة غیره حتی یستوفی القاضی باشارته و اشارته فی ذلك تکون کعبارته الا فی الحدود الخالصة لله تعالی“ ۔(الخانیة ، الجزء الثانی بهاش عالمگیریه کتاب الدعوی ص ۳٦۷)

سوال :……

که یو سړی و بل سړي ته ووایي چي زما پر تا زر ۱۰۰۰ درهمه باندي دي مدعی علیه ورته ووایي چي ته قسم واخله بیا زه روپۍ درکومه مدعی قسم واخیستی مدعی علیه روپۍ ورکړې اوس مدعی علیه لره سته چي خپلي روپۍ بیرته ځیني رارد کړي که نسته ؟

جواب

:…… هو ! مدعی علیه لره داسته چي خپلي روپۍ بیرته ځیني رارد کړي .

”رجل قال لرجل لی علیك الف درهم فقال المدعی علیه ان حلفت نها لك علی ، اذیتها إلیك فحلف فاداها إلیه هل له ان یستردها منه بعد ذلك ذکر فی المنتقی انه ان دفعها إلیه علی الشرط الذی شرطا کان له ان یستردها منه “ ۔(الخانیة، کتاب الدعوی بهاس عالمگیریة ج ۲ص ۳۷۱)

سوال :……

حاکم د وخت دوه کسان چوکیداران کړه پر یو بنار باندي، چي ددې بنار چوکیداري کوئ، دغه دوه کسان تولـه شپه د بنار پر شاوخوا باندي وګرځېدل بعضي پر بعضو باندي د بېري څخه د غلو ، سهار یو سړي دعوه وکړه، چي زما د سامان صندوق غلا سوی دی، چي په هغه صندوق کي د

ســرو زور کنبې او نقدي پیسې او جامې وې، اوس نه دیوال سری سوی دی، او نـه دروازه مـاته سوې ده او د صندوق د قلف کیلی د دې دعوه کوونکي د ښـځې سـره دي ،او ده الزام ولـګـوی پر دغـه دوو چوکیدارانو باندي، چې دا تـاسـو غـلا کـړي دي، حـاکـم دا دواړه چـوکیـداران را طلب کړه، او دواړه یې بـندیـان کړه او بیـا یې دواړه ووهل او بیـا یې دواړو ته زجر ورکړی، پر دغه بـانـدي، بیـا هـم دوی دواړه اقـرار و نـه کړ او نه سوه پر ثابتـه، نو اوس آیا پر چـو کیـدارانـو بـانـدي ضـمـان یعني تاوان سته او که نه، او دوی ته د خپلي چوکیداري مزدوري ورکول کیږي او که نه ؟

جواب :

......پر دغو چوکیدارانو باندي ضمان هم نسته، نعم لا یضمنان علی الوجه الـمـذکـور شـرعـاً و الله تـعـالـی اعـلـم، او بـل دغو چوکیدارانو ته به خپله د چـو کیـداري مـزدوري ورکـوي، په هغـه صورت کي د مزدوري حق هم لري چـي دیـوال سـوری وي او یـا دروازه مـاته سوې وي، او ضـمـان په دغـه دواړو صورتـو کـي نسـه پر چوکیدارانو باندي .

ځکه چي ده خپـل مال و چوکیدارانو ته نه دی سپارلی، خپله یې دوکان تـه قـلف ور اچـولـی دی او دروازه یې ور پسې بنده کړې ده . مګر که چیري قلف مات سوی او دروازه ماته سوې وه نو چوکیداران به راغواړي قسم به ورکوي، که پر ثابت سوه بیا ضمان باندي سته .

سوال :......

د یـوې ښـځي خاوند مړ سو، اوس صَرَف او فرشونه او داسي سامانونه پاته دي، پـه کـور کي د دوی دواړو ښځي دعوه وکړه چي دا زما ملک دی د پلاره

څـخه زما، او وارثانو يې دعوه وکړه چې دا ميراث دی ددې مړي، او وارثانو يـۍ پـر دې بـاندې شاهدان هم لري، چې دا ميراث دی، ددې مړي، آيا اوس دا ميراث کيږي؟

جواب:

......کـه چيـري دا پـاتـه وارثـانو شاهدان وو پر دې باندې چې دغه پاته مال يا سـامـان، دا مـلک ددې مـړي دی، نـو بيـا ميـراث کيـږي نو وارثان بـه يې پر شـرعـي طـريـقه تقسيم کړي، او که بيا چيري وارثانو شاهدان نه درلودل، نو بيا دعوه د ښځې صحيح کيږي سره د قسمه .

سوال:......

يـو سړي لره کور دی په بازار کې خرابه، په ميراث ور پاته سو د خپـل پلاره څـخـه، او دی پـر دې سرای باندې چوکيدار سو د حفاظت دپاره، بيا يې سفر وکړ و بل ښار ته او قصد يې ددې وو چې دا سرای خرڅ کړي، نو منع وکړه يـو شيـخ يـعـنـي سپيـنږيـري ددې کـلـي چې دا سرای به نه خرڅوې، پر دې سـرای بـانـدې زما سامانونه دي، ددې سامانو په بدل کې ما ستا د پلار څخه دا سـرای اخيستـی دی، نـو اوس آيـا دا سرای پـه تـاوان کې دغـه سـامـان د سپيـنـږيـري کيږي ؟ او که داغه سړی خپل تصرف په خرڅولو کې کولای سي؟

جواب:

......"لمالك الدار التصرف فيها ولا عبرة بتعلل شيخ القرية على الوجه المسطور والله اعلم بالصواب" . نـو سـرای د مالک دی د سپينږيري نه دی، ځکه چې دی ثبوت ددې نه لري، چې هغه يا شاهدان دي او داسې نور ثبوتونه . . .

سوال :......
درې ورونه دي چې دوی ته په میراث ورپاته سو یو سرای د خپل پلاره شخه، بیا یې واخیستی تقسیم یې کی، بیا یو سپینږیری د ښار خرڅ کی پر یو پر دي سړي باندې، په معلوم قیمت سره، او رانیونکي ته یې ور وسپاری، او پر دې بیع باندې شل (۲۰) کاله تېر سول، او رانیونکی پر دې اقرار کونکی هم دی چې دا سرای د دغه هلکان دی یعني ملک د دوی دی، نو آیا دې هلکانو ته ددعوې حق سته چې په دې سرای سره دعوه وکړي او د مشتري د لاس شخه یې وکاږي او که نه؟ او انتقال یې ثابت هم نه دی ددې سرای په نقل شرعي سره دې مشتري لره؟

جواب
:......إذا كان المدعى عليه معترفا و لم يثبت انتقالها عن ملكهم بناقل شرعي .

که چیري مدعی علیه اقرار کونکی وو په ملک سره دوی لره په دې سرای سره چې دا ملک ددوی دی، نو دا ددې هلکانو ملک دی، بیا ددیسړي ملک نه ثابتیږي .

سوال :......
یو سړي خپل نیم سرای خرڅ کی، او نیم یې بیرته د خرڅوونکي زوی د مشتري شخه رانیوی، بیا خرڅوونکی مړ سو، اوس یې یو زوی او بل وارث پاته سوله نو دوی قصد وکړ د تقسیم په خپل مابین کي، چې دا سرای تقسیم کړي په خپل مابین کي، نو زوی یې دعوه وکړه چې دا نیم سرای ما رانیولی دی د هغه چا شخه چې زما پلار پر خرڅ کړی وو په

حـالـت د جوړوالي كي، او زوى يې پر دې دعوه باندي شاهدان هم لري، نو د نيـم سـراى مـلک يې زوى لـره ثـابتيـږي او كــه نــه؟ نو منع وكړه وارثانو د مـعـارضې څـخـه چي تـقـسيـم بـه ن ه كيږي د دوى په مابين كي تقسيم د ميـراث، تر څو چي دا ذكر سوې دعوه ثابته نه سي، او ليـكـل سوې هم نه ده په خرڅولو او رانيولو باندي قباله، نو آيا د زوى حق كيږي او كه نه ؟

جواب :

......نـعـم حيـث مـاذكـر لا يقسم نصف المنزل بين الورثة و يختص به الابن الـمـشـتـري . و الـلـه تـعـالـى اعـلـم . دغـه نيم سراى د ده د زوى سو ، دا به نه تقسيموي په مابين كي د وارثانو، هغه نيم به تقسيم كړي په مابين كي د وارثانو په طريقه شرعي سره .

سوال :......

يـو سړى و بازار ته داخل سو ، او ددې سړي سره څه سامان دى په دې سامان كي خپـل تـصرف هم كوي، اخيـسـتـل هم ځيني كوي، او وركول هم ځيني كـوي و خلكو تـه تر داسي وخت پوري چي دى وفات سو ، د اولاد څخه، او پر ده پورونه هم باندي دي په دغـه ښار كي، او دى خپـل سكـه ورور هم لري پـه دغـه ښـار كـي، او پوروړو الزام ولكوى ددې پورو ، د ده يعني د دې مړي پر ورو باندي، چي دا پورونه موږ ستا څخه غواړو، او دامړى نه وصي لري او نـه شـريک لـري، نـو اوس آيـا دوى يـعـني پوروړو ته دا حق سته چي د ده د ورور څخه مطالبه د پورو وكړي او كه نه؟

جواب :

......"لا يثبت الـديـن فـى وجه الاخ المذكور ، حيث لم يكن وارثا و لا وصيا ، و

ليس لرب الدين مطالبته ، به بدون وجه شرعى، و الله تعالى اعلم" . نو له مذكوره عبار تو څخه دا ثابته سوه چې د مړي د وررور څخه د پورو مطالبه نه سي كولاى .

سوال :......

يو سړى مړ سو يو يې نابالغه زوى پاته سو او بل يې بالغ زوى پاته سو، او بل يې بالغه لور پاته سوه، و دردى يو سړى وصى ساتونكي پر بالغه زوى باندي په حفاظت سره، او د مړي او وصيّ په مابين كي معامله هم وه، يعني كاروبار يې هم كوى، ددې مړي بالغ زوى دعوه وكړه، چې زما پلار معلومي پيسې او معلوم دراهم پر ېيبني دي د وصي سره، وصي انكار وكى چې زما سره يې شى هم نسته، او نه دراهم، وصي يوازي دراهم مني، بيا يې وصي و قاضي ته پېش كى، او قاضي پر وصي باندي ثابته كړه چې، وصي وويل هو زما سره د مړي معلومي پيسې سته، قاضي حكم وكى وروته تر ثبوت، په دې پيسو سره، حاكم دعوه وكړه چې دي وصي رانيولى دى، په دې پيسو سره دراهم د دې مړي، اوس ددې وصي انكار معتبره دى او كه نه؟ وروته تر حكم، اوس به وصي امر كيږي په حصه سره ددې بالغ او كه نه؟ وروسته تر انكار دا وصي اقرار كوونكى وو په دې معلومو پيسو سره ؟

جواب

:......"دعوى الوصى ان الفول مشترى من الدراهم بعد الحكم عليه ، به زائدا عن الدراهم ، غير مسموعة و يؤمر بدفع نصيب لبالغ منه و من الدراهم ، و الله تعالى اعلم" . نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې د مړي بالغ

زوى تـه بـه خپـلـه حصـه د دراهمو څخه وركوي، او په دې سره به وصي امر كيږي، چې دى بالغ ته خپله حصه وركړه .

سوال :......

يـو سړى مـالک دى د يـو سـراى، او دا سـراى د خپـل پـلاره څخـه پـه ميراث وريـاتـه دى، يـعـنـي د خپـل پـلار او نيـكـه څخـه پـه ميراث ور پاتـه دى، پـه شـاهـدانـو سره د خـلـكـو، نـو دا سـړى ددې ښـاره څخـه يو څو ورځې پـه سفر ولاړى، او بيـا راغـلـى و دې ښـار تـه، كـه ګـوري دده پـه سـراى كې همسايه داخـل سـوى دى، او هـغـه د مـابـيـن ديوال چې دده او د همسايه پـه مابين كې پرده وو ، هغه ديوال يې نړولى دى، نو دې سړي مراجعه وكړه و قاضي تـه ، او خپـلـه دعـوه يې ثابتـه كړه پـه شاهدانو سره، قاضي و ده تـه يو ثبوت دده د سـراى هـم وركـى، نـو اوس بـه آيـا هـمسايه تـه پـه دې سره امر كيږي، چې دا سراى ور ايله كړه و دې دعوه كوونكي تـه او كـه نـه ؟

جواب :

......"إذا كـان الـمـلك فى الدار المذكورة ثابتا للمدعى ، بشهادة العدول يؤمر من استولى عليها تعدياً ، بردها له و الله تعالى اعلم" . نـو لـه مذكوره عبـاراتـو څـخـه دا ثـابـتـه سوه چې ور تـسـلـيـم دې كـړي دا سـراى و دعـوه كـوونـكـي تـه، ځـكـه چې دعـوه كـونكى خپـل ثبوت پيش كړى چې هغه شاهدان د خلكو وو نو ده خپله دعوه ثابتـه كړه پـه شاهدانو سره .

سوال :......

وارثـانـو پـه خپـل مـا بيـن كـي تـركـه د مړي سره تقسيم كړه، د شاهدانو پـه حـضـور كـي، او هر يوه تـه خپله حصه رسېدله، او ټوله پـه دې سره يعني پـه

تقسیم سره راضي هم وو، په خپل مابین کي، او تصدیق یې هم سره وکی بعضو پر بعضو نورو باندي، او پر دغه تقسیم یې شاهدان هم ودرول، پر خپلو ځانو باندي چي بیا به جګړه نه سره کوو، او خط یې هم سره ولیکی چي د مړي ترکه نور شی نه دي پاته، وروته بیا له دوی څخه یوه دعوه وکړه چي ددې مړي پوري پاته دی پر وارثانو باندي، نو آیا دده دعوه اورېدل کیږي او که نه؟ او دا د ده دعوه به مناقضه نه وي؟ هغه تقسیم لره چي دوی سره کړی دی، او پر هغه تقسیم باندي تصدیق هم سوی دی، د شاهدانو په مخ کي، نو اوس ده لره حق د رجوع سته پر وارثانو باندي، ددې پور په ثبوتِ شرعي سره او که نه؟

جواب:

......" إذا ادعی أحد الورثة دینا فی الترکة بعد قسمتها تصح دعواه، وتسمع و لا تناقض لتعلق الدین بالمعنی، والقسمة بالصورة و هذا إذا لم یثبت علی المدعی المذکور أنه صدق بان لاحق له قبل مورثه، والله تعالی اعلم" . نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه، چي دعوه یې صحیح کیږي، که چیري خپله دعوه په شرعي طریقه سره ثابته کړې وي، بیا حق لري او که یې چیري په شرعي طریقه سره ثابته نه کړه بیا حق نه لري .

سوال:......

یو کور شریک دی په مابین کي د درو خوندو، او پاته سوی دی په میراث کي د خپل پلار، یوې خور یې طلب وکی د خپلي حصې، او خپله حصه وصول کړه و خپل ځان ته، یوې خور یې دعوه وکړه چي ما د دې څخه د دې حصه رانیولې ده، پر دې دعوه باندي دي دې خط هم ښکاره، او قباله هم

لـري، د ثبوت لپـاره، نـو آيا د دعـوه بـه اوس قبولـه وي او كـه نـه ؟ پـه ثبوت شـرعـي سـره او شـاهـدن هـم مـره سـويدي، د كومـو چـي نوممان پـه قباله كـي ليـكـل سـوي دي، او بل دا چـي و قبالـې تـه پـه شريعت كـي اعـتـبار سـتـه او كـه نـه ؟

جواب :

......"لا يـقـضـى بـالـكـواغـذ والصكوك ، بدون اثبات المضمون ، فإذا لم تثبت الاخـت الـمـذكورة انتقال نصيب أختها إليها بوجه شرعى يكون البيت بينهن على ما كان بالارث و الله تعالى اعلم" . نو لـه مذكوره عباراتو څخـه دا ثابتـه سـوه چـي قضاء يعني حكم پر كاغذ او پر چيک باندي نـه كـول كيـږي، بې لـه ثبـوت شـرعـي څـخـه، كـه دغـه مذكوره خور انـتـقـال ثابت نـه كـړي د حصې د خپـلـي خـور و دې تـه، نـو سـراى بـه د دوى درو سـره پـه مـابـيـن كـي تقسيم كيږي پـه شرعي طريقه سره .

سوال :......

مـدعـى عـليـه قـسـم واخيستى، وروسـتـه بيـا مـدعـي شـاهدان پيش كـړه، نو اوس آيا د شاهدانو ، شاهدي قبليږي او كـه نـه؟

جواب : ......" تـسـمـع البينة و تقبل على ما هوالصواب ، كما صرح به فى شرح الـمـلـتـقـى ، والتنوير ، و غيرهما ، من الدعوى ، قال فى التنوير و تقبل البينة لو اقامها ، المدعى بعد يمين المدعى عليه عند العامة ، و هو الصحيح ـ"(فتاوى تنقيح الحامديه ج٢ ص٢١/٢٢) .

نـو لـه مذكوره عباراتو څخه ثابتـه سـوه، چـي قبليږي د شـاهدانو ، شاهدي پر هغـه طريقه باندي چـي حـق وي، يعني وروسـتـه تر قسم د مدعـى عـلـيـه .

سوال:......

یـوه ښـځـه مړه سوه، یـو یـې پـلار پـاتـه دی او بل يې مېړه پـاتـه دی او بل کـوچـنـی زوی پـاتـه سـو، پـلار یـې را ولاړ سـو د خپلي لور سره يې ددې سـامـان پـه قبـر کـې ورسره ېټ کی بې له اجازې د مېړه ددې، نو اوس آیا پر پلار باندي ضمان سته د مېړه او د کوچني زوی؟

جواب: ......"نـعـم والـمسئلة فـی الـغـیـریـه، ومـن الدعوی ـ "(فتاوی تنقیح الـحامدیه ج ۲ ص ۲۷) . نـو لـه مـذکـوره عبـاراتو څخه دا ثابته سوه چي پر پلار يې د خاوند او د کوچني زوی، یعني د دواړو ضمان ستـه .

سوال:......

زید یو اوښ لري، هغه يې و عمر ته په طریقه د امانت ورکړ یعني وعمر ته ، بیـا زیـد و عـمـر تـه وویـل چـي بـرأت ښکاره کړه ددې اوس څخه، دا برأت اوس غیرِ صحیح کیږي که نه ؟

جواب: ......"الابـراء عـن الاعیان لا یجوز، کما حدر الشریعة، من الصلح و مثله فـی الـقهستانی، والعلائی، والبزازیه، من الدعوی، و قد حققه الشرنبلالی فی رسالته، تنقیح الاحکام، والبیری فی حاشیته الاشباه، فی القول فی الدین، و فی لسان الحکام من الفصل السادس، فی الاقرار ما نصه، و فی المنبع الابراء ، عن الاعیان لا یصح ـ اهـ، و فتاوی تنقیح الحامدیه ج ۲ ص ۲۷" .

سوال:......

یـو سـړي و بـل سـړي ته یو شی په ګرو ورکی، او بیا يې بیرته په دغه شي کـي سـره دعـوه سـوه، نـو اوس پـر مرتهن باندي د ګرو سوي شي حاضرول شرط دي او که نه ؟

جواب: ......"قد وقع في هذه المسئلة اضطراب و اختلاف، جواب فما في جامع الفصولين يشترط، و في الخانية لا يشترط، و عبارتها لو رهن رجل عند انسان عينا و سلم ثم انتزعه من يده بغير اذنه و باعه و سلم، ثم جاء المرتهن و ادعى الرهن و أراد أن يستردّه من المشترى و اقام البينة على الرهن قبلت بينة و ان كان الراهن غائبا و يأخذ العين من يد المشترى و سلم، إلى المرتهن لما قلنا اهـ، و قد نص الشيخ قاسم، في التصحيح على أن قاضيخان من أهل الترجيع لكن في قاضيخان، في فصل دعوىٰ المنقول انه يشترط حضرته و كذلك في الخلاصة، و قد اضطراب العلامة الخير الرملي في فتاواه، و بالله توفيق، و فتاوى تنقيح الحامدية ج۲ ص ۲۸" .

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په غير منقولاتو شيانو كي د رهن يعني د گرو سوي شي حاضرول شرط نه دي، او په منقولاتو شيانو كي د گرو سوي شي حاضرول شرط دي، دغه هم صحيح او راجح قول دی .

سوال: ......

يو سړی دی، ده لره سرای دی، ددې سرای مالک دی پخپله دی، په دليلِ شرعي سره، او بل سړي بيا دا سرای خر څ كړي، داغسي په دليل شرعي سره، بيا وروسته در مرګ د مشتري، دا سرای بيا وارثانو ته ورسېد، ددې وروسته بيا يوې ښځي رانيوی، د بائع څخه، دغه سرای د وارثانو څخه د مشتري، په سند شرعي سره، اوس وارث خرڅوونكي انكار وكړ چي ما پر دې ښځي باندي دا سرای نه دی خر څ كړی، او سره له دې چي ده سرای خرڅوی، شاهدان هم موجود دي پر داغه بيع باندي، او د اول بائع قريبان

دعـوه کـوي چـي دا سرای د اول بائع په ملک کي پاته دی ، نو آيا د اول بائع د وارث دعوه قبوله ده او که نه؟

جواب : ......"إذا ثبت البيع فی الدار المذكورة من لمالك الاول فلا اعتبار لانكار اقاربه ذلك كما لا يعتبر انكار ، وارث المشترى البيع للمرأة المذكورة بعد ثبوت البيع منه لها، و الله تعالى اعلم" . نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه که چيري خرڅول د سرای ثابت سول، د اول مالک څخه، بيا د وارثانو انکار تـه اعتبار نستـه، بيا سرای د ښځي دی، نو د ښځي بيع صحيح سوه .

سوال : ......

يـو سړی مړ سو يوه يې خپله ښځه پاته سوه، او يو يې اکا پاته سو، اوس يو څه شی پاتـه دی، اکـا يې طلب د ميراث وکی د خپلي حصې، د ده د ښځي څخه، نو ښځي انکار وکی چي د مړي څخه هيڅ شی هم نه دی پاته سوی، تر دې وروستـه بيا ښځي و ده تـه يـو څه شی ورکي پر طريقه د صلحي، چي بيا دعوه را سره و نه کړي، خو بيا هم صلح را نه غلل، سړی يعني اکا يې دوهم واري بيا اخيستل وکړه، خو ښځي قسم واخيستی چي شی نه دی پرېښی، نو اکا يې شاهدانو ودرول پر دې دعوه باندي، چي څه شی ځيني پاته سوی دی، نو اوس آيا دده د شاهدانو شاهدي قبليږي او که نه؟

جواب : ......"تقبل البينة من المدعی بعد حلف المدعی عليه عند الامام ، و الله تعالى اعلم"" . نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه، چي د مدعى عليه د قسم وروستـه، د مدعى د شاهدانو شاهدي قبليږي په نزد د قاضي .

سوال : ......

دوه شريكان دي په يوه غوا سره، دا غوا د دوى دواړو شخه ور كه وه دوه كاله، بيا وروسته يې د يو سړي سره يې يو شريک پيدا كړه، او دعوه يې په وكړه چې دا غوا زما ده، او دا كيلكى زما د شريک دى، مدعي عليه انكار وكړ چې دا غوا او كيلكى دواړه زما دي، او مدعي هم تاريخ بيان كړى، او مدعى عليه هم تاريخ بيان كړى، خو د دوى دواړو تاريخ سره مخالف دى، او بيا هر يوه شاهدان ودرول، ددې وروسته يې بيا أهل خبروال را وغوښته ، د مدعي شاهدانو چې تاريخ بيان كړى هغه غلط سو، او د مدعى عليه شاهدانو چې تاريخ بيان كړى هغه د مدعى عليه د تاريخ سره موافق سو، او حاكم حكم وكړي په مقتضى د شاهدانو و مدعى عليه لره، چې دا غوا ستا سوه. اوس هغه دوهم شريک يې حق د دعوې لري او كه نه؟ چې د خپلي حصې غوښتنه وكړي او كه نه؟

جواب:......"كل واحد من شريكى الملك اجنبى فى نصيب صاحبه ، فلا يكون القضاء على أحدهما قضاء على الآخر حيث لم يكن وكيلا عنه فى الدعوى، والله تعالى اعلم".

نو له مذكوره عباراتو شخه دا ثابته سوه، چې دا دوهم شريک يې د خپلي حصې دعوه وكړي، نو د قاضي حكم ددوى دواړو پر حصه باندي نه سو نه دده شريک د طرفه شخه وكيل جوړيږي په دعوه كي، ده ته د خپلي دعوې حق سته، چې په خپلي حصې باندي دعوه وكړي.

او بل جواب په تاريخ مذكوره كي دا دى، په صورت محضر كي په شان كي د مړي، قول زموږ د امامانو عليهم الرحمة، چې د شرط صحت دا دى د دعوې دپاره، علم درلودل پر مدعى عليه باندي چې زموږ مدعى

علیه دغه سړی دی او دعوه پر یو شخص غیر معین باندې وړ د اعتبار د قبول نه ده، او نه یو وکیل معلوم وي، چې مخ ته په مسئله کې ذکر سول، چې اوس قاتل یو دی او که ډېر دي، چې مدعی ته داغه علم نه وي نو د مدعی دعوه نه قبلیږي، نه به د ده څخه طلب د شاهدانو کول کیږي، او نه پر مالک باندې د مځکې تاوان سته په مطلق ښکاره کېدو سره د مړي، د ده په مځکه کې، چې اقرباء دعوه وکړي د مځکې پر مالک باندې چې دا تا وژلی دی، یا تاریخ بیان کړي چې پر پلانکي تاریخ باندې ستا په مځکه کې زموږ مړی پیدا سو، داسې دعوه به قاضي د وخت نه قبلوي، او نه به د مدعی څخه طلب د شاهدانو کوي، که د مړي اقرباؤ دعوه وکړه پر بل چا باندې هغه منع وکړه د دعوې څخه د دوی، بیا یې دعوه قبلیږي . کما فی حاشیه الدر، والخیریه، والله تعالی اعلم .

سوال:......

یو سړی مړ سو دوه ورارګان یې ځیني پاته سوه او بل وارث نه لري، او د اکا څخه څه مال پاته سو په میراث کې، یو سرای دی او بل د خورما درختي دي، اوس په دوی دوو کې غوښتنه د تقسیم وکړه چې راسه تقسیم وکړو په میراث کې د اکا او د پلار، د دوی دواړو میراث به سره تقسیم کړو، په دې دوو ورنو کې یو دعوه وکړه چې دا درختي او مځکه ما د اکا، او د خپل پلار څخه رانیولي دي، په بیع باندې قابله یا استاپ ښکاره کې غیر ثابت وو د مضمون سره، او دا بل ورور یې انکار وکې ددې دعوې څخه، چې دا دعوه دې زه نه منم، نو اوس آیا د ده دعوه اعتبار د قبول لري او که نه؟ او اکا او پلار یې بل وار هم نه لري نو څه به کوي؟

جواب:......"**إذا لم يثبت الأخ انتقال ما ادعى الاختصاص به من تركة أبيه و عمه بناقل شرعي يكون جميع ما تركاه بينه و بين أخيه حيث لا وارث سواهما و الله تعالى اعلم**" . نو لـه مـذكوره عباراتو څخه دا ثابتـه سوه كه چيـري دا انتـقـال پـه شـرعـي طريقه سره ثابت نه كړي، نو بيا ټوله ميراث ددوی دوو په مابين كي په شرعي طريقه سره تقسيم كيږي .

سوال:......

يـوه ټـولـۍ د خلـكـو دعوه لري پر يو نابالغ هلک باندي ، او دا هلک شرعي وصي هم لري، نو اوس آيا د دوی دعوه قبليږي او كه نه؟

جواب:......"**سمع الدعوى على الوصى المذكور ، والله تعالى اعلم**" . نو له مـذكـوره عباراتـو څخه دا ثابتـه سوه چي دعوه يې پر وصي باندي صحيح كيږي .

سوال:......

يـو سړی دعـوه وكړي د اوبو پر بل سړي بغير د مځكي، دا دعوه به قاضي اوري كه نه؟

جواب:......دا دعـوه نـه اوريـدل كيـږي پـه قيـاس كـي اورېدل كيـږي پـه استـحسـان كـي قال عالمكيرية و إذا ادّعى شربا في يدى رجل بغير أرض لـم تسـمـع دعـواه قيـاسـا و تسـمـع استـحسانا كذا في محيطه السرخسي . (عالمكيرية ص ٥٢ ج ٥)

سوال:......

كه ديو سړي بياله د بل په مځكه كي تېره سوې وي اوس د مځكي مالک دا غـواړي چـي دا نهـر بـنـد كـړي دا د مځكي مالک داحق لري چي دا بياله بنده

کړي که يې نه لري؟

جواب :...... کـه اوبه د مخه تر جګړې بهېدې په دا وياله کي د مځکي مالک د بندېدو حق نه لري: ”قال عالمگيرية و إذا كان لرجل نهر فى أرض رجل أراد صاحـب الأرض أن يمنع صاحب النهر من اجراء الماء فيه فان كان الماء جارياً إلـى أرض صاحب النهر وقت الخصومة او علم أنه كان يجرى الماء إلى أرضه قبل ذلك فانه يقضى بالنهر لصاحب النهر الا أن يقيم صاحب الارض البينة أن ملـكه و ان لـم يـكن الماء جاريا وقت الخصومة و لاعلم جريانه إلى أرضه قبل ذلك فـانـه يقضى لصاحب الأرض الا أن يقيم صاحب النهر البينة ان النهر كان ملكه “(عالمگيريه ص٤٥٢ ج ٥)

سوال :......

کـه يـو سړي دعـوه وکـړه پـه نهر کي يا په کارېز کي د لسمي حصې او يوه شـاهد د لسـمي حصې شاهدي ادا کړه بل شاهد تر لسـمي کم شاهدي ادا کړه د دا سړي دعـوه صحيح ده که نه ده صحيح ، دا شاهدي صحيح ده که باطل؟

جواب :......دا دعوه نه صحيح کيږي دا شاهدي باطله ده :

”قال عـالـمگيرية و ان ادّعى عشر نهر او عشر قناة فشهد له أحدهما بالعشر و الآخـر باقل من ذلك فى قول أبى حنيفة رحمه الله تعالى الشهادة باطلة و ان شهـدا بـالا اقـراره لاختـلاف الشـاهـديـن لفظا و معنى و على قولهما تقبل على الاقـل استـحسـانـا و ان شهد أحدهما بالخمس بطلت الشهادة لأنه قد شهد له بـأكثـر مـمـا ادّعـى و إذا ادّعـى رجل أرضا على نهر بشربها منه و أقام شاهدين انهـا لـه و لـم يذكرا من الشرب شيئا فانى اقضى له بها و بحصته من الشرب و ان شهـدا لـه بـالشرب دون الارض لم يقض له من الارض بشيئ كذا فى المبسوط

عالمگیریة ج ٥ ص ٤٠٤"

سوال :.......

د یـو سړي دوه سرایونه دي د یوه سرای د چت او به د بل سرای پر را بهیږي دا یـو سرای یې پر یـو چا خر څ کـی په ټول حق سر د سرای بیا وروسته یې دابـل سرا هـم خر ځ کـی پر بـل سړي، اوس دا اول مشـتري اراده د بندولو د اوبو وکړه د خپل سرای څخه دا مشتري حق د بندولو لري که نه؟

جواب :.......

دا مشـتري اول حق د بندولو د اوبو لري:

"قال عالمگیریة داران لرجل مسیل ماء سطح أحدهما علی سطح الاخری فباع التـی علیها المسیل بکل حق هو لها ثم باع الدار الاخری من رجل آخر فأراد المشتری الاول أن یمنع الثانی عن اسالة الماء علی سطحه فله ذلك الا أن یـکـون اشتراط البائـع علیه وقتما باعه أن مسیل ماء التی لم أبع فی الدار التی بعت " ۔(فتاوی عالمگیریة ج٥ ص ٣٩٤)

سوال :.......

یـو سـړی خپـله مځکه اوبوي چي او به یې را ایله کړې په واله کي او بـه چي دده مـځـکـي تـه تیـري سـوې بـل سړي په بیاله کي خاوري اچولې وې او بـه ولاړې د بـل مـځـکـي تـه پـه هـغـه مـځکه کي پمبه کرلي وو هغه پمبه یې خراب سو دا تـاوان د پـمبه وو پر چا دئ ؟ د بیالې پر مالک دئ که د خاوري پر غورځونکي؟

جواب :.......دا تاو ن پر هغه چا دی چي خاوره یی په بیاله کي غورځولې وه :

"قـال عالمگیریة رجل سقی أرضه و ارسل الماء فی النهر حتی جاوز أرضه و

قد كان طرح رجل اسفل منه في النهر ترابا فمال الماء عن النهر حتى خربه فجاوز فغرق قطن رجل فالضمان على من أحدث في النهر يعنى ترابا و ليس على مرسل الماء شيئ ان كان له في النهر حق كذا في الخلاصة“ ۔(فتوى عالمگيريه ج ٥ ص ٣٩٨)

سوال :......

يو سړي دعوه وكړه پر بل سړي باندي، يعني د بل سړي پر نيم سراى باندي، او پر يوه ټوټه مځكه باندي چي دا زما مورثه ملك دى، نو مدعى غواړي چي مدعى عليه د مځكي او نيم سراى څخه لاس واخلي، او مدعى عليه هم اقرار وكړ چي هو ! دا پـه حقيقت كي مورثه دي، مگر مدعي عليه د مدعى حق ساقطوي په مځكه او سراى كي، مدعى عليه نيم سراى پر مدعي باندي خر څ كړى، په مناسب قيمت سره ،او پر دې مورثه باندي مدعي شاهدان پېش كړه د قاضي په مخ كي او دايې ثابته كړه چي دا مورثه ده د مدعي ، نو اوس حاكم حكم كولاى سي د مدعي لپاره او كه نه؟

جواب :......

”نعم يحكم بما ذكر حيث لا مانع ، و الله تعالى اعلم“ نو له مذكوره عبارته څخه دا ثابته سوه چي قاضي د ده لپاره حكم وكړ يعني د مدعي لپاره، دلته هيڅ مانع نسته .

سوال :......

يو سړى مځكه لري او دا مځكه د خپل پلار څخه په ميراث ور پاته سوې ده، نو د پلار تر مرگ وروسته يې پر دې مځكه باندي پنځلس كال نفع

واخیستله، او خراج هم ځیني ورکوي، او دا خراج پر ده باندي فرض سوی هم وو په کتاب کي د صراف، اوس یوه پردي سړي دعوه وکړه چي دا مځکه زما ده او دا یوه پَرَدی سړی په دغه ښار کي هم اوسېدی په دغه پنځلس کلو په موده کي، او هیڅ مانع هم نه وي، چي دی یې منع کړی وای د دعوې څخه، نو اوس چي ده دعوه وکړه نو د ده دعوه صحیح ده او که نه؟

جواب:......

”لا تسمع الدعوی بعد مضی خمس عشرة سنة ، الا فی الوقف والارث ، و وجود عذر شرعی فإذا کان المدعی حاضر اولم یدع فی تلك المدة مع تمکنه ، من الدعوی فیها لا تسمع دعواه الآن حیث کان المدعی علیه ، جامدا علی انهم صرحوا بان الحق فی أرض الزراعة الامیریة یسقط باهمالها و ترکها اختیاراً سفینا متوالیة علی فرض سبق تحقیقه والله تعالی اعلم“ .

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي، مدعي دعوه نه ده صحیح ، او که چیري په دغه موده کي حاضر وو، او شرعي عذر یې هم نه درلودی ، او دا امکان یې هم وو چي دی حاضر سوی وای خو پر دغه هر څه باندي بیا هم دی حاضر نه سو نو اوس دا دعوه صحت نلري، او که بیا چیري شرعي عذر موجود وو، دی ددې شرعي عذر له کبله نه سو راتلای بیا یې دعوه صحت لري، چي دعوه وکړي .

سوال:......

یوه سړي د بل سړي پر معلومو پیسو باندي دعوه وکړه، چي دا زما پر تا باندي دي، یعني دا ما و تا ته په پور درکړې دي ، مدعی علیه انکار وکړي

لـه دې څـخـه، او مـدعـي پـر دې دعـوه بـاندي شاهدان هم نه لري ،چي پر دې سړي بـانـدي شاهد ور کړي ، مګر مدعي يو شاهد لري نو اوس آيا پر مدعـى عـلـيـه بـاندي حـکـم کـول کـيږي پـه يو څـه شي باندي ، چي دا و مدعي تـه ور کړي او که نه، او بل دا و مدعى عليه ته قسم ور کول کيږي او که نه؟

جواب : ...... ”**لا يـحـكـم عـلى المدين المنكر بعد حلفه اليمين الشرعية بشهادة الفرد ـ و الله تعالى اعلم**“ ، نـو لـه مذکوره عبارتـه څخـه دا ثابتـه سوه چي پر پـوروړي بـانـدي چي منکر هم وي حکم نه سي باندي کولای ، وروسـتـه تر قسـم ، او قسـم ور کـولای سي ، او تر قسم وروستـه بياحق نه لري ، او د يوه نفر شاهدي نه قبليږي .

سوال : ......

يو سړی مړ سو دوه نارينه اولادونه يې پاته سوه ، دواړه هم ځوانا ن دي ، خو دا يـو يې جوړ او روغ دی د خپل عيال نفقه هم برابروي ، او هغه بل يې شل دی نـه خپله نفقه برابرولای سي او نه خپل عيال ، وروسـتـه تر مرګه د پلار او اکـا ، هغـه روغ زوی يې دعـوه وکـړه چي دا درختي او مځکي ما دخپل پـلار او اکـا څـخـه رانيـولـي دي، او پر دا عـوه بـانـدي يې قباله يا استمپ او خطونه ښکاره ګړه ، او ثابتـه يې نه کړه په شرعي طريقه باندي، نو اوس آيا که دغه زوی چي دعوه يې کړې ده ، که په شرعي طريقه ثابتـه نه کړي نو دا تهولـه تـر کـه د ده کـيږي ، کـه د دوی دواړو پـه مابين کي سره تقسـيږي پـه شرعي طريقه سره، او اعـتبار و قبالي تـه يا استمپ تـه سـتـه او کـه نه؟

جواب : ......”**حـجـج الشرع ثلاث البينة ، والاقرار ، والنکول ، فلا يقضي القاضي بصك بدون اثبات مضمونه شرعا ـ**“**والله تعالى اعلم** . (فـتـاوى مهديه ج ۴ ص

۱۲)

نو له مذكوره عبارته څخه دا ثابته سوه، چې شرعي دليلونه داسي دي، اول شاهدان درول، او بيا اقرار كول، دريم انكار كول نو قاضي د وخت فيصله نه سي كولاى تر څو چې خپله دعوه په شرعي طريقه ثابته نه كړي، او كه چيري خپله دعوه يې نه كړه ثابته پر طريقه شرعي باندي، نو ټوله مورثه به د دوى دوارو ورونو په مابين كي په شرعي طريقه باندي وېشل كيږي .

سوال :......

يوه مسئله ډېره واقع كېدونكې ده په ښارو كي هغه مسئله داسي ده چې حق د مدعي وي په هغه سره، غلا، غصب، امانت، او قرض، ګرو، اجاره، خواست، يا دابه مشتركه، او يا غير مشتركه ، او دغه رقم سراى، په مثل ددې سراى، يا يې ژرنده يو چا ته په هبه سره وركړې وي، يا په بيع فاسدي سره، يا مهر، يا داسي نور شيان، ديو چا سره وي آيا په مطلقي موده د پنځلسو كلو په تېرېدو سره، د مالك د لاسه وزي، او د مدعي دعوه به نه اورېدل كيږي پر دې مدعى عليه باندي، د دغه مودې په تېرېدو سره، او نه به مدعي دعوه كوي، نو د مدعي پر ن ه دعوه كولو باندي دليل څه شى دى ، چې مدعي به دعوه نه كوي، كه بيا چيري د مدعي دعوه صحيح سي، نو آيا دا منع به همېشه وي كه به همېشه نه وي، او كه بيا چيري هم قاضي د مدعي دعوه قبوله كړه، نو څه حكم پر مرتب كيږي، كه بيا چيري دعوه د مدعي قبوله نه كړي نو آيا حق ددې مدعي ساقطيږي او كنه؟ كه ساقط نه سي نو بيا يې په منع كولو كي فائده څه شى ده نو اوس ټوله حقوق په

منع کي سره برابر دي او که نه؟ یعني د موده د دې پنځلسو کلو په تېرېدو کي، او که فرق سره لري؟ او بل دا چي خاوند د دغو شیانو غائب وي یعني نه وي، یا کوچنی وي، یا لېونی وي، هم به یې د خپل حق په غوښتو لو کي دعوه نه اورېدل کیږي ؟ او که به اورېدل کیږي، او دا مسئله په اصل مذهب کي موجوده ده او که نه؟

جواب : ......"لم يفهم مراد هذا السائل و لم يعلم سر تكرار الاسئلة ، بلا فائدة و المنقول فی کتب أئمتنا الاعلام ان الحق لا يسقط بطول المدة ، و ان القضاة ممنوعون من قبل ولی الأمر من سماع ما مضی علیه خمس عشر سنة ، من الدعاوی فی الحقوق كلها قطعا ، للتزوير ، و دفعا للتحسيل الاكل أموال الناس بالباطل ، و استثنیٰ من النهی عن سماع الدعوی، بعد هذه المدة الارث ، والوقف و أما إذا كان المدعی معذوراً عن الدعوی فی تلك المدة وغير متمكن منها فيها سمع دعواه لاستثناء العذر الشرعی أيضا، و لا وجود للمنع عن سماع ما مضی عليه ، تكل المدة من الدعاوی فی أصل المذهب و انما ذلك من النهی السلطانی عن السماع لما قلنا فهو تخصيص للقضاء لكونه يقبله كما صرح به العلماء و مع ذلك فالنهی كالأمر يبطل بموت صاحبه كما حققه ، فی رد المحتار ، ما لم يجدده من بعده من ولاة الامور و قد قیل بذلك " والله تعالى اعلم .

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه، چي حق د اوږدې مودې په تېرېدو سره نه ساقطیږي، خو دا منع یې د اُولی الأمر د خوا څخه ده، یعني د مذهب د امامانو علیهم الرحمه څخه ده، دا په دې وجه باندي چي د خلکو مالونه په باطله طریقه سره و نه خوړل سي ، او که چیري یو سړی غائب

وي او شرعي عذور لري بيا هم د دعوې حق لري، او دعوه يې اوږدل کيږي ، او يا کوچنى وي لوى سي بيا هم حق د دعوې لري، او يا لېونى پرسد سي بيا هم حق د دعوې لري چي په خپل ملک باندي دعوه وکړي او د وخت قاضي به يې دعوه قبلوي ،او په دې مسئله کي شرعي عذرونه ځيني وتلي دي په کنبي داخل نه دي، هغه لکه چي سړی ليري وي په خبر نه وي يا کوچنى وي په هغه وخت کي دعوه نسي کولای، يا لېونى وي دعوه نسي کولای، او داسي نور شرعي عذرونه چي موجود وي نو دی نه سي کولای چي دعوه وکړي په خپل ملک سره، بيا هم حق د دعوې لري، او دا مسئله په اصل مذهب کي ده خو دا منع يې منع سلطاني ده، د مصلحت په خاطر سره، هغه وجه يې د منع په مسئله کي تېره سوه .

سوال:......

يو سړي پر يوه ټوټه مځکه باندي حاصلات اخيستل، تر پنځلسو کلو زياته موده تېره سوه، دغوندي زياته موده کې يې نفعي ځيني اخيستلې، يو بل سړي دعوه وکړه چي دا مځکه خو ما وقف کړې ده او ددې دعوه کوونکي سره يې قباله يا استمپ هم وو او د دعوه کونکي سره شاهدان هم نسته نو اوس آيا په مطلق قباله يا استمپ سره قاضي حکم کولای سي او که نه؟

جواب: ......"لا يحكم بمجرد صك لم يثبت مضمونة شرعا و الحجة ،البينة و الاقرار ، او النكول ـ" والله تعالى اعلم .

نو له مذکوره عبارت څخه دا ثابته سوه چي په مطلق قباله يا استمپ سره قاضي حکم نسي کولای، چي په شرعي طريقه يې ثابته نه کړي ،

چي هغه نو شاهدان پېش کول دي، يا اقرار دی او يا انکار کول دي .

سوال :......

يـو سـړي يـوه ټـوټـه مـځـکـه رانيوله او بيا يې پر دې مځکه باندي درختي کښېښـودې د مېوې، يو څه موده وروسته يې هغه نوره مځکه هم رانيوله ، نـو ټوله مځکه يې د بائع څخه رانيوله او په خپل ملک کي يې راوستله، يـعـنـي دېرش (۳۰) کـالـه يې تصرف د دې مځکي په خپله وکی، اوس بل سـړي دعوه وکړه چي دغه مځکه ما د خپلي انا څخه را نيولې هغې د خپل خـاونـده څخه رانيولې ده ، نو اوس آيا د دعوه کوونکي دعوه قبليږي او که نـه؟ او بـل دا د دعـوه کـوونـکـي د شـاهـدانـو شـاهـدي به قبليږي او که به نه قبليږي، او مدعی علیه پر مځکه باندي تصرف کړی دی او درختي يې پر ينبي دي او داسي نور؟

جواب :......"سـكوت المورث تلك المدة عن دعوى الملك بالشراء بدون عذر مع مشاهدة تصرف واضع اليد فيها مانع من سماع دعوى وارثه "و الله تعالى اعلم .

نـو لـه مذکوره عبارتـه څخه دا ثابتـه سوه چي د مدعي دعوه او شاهدان نه قبـلـيـږي ځکه پـه دومـره مـوده کـي د ده وارثـان هم دعوه کولای سوای پـه رانيـولـو رسـه او هـيـڅ عذر يې نه درلودی، او هغه سړی يعني مدعی عليه هـم ويـنـي چي هغه تصرف په کښي کوي او پر دغه سربېره بيا هم وارثان سـاکـت دي دعـو نه کوي نو ځکه د مدعي دعوه نه قبليږي، او نه د شاهدانو شاهدي قبليږي ،په دومره ډېره موده کي .

سوال :......

دیو سړي یوه تهوته مځکه په خپل ملک کي وه او بیا یې درختي پر کښیښودې او نیالګان یې پر کښیښول او دا مځکه یې په خپل ملک کي (۲۵) کاله وساتله او هیڅ دعوه کوونکی پیدا نه سو، بیا یې (۲۵) کاله زوی د دې مځکي تصرف کوي هم هیڅ دعوه کونکی پیدا نه سو چي دعوه په وکړي، ددې څخه وروسته بیا یو سړی ښکاره سو چي هغه هم عصره وو دده پلار او په هغه وخت کي یې دعوه نه کوله او س یې دعوه شروع کړه چي زه او ستا پلار په دې مځکه سره شریکان یو، نو آیا د ده دعوه قبلیږي او کنه؟

جواب:......

"لاتسمع الدعوی بعد مضی خمس عشرة، الا فی الوقف و الارث و وجود عذر شرعی" و الله تعالیٰ اعلم .

تو له مذکوره عبارت څخه دا ثابته سوه چي تر پنځلسو کالو مدې په تېرېدو سره بیا د مدعي دعوه نه قبلیږي مګر که یې چیري شرعي عذر درلودی، او بل په وقف کي او بل په میراث کي یې دعوه قبلیږي .

سوال:......

یو تاجر سړی مړ سو، ورثه یې کوچنیان او لویان پاته سول او ددې مړي ترکه پاته سوه یعني میراث یې پاته سو، او پر دې تاجر باندي د تهولیو تهولیو خلکو پورونه باندي دي، بعض خلک ددغه ښار دي او بعض خلک بیا غائب دي خو لنډه مسافه لاره لري، هر پوره وړی خپله دعوه ثابته وي او خپل حق یعني خپل پور اخلي او قبض کوي، بعض پوره وړي په شاهدانو سره ثابتوي او په قسم سره، او بعض یې شاهدانو سره په خط

بـنـدې چې دا خط د شاهدانو په مخ کې نوشته سوی دی، بعض يې په قسم سـره وروستـه تـر شـاهـدانـو ثابتوي، او بعض يې قسم نه اخلي د خپل حق دپاره، نـو اوس آيـا د شاهدانو شاهدي پر خط المتوفى باندې قبلیږي او که نه ؟ د تاجر مال د ده د وارثانو په لاس کې دی، که به حاضرېږي د قاضي او د وارثانو په مخ کې به قسم اخلي، څه به کوي؟

جواب:

"يـعمل بخط التاجر فيما عليه ومن شهدت له بينة يدين على ميت لا يقضى له بـه ، و لا يـدفع له ذلك الدين الا بعد حلفه اليمين على الصفة المعروفة على ما أفتـى بـه الـعلامة الرملي وغيره" والله تعالى اعلم .نو لـه مذکوره عبارت څـخـه دا ثابتـه سوه چې د تاجر په خط باندې عمل کولای سي ، چې په دغه خـط بـانـدې شـاهـدان شـاهدي ورکړي د مړي په مخ کې، او قاضي پر خط بـانـدې فـيـصـلـه نـه سـي کولای او نه دا پور ورکولای سي مګر نه که قسم واخـسـتـی بيا يې پور ورکولای سي .

سوال:

يـو سـړی مـالک سـو ديـوې مـځـکـې او پـه دې مـځـکـه کـې يـې درختـې کـښينـولـې مـيـوه داري، او بيـا يـې دغـه درختې خرڅې کړې پر يو شخص مـعـلـوم باندې ، او په معلوم قيمت باندې، او دا يې مشتري ته وويل چې په مـځـکـه کې حق نه لرې،يوازې درختې ستا دې ، مشتري درختې او مځکه دواړه پـه خپـل ملک کـې راوستـل تـصـرف يې پـه کـښې وکـی دوه کـالـه وروستـه بيا بـائـع دعـوه وکړه چې دا بيع تا له ما سره په زوره وکړه، نو که مـشـتـري لره شاهدان وي او شاهدان هم دا شاهدي ورکوي چې دا بيع ستا او

د مشتري په مابين كې په رضا سره سوې ده، او د بائع سره هم شاهدان وي هغه شاهدي وركوي چې دا بيع ستا او د مشتري په مابين كې په رضا سره نه ده سوې دا په زوره سوې ده، د مشتري شاهدانو د مخ شاهدي ادا كړه تر شاهدانو د بائع، او په شاهدانو كې يوه هم تاريخ بيان نه كړى، نه د مشتري شاهدانو او نه دبائع شاهدانو، نو اوس به د كوم يوه شاهدان په شاهدي كې مقدم وي؟

جواب:......

"بينة الاكراه أولى، من بينة الطوع ان أرخا واتحد تاريخها فان اختلفا اولم يؤرخا، فبينة الطوع أولى من بينة الاكراه على مااعتمده، مصنف تنوير الابصار" والله تعالى اعلم . نو په مذكوره عبارت څخه دا ثابته سوه چې د زور والا شاهدان په شاهدي كې مقدم دي كه چيري تاريخ بيان كړي يا سره موافق سوه په تاريخ كې، او كه بيا چيري سره مختلف سوه په تاريخ كې بيا د مشتري شاهدان په شاهدي كې مقدم دي، د مشتري د شاهدانو شاهدي به قبليږي .

سوال:......

يوه مځكه څلور حصې ده، د درو (۳) حصو لس كسه مالكان دي، يوه حصه يې د دې څلورو حصو څخه وقف كړه د الله تعالى د رضا دپاره او پر دې څلورمي حصې يې متولى هم وټاكى، او پر دغه درو حصو باندي دغه لس كسو پنځوس كاله تېر كړه، هغه څلورمه حصه يې هم د متولي څخه رانيوله، بيا يې وروسته متولى دعوه وكړه چې دا ټوله مځكه ما ته وقف سوې ده، نو اوس ددې متولى دپاره نه شاهدان سته او نه يو بل داسي

شرعي دليل لري، نو آيا د ده دعوه اعتبار لري او كنه يعني د ده دعوه قبليږي او كنه؟

جواب: ......"من المعلوم ان القاضى لا يحكم للمدعى بمجرد ، دعواه بدون برهان شرعى " والله تعالى اعلم . نو له مذكوره عبارت څخه دا ثابته سوه چي قاضي بې له دليله شرعي حكم نه سي كولاى، نو متولي به شاهدان پېش كوي چي هغه هم عادلان وي، چي هغه شاهدي وركړي چي شاهدي يې قبوله سوه بيا به قاضي حكم او فيصله كوي .

سوال: ......

يوه تولې ديو باغ مالكان دي پر طريقه د ميراث د خپل وارث څخه، په دې باغ كي تصرف وكى يو له دوى څخه په بيع سره په حصه خپل سره څني رانيوله خپله حصه او د دوى حصه، بې له اجازې د هغه نورو ورونو او پر دغه طريقه يې تصرف په كښي وكړى دروېشت (۲۳) كاله، او دلته بعض بعضي مستحقين موجود هم وو، په وخت كي د بيع، او بعضي ورونه يې غائب وو يعني نه وو موجود، نو اوس هغه غائب ورونه يې حاضر سول او دوى د هغو كلو څخه خبر وو په دې بيع سره خو د خپل حق دعوه يې نه كوله، نو اوس دوى اراده لري دخپل حق د غوښتلو، او دغه رنګه حاضرين ورونه يې هم دعوه د خپل حق د غوښتلو كوي نو آيا د حاضرينو ورونو يې دعوه صحيح كيږي او كه نه؟ او كوم وخت چي بيع كېدله دا حاضرينو ورونو ئې هم دعوه نه ده كړې او نه يې بائع ته اجازه كړې ده، نو اوس آيا د دوى سكوت ته اعتبار سته او كه نه؟ د دغې مودې را هيسي چي تېره سوې ده، او مشتري اقرار كوي دوى لره په حق سره په

درختو كي چي دا د دوى حق دى، نو آيا د مشتري دا اقرار قبليږي او كه نه؟
جواب: ......" حيث اعترف واضع اليد باصل الملك للمدعي يؤمر برفع يده عن المدعي به إذا لم يثبت الانتقال اليه بناقل شرعي " و الله تعالى اعلم .
نو له مذكوره عبارت څخه دا ثابته سوه چي مشتري اقرار وكوى دوى لره په اصل ملك سره او مشتري دي په دې سره امر سي چي دا خو و دوى ته ور تسليم كړه هغه نور چي پاته دي، پر هغه باندي به شرعي دليل پېشوي او كه شرعي دليل پېش نه كړي نه به يې ور كوي، او بيا يې دعوه نه ده صحيح .
سوال: ......
يو سړي په سراى كي زياته موده تصرف وكى، يعني (٣٠) كاله يې په دغه سراى كي تصرف وكى، او ده لره هيڅ دعوه كوونكي پيدا نه سو په دغه دېرش كاله موده كي، د دېرشو كلو وروسته يو سړي ښكاره سو دعوه يې شروع كړه په دې سراى باندي، چي دا سراى ما و دغه سراى والا ته په همسايتوب وركړى دى، نو آيا د ده دعوه موجب د دليل شرعي ده او كه نه؟ او او ده پخپل لاس سره دى په دې سراى كي داخل كړى دى، نو آيا اوس د ده دعوه قبليږي او كه نه قبليږي ؟ او بل د ده دليل شرعي به قاضي قبلوي او كه به يې نه قبلوي؟ او سره له دې چي دى په دغه موده كي حاضر هم وو، او هيڅ عذر شرعي يې نه درلودى چي دى يې د دعوې څخه منع كړى واى په دغه ذكر سوې موده كي .
جواب: ......"لا تسمع دعواه الملك والحال هذه حيث انكر ذواليد دعواه" و الله تعالى اعلم . (فتاوى المهديه ج۴ ص ٢٦)

نو له مذکوره عبارت څخه دا ثابته سوه چي د مدعي دعوه نه قبلیږي، ځکه چي سرای والا انکار کوي چي دا زما خپل ملک دی، زه په همسایتوب نه یم پکښې کي، نو قاضي به دعوه نه قبلوي .

سوال: ......

یو سړي دعوه وکړه پر بل شخص باندي چي ما ستا وږور ته معلومي پیسې ورکړي دي، او د دعوه کوونکي قصد دی د مطالبې د ده څخه یا د ده د وږور څخه د پیسو، نو ده انکار وکی چي تا زما وږور ته پیسې نه دي ورکړې، او دی یعني دعوه کوونکی شاهدان هم نه لري او نه حجت شرعي لري، نو آیا په مطلقي دعوه سره به د ده دعوه قبلیږي او کنه؟ او هغه وږور یې غائب دی، چي دغه دعوه کوونکی دعوه پر کوي؟

جواب: ......"نعم لا یجاب لذلك بدون کفالة شرعیة و المال ما ذکر" و الله تعالی اعلم . نو له مذکوره عبارت څخه دا ثابته سوه په مطلقي دعوه باندي د بل چا ملک نه ثابتیږي، هغه شرعي ضامن غواړي هغه ددوی دوو په مابین کي چي ضمانت کړي دی، چي هغه ضامن نه وي د مدعي دعوه نه قبلیږي .

محترمو لوستونکو! حوالې پاته شوې دي اکثره د فتاوی مهدیه ج ۴ څخه دي .



فصل فی الحیطان والمیزاب والطریق:

مسئله :. که وو سرای په مابین کي د دوو کسانو، و نړېدی د یوه څخه: "لم یرجع علی شریکه بشيئ ولو کان داراً بین الاثنین فانهدم عن أحدهما لم یرجع علیه شریکه بشیئ کذا البیر والحمام فصول عمادی"(مهدیه ص:٤٦٠ تر ٥٣٨ جلد ٥)

مسئله :. سرای د دوو کسانو شریک وو د لوړ چت اوبه پر کښته راتلې کښته والا اراده وکړه چې چت لوړ کړي یا پر چت بل چت جوړوي دا ورته جائز ده مګر هغه بل د خپلو اوبو تېرېدو پوښتنه کولای سي.

مسئله :. یو سړی غواړي چې په فضاء د خپل سرای کي په کوڅه بند کښي ځای جوړ کړي:"فللجیران ان یمنعه"

مسئله :. که سړی بلډنګ دومره لوړ کړي چې پر همسایه هوا او لمر بند سي: " جواب لا یمنع عن ذلك و ان بلغ عنان السماء و ان منع لضوء "

مسئله :. سړي سرای خپل نړاوی خو د همسایه سرای یې هم په ونړاوی:

الجواب: " لا یضمن لأنه غیر متعد ولو هدم حائط الرجل ملکاً له یضمن النقصان "(فتاوی امینة) . که سړي خپل سرای ونړوی او پرې یې بنوی او په دې همسایه ته ضرر رسېدی الجواب لیس لهم ذلک .

مسئله :. که په کلۍ غیر ایله یعني بنده کلۍ کي د پسو د ساتلو ځای جوړ کړي خو همسایه یې د بوی څخه په تکلیف وو، جواب: نه یې سي منع

کولای ولي دا یقین نه ده هره ور ځ صفایی کوای سي .
مسئله :. یو سړي خپل سرای کي د مېدېدو یو شی لکه ژرنده یا بل شی چي همسایه ته ضرر وي منع یې کولی سي: یمنع عن ذلک لاجل الضرر .
مسئله :. که یو سړي خپل سرای باغ کوی باغ یې ورشخه جوړوی .
جواب : همسایه یې نسي منع کولی . لیس لجاره ان یمنعه الا إذا کان أرض رخو یتعد ضرره إلی جداره له ان یمنعه .
مسئله :. دېوال مشترک وو د دوو کسانو : فبنی أحدهما علی الجدار یوه خبنته بې اجازې د هغه بل او هغه خبنته پر چت ده د هغه سړي چت یې ورخراب کړی . الجواب : فانه یضمنه فتاوی امینة و حمادیة .
مسئله :. دېوال د دوو شریکانو وو ونړېدی او د هغه د کور بنځي وې: لا یجبر و هو المختار والمأخوذ به حمادیة و فی البئر مشترک والدور و نحوه یجبر شریک علی العمارة و ان کان معسرًا وانفق الشریک یکون دیناً علیه (فتاوی حمادیة)
مسئله :. که سرای مشترک وي د دوو کسانو او سرای ونړېدی دا یو شریک طلب د جوړېدو وکړي نو نه مجبوره کېږي پر جوړېدو او که یوه شریک جوړ کړی: لا یکون متبرعاً بل یأخذ حصة منه او یأخذ اجرة الدار .
مسئله :. که سړي اراده وکړه چي وګرزوي خپل سرای ژرنده او ضرر یې همسایه ته رسېدی همسایه یې منع کولی سي .
مسئله :. تنور والا تنور جوړ کړی ده کپړو والا په دوکانو کي دود یې پر کپړو والا لګېدی منع یې کولی سي .
مسئله :. ژرنده حمام مشترک ونړېدی او یو شریک د جوړېدو شخه منع

وکړه جواب قاضي به يې مجبور کوي او که ټول ونړېدی صحرئ سوه نه مجبور کيږي او که يو د شريکانو جوړ کړی په اجازه د هغه بل بيا به تاوان ورکوي او که يې د هغه بل بې اجازې جوړ کړی بيا يې ضمان نسته دی متبرع دی . (فتاوی امنيه)

مسئله :. که د يو سړي چت وو او و چت ته د ختلو په وخت کي د هغه بل سړي کور معلومېدی . الجواب بندولای يې سي . (حمادية)

مسئله :. د يوه سړي سرای دی په بنده کوڅه کي: لها باب أراد ان يفتح لها باباً الصحيح انه ليس له ذلک وان أراد ان يفتح باباً اعلى من بابه له ذلک . يو سړی په کلي کي لاره درلود: او دروزاه يې هم درلوده اوس بله دروازه که خلاصوي کولای يې سي . (حب المفتين)

مسئله :. که سړي په سرای کي سوروی ورکړی او د همسايه کور ورڅخه معلوميدی سوری به بندوي . و هو مختار المتأخرين و عليه الفتوی (حمادية) ولذان يفتح باباً على جداره اسفل من الباب الاول او اعلى منه و به يفتی (خزانة)

مسئله :. إذا أراد ان يفتح باباً فی موضع ليس حق المرور ليس له ذالک .

مسئله :. که د سړي ناوه د بل سړي په سرای کي وه هغه منع کړي د اوبو څخه دده په سرای کي . جواب : نعم له ذلک و ليس له ان يقلع الميزاب (خلاصه)

مسئله :. که د سړي ناوه وه او ده اراده وکړه چي ناوه لوړه کړي يا کښته کړي . جواب : ليس له ذلک الا برضاء الخصم .

مسئله :. د يوه سړي سرای دی په کوڅه غير خلاصه کي دده يوه دروازه

دالته سته او بله هم پکښي خلاصوي . اختلفوا فی ذلک الصحيح انه ليس له ذالک معنی نه يې سي خلاصولای ، و لو أراد ان يفتح بابا آخر علی باب کان له ذلک و اختار شيخ الاسلام له ان يفتح باباً علی الجدار اسفل من الباب الاول و اعلی منه (فصول عمادی)

مسئله :. که سړی خپل په ځای کي کارېدل کول و افتتر منها حائط جاره لم يکن له منع .

مسئله :. که يې خپل کور د پسو ګنج کی او خلک يې د بوی څخه په تکليف وو . جواب : ليس لهم فی الحکم منعه (هنديه)

مسئله :. که يې چت د يوه سړي د سرای طرف ته او ده دالته قديمه ناوه درلوده . الجواب : فليس لصاحب الدار ان يمنعه و هذا استحسان و به جرت العادت و اما أصحابنا فقد اخذو بالقياس و قالوا ليس له ذالک الا ان يقيم البينة ان له حق السيلة (حمادية) و قال بعضهم ان کان الميزاب قديم يستحق اجراء الماء کيف ما کان وحد القديم ان لا يحفظ اقرانهم .

مسئله :. که يې اراده وکړه چي دروازه خلاصه کړي په هغه ځای کي چي دی د مرور حق نه لري، الجواب : ليس له ذلک .

مسئله :. خونه وه او په بغل کي مطبخ ووچي د کور والا نه وو او د ده په خونه کي ددغه مطبخ کړکی وه من القديم فلما خرب التنور و أرادو ان يبنی تنور آخر أراد صاحب البيت ان يسد الکوة لدفع أذی الدخان الجواب فله ذالک و ان کان جدار الذی فيه الکوة مشترکا فليس له ذلک و قال المشائخنا ان الدار ان کان مجاورة للدور فأراد صاحب الدار ان يبنی فيه تنور او . . . طحن او دق القصارين يمنع منه لأنه يتضرر به الجيران مر

فصول عمادی .

مسئله :. مشترک دېوال نـه مجبور کېږي يو يې پر جوړولو : و لا على قيمته لكن لو بنى أحدهما يمنع الاخر من جذوعه حتى يرد عليه قيمة البناء .

مسئله :. يو سړي ته همسايه اجازت د لرګي پر دېوال ورکړی بيا يې زېر خانه جوړه کړه تر سرای لاندي بيا يې سرای خرڅ کړی نو نوی رانيونکی لره ستــه چي لرګی او زېرخانه لري کړي : الا إذا شرط فى البيع ترك ذلك فح لا يكون له ذلك (حمادية) حل يې دا دی چي پروړه دي دود کړي بيا دي د سرای خولې ته وګوري لأنه متصرف فى ملك نفسه فليس للآخر ان يمنعه .

مسئله :. روا دي خاوند د دېوال لره لاره خلاصول په کوڅه کي : فى الشارع العام والخاص هو كان متصلا بجداره إذا لم يضر الناس بمروره المختار خزانة العلماء .

مسئله :. که يې خپل چت ته ختی خو همسايه کور معلومېدی نه دي خيـژي . والأصل ان من تصرف فى ملكه تصرفا يضر بجاره ضررا بينا يمنع منه .

مسئله :. يو سړي بنګله جوړه کړه او د هغې بنګلې څخه د همسايه زنانې معلومېدې او ده طاقت د ستر نه درلودی . الجواب : يأمروا بالسد بلا اختيار . بس سوروی دي د بنګلې ور بند کړي .

مسئله :. سړي سرای رانيوی د ده د سرای چت او د همسايه د سرای چت سره متصل وو برابر وو سره، همسايه اراده وکړي چي پرده جوړه کړي معنى و

همسايه ته د پردې امر و کړي . الجواب :لا يجبر علی ذلک لان الانسان لا يجبروا علی البناء فی ملکه يعني نه يې سي پر جوړولی که پرده غواړي خپله دي جوړ کړي . (فتاوی أبی ليث)

مسئله :. و ان المراد بالطريق فی الکتب الطريق فی الامضار دو ن المصفاوز و الصحاری لأنه لا يمکن العدول عنه فی الامصار غالباً دو ن الصحاری (کامليه ص ٢٥٨) د کامليه دغه مسئله دښار محٔکه کي ده نه په صحرايی ملکي کي .

و لا شک ان المناسب فی عصرنا الحاضر ان يقدر الطريق بقدر مرور السيارة (فقه الحنفی فی ثوبه الجديد ج ٥ ص ١٦٩)

مسئله :. إذا حدث أحد حفرة فی اتصال حائط جاره لوضع الاقذار فيها و کان امتصاص الماء موجبا للوهن الحائط و مضرابه فإذا کان ممکنا ازالة الضرر بتشديدها بالعکس و الا سمنت فيؤمر بازالة ضرره علی الوجه المذکور و إذا کان غير ممکن ازالة الضرر بذلک او امتنع عن ازالة الضرر علی ذلک الوجه فيؤمر برفع الحفرة وسدها . لکن إذا انهدم الحائط قبل ادعاء الجار ازالة الضرر و استحصال الحکم بذالک فلا ضمان علی صاحب الحفرة لا ن صاحب الحفرة قد حفر حفرة فی ملک فهو متسبب غير متعدا ما إذا تقدم الجار علی الوجه المبين فی المادة و طلب ازالة امتصاص الماء و انهدم الحائط بعد ذلک فيلزم الضمان . (رد المحتار، درر الحکام ج ٣ ص ٢١٣)

مسئله :. يو سړی وو په سرای کي يې درخته وه ځر ځ يې کړی او چي دوی درختي ته ورخيژي د هغه بل کور ښځي معلوميږي . الجواب: قاضي

دي منع كړي د ختو څخه، الجئها القاضی حتی یمنعه عن ذلک قال صدر الشهید فی واقعاته المختار ان المشتري يخبرهم و قت الارتقاء مرة او مرتين حتی يُسيّروا انفسهم، او هم دغه حکم دی چي څوک و خپل بام ته خيژي همسايه ته به خبر دوه واره ورکوي ورنه ختونکی مسئول او مجرم دی.

مسئله :. که چيري سړی سرای خرڅ کړي په يو کوڅه کي چي بنده وه او وه د وخت لار ددغه سرای په بنده ګلۍ کي او اراده وکړه مشتري ان يفتح باباً فی تلک السکة و منعه الجيران عن ذلک ينظر ان اقر أهل تلک السکة بذلک الباب فله ان يفتحه و يمر فيه لأنه قائم مقام البا ع ء و کان للبائع ان يفتح ذلک الباب و کذلک من قام مقامه و ان جحد أهل تلک السکة فالقول لهم مع ايمانهم إذا لم يکن للمشتری بينة و ان حلف واحد بعد واحد فان حلف الاول يسقط الايمان عن الباقيين . که خلګو قسم نه کوی له ان يفتح لانهم اقروا به (حمادية)

مسئله :. يو سرای په بنده کوڅه کي وو په مابين د خلګو کی او ټولو اتفاق وکړی چي خپله لار په بله ګلۍ کي خلاصه کړي دا هر يو کولی سي نور يې منع نه سي کوای . (حمادية)

مسئله :. که د يوه سړي ناوه وه د بل سړي په سرای کي او به د هغه په سرای کي تويي دلې هغه حق لري چي منع يې کړي: حتی يقم البينة ان له حق المسيل الماء فی و ليس لصاحب الدار أيضا ان يقطع الميزاب و هذا لان وضع الميزاب فی الأصل محتمل يحتمل ان يکون بحق بان شرط فی القسمة لهذا الرجل حتی تسيل الماء فی دار هذا الرجل و يحتمل ان

يـكـو ن بـغيـر حـق فبالشک لا يثبت لصاحب الميزاب حق تسبيل الماء في دار هـذا الـرجـل ولا يثبتـه لـصـاحـب الـدار حـق قـطع المـيـزاب . (فتـاوى حمادية)

”و فـي خـلاصة رجـل فـي داره شجرة بلغ أغصانها و إذا ارتقى يطلع على عـورات الـجيـران رفـعـوا الأمر إلى القاضي حتى يمنعه من ذلك والمختار أن يـخبـرهـم وقـت ارتـقاء مرة اومرتين حتى يستروا انفسهم تاتارخانية في الثامن عشر مـن الـكـراهية رجل له حائط و وجه في دار رجل فأراد أن يطين حائط و لا سبيـل لـه إلـى ذلك الا بـدخـول دار جاره وصاحبه يمنعه من الدخول او انهـدم الـحائط و وقع الطين في دار جاره فأراد أن يدخل و يبلّ الطين فمنعه صـاحـب الـداراولـه مـجـرى ماء في دار جاره فأراد حفرة و اصلاحه و لايمكنه ذلك الا بـدخـول داره و هـو يـمـنـعـه يـقـال لصاحب الدار اما أن تتركه حتى يدخل و يصلح و اما أن تصلحه بماكل كذا روى عن محمد و به أخذ الفقيه ألو الليث خلاصة في اوائل الحبطان و كذا في البزازيه وقع لأحدهما في القسمة البناء والساحة بجنبيه لاخر فأراد صاحب الساحة أن يبنى بيتا في ساحة يستبها الريح والشمس على صاحب البناء له ذلك في ظاهر الرواية و ليس له أن يمنعه و بـه يفتـي قـال نـصيـروالصفار له المنع و على ذلك لو أراد أن يبنى حماما او تـنـورا او اصـطبـلا فـلـه ذلك مـن غير خلاف فيمن يحث عمارة تضرّ بجاره من مـنية الـمفتي في القسمة و لو فتح صاحب البناء في علو بنائه بابا او كوة لا يلى صـاحـب الـسـاحة مـنعه بل له أن يبنى ما يستر جهة بزازية في اوائل الحيطان و كـذا فـي الـخـلاصة و فـي التهـذيب و اما صاحب البناء لو فتح كوة في ساحة و نـحـوهـا لا يـمـنـع والـفـتـوى على أنه كانت الكوة للنظر والساحة موضع النساء

يمنع و كراهية التاتارخانية فى المتفرقات اتخذ داره خطيرة غنم فى سكة غير نافذة والجيران يتأذون بنتن السرقين و لا يأمنون فيه الرعاة ليس لهم فى الحكم منعه و عن أبى يوسف اتخذ داره حماما و تأذى الجيران من دخانه فلهم منعه منية المفتى فى القسمة دهليز مشترك بينهما بنى أحدهما فوق سطحه حجرة باذن شريكه ثم باع الآذن نصيبه من الدهليز ليس للمشترى أن يأمره برفع الحجرة عن سطحه والمسئلة بحالها مذكورة انه إذا استعار من آخر جدارا الوضع جذوعه عليه ووضعها ثم باعه المصير ليس لمشتريه أن يأمر المستعير برفع جذوعه لان المستعير و ان لم يثبت له حق لازم لكن المشترى لم يملك الجدار الا مشغولا بجذوع المستير فكان حقه فيه ناقصا فلا بتمكن من رفعه قال استاذنا هذا و ان كان حسنا لكن عثرت على مسئلة الاستشهاد فى الامالى و فى فتاوى أبى الليث على خلافه رجل أذن لجاره فى وضع الجذوع على حائط او حفر سرداب تحت داره ثم باع داره فللمشترى رفع الجذوع و السرداب الا إذا شرط فى البيع ترك ذلك فحينئذ لا يكون له ذلك ثم ذكر سائل من جنسه إلى أن قال أحدث بناء او غرفة فى سكة غير نافذة برضا أهلها فاشترى رجل من غير أهل السكة دارا منها فله أن يأمره برفع الغرفة و لو باع ضيعة فيها اغصان جاره ستدلية فللمشترى ان يأمر جاره بتفريغ الضيعة عن اغصان شجرته لان المشترى يقوم مقام البائع فيما كان للبائع ان يفعله و كذا لو مات صاحب الفيعة كان لوائره ان يأخذ الجار بتفريغ ضيعته عن الاغصان قال ما ذكره اوفق للاصول و اشبه بالصواب و ان كانت مسائل قسمة الكافى تشهد لصحة جواب قنية فى الحيطان فى آخر كاب الدعوى أراد هدم داره و فيه ضرر لأهل السكة مجراب المحلة المختار ان لهم المنع و ان

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چي داسي عقیده لرل کفر دي .
سوال:......
یو کس په ټوکو او پسخند سره کلمه د کفر وایي آیا دا سړی کافر دی کنه؟
جواب: ......''**و اما الهاذل المستهزئ إذا تكلم بالكفر استخفافا و مزاحا و استهزاء يكون كفر عند الكف ـ و ان كان اعتقاده خلاف ذلك ـ**''
له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چي که د دغه شخص عقیده څه هم په اسلام وي خو په ټوکه سره کلمه د کفر وایي دا شخص کافر دئ..
(قاضی خان علی هامش عالمگیری / ص: ٥٧٧ / ج: ٣)
سوال:......
یو سړی ګناه صغیره کوي مولوي صاحب ورته وایي چي توبه وکاږه هغه وایي چي ما څه کړي دي چي توبه وکاږم، داسړی په شریعت کي څه حکم

لري؟

جواب :......

"رجل ارتكب شيئا من الصغائر فقيل له تب إلى الله فقال : من چه کردم ام تا توبه باید کرد۔ يكفر"

لـه مذكوره عبارت څخه معلومه شوه چي په داسي الفاظو ويلو سره سړى كافر كيږي . (عالمكيري / ص: ٢٧٣ / ج: ٢)

سوال :......

يو كس وايي كه ما ته الله تعالى جنت راكړى زه يې نه غواړم بغير د فلانكي څخه، او يا وايي كه ما ته امر په جنت سره وشي سره له فلانكي زه يې نه غواړم، آيا داسي الفاظ ويل څه نتيجه لري؟

جواب :......

"قال لو اعطانى الله الجنة لا اريدها دونك او قال لو امرت ان ادخل الجنة مع فلان لا ادخلها او قال لو اعطانى الله الجنة لاجلك او لاجل هذا العمل لا اريدها فهذا الكلام كله كفر الخ"

دا سړى كافر دئ ځكه مذكور الفاظ كفريه دي چي په ويلو سره يې سړى كافر كيږي . (جامع الفصولين / ص: ٢٢١ / ج: ٢)

سوال :......

يو كس د علماء كرامو بې عزتي او توهين كوي كه چيري عداوت د يوه دنيوي امر له وجهي ورسره لري يا خاص د علم په وجه تضاد ورسره لري شرعاً دا كس څه حكم لري؟

جواب :......

"اگر کسی عالم کی کوئی شخص اہانت کرتا ہے بلا کسی سبب ظاہری اور عداوت دنیوی سے تو یہ درحقیقت علم دین کی اہانت ہے جس کو کفر قرار دیا گیا ہے"

که چیري دا کس دیو دنیوي امر له و جهي عالم سره عداوت لري فاسق او فاجر دئ او که چیري د علم له وجهي عداوت ورسره کوي نو دا کس کافر دئ . (فتاوی محمودیه / ص:٥٩ / ج:١۴ . هکذا حقانیه / ص:١۴٦ / ج:١)

سوال:......

یو کس حرام مال خوري او په وخت د خوراک کي (بسم الله) وایي آیا دا کس کافر دئ کنه؟

جواب:......

"من اکل طعاما حراما وقال عند الاکل بسم الله حکی الامام المعروف بمشتملی انه یکفر"

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چي د حرام مال د خوړلو پهوخت کي بسم الله ویل سبب د کفر دی ځکه په دې کي استخفاف د الله جل جلاله د نامه دئ . (عالمگیری / ص: ۲۷۳ / ج:۲)

سوال:......

یو کس وایي چي مال گټل په موږ باندي واجب دی د علم په حاصلولو کي څهٔ فائده ده لکه چي دا خبره په عوامو کي ډېره مشهوره ده؟

جواب:......"الذی یلزم انما هو الدراهم ، ما الفائدة من العلم(دروم باید علم بچه کار اید کفر)"

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چي دا سړی کافر دئ . (جامع

الفصولين / ص: ٢٢٦ / ج: ٢)

سوال :

د اعياز او د زيد سره دعه ده ، اعياذ يو څو كسان د جرګې په شكل زيد ته راوستل او د خپل حق مطالبه يې له زيد څخه وكړه زيد وويل چې نه يې دركوم ، خداى جل جلاله يې و الله كه را څخه دركړي ، شرعا د زيد څه حكم دئ ؟

جواب :......

"الله جل جلاله ہر چیز پر قدرت کاملہ رکھتا ہے کوئی چیز اس کے قبضہ قدرس سے باہر نہیں وہ واجب الوجود ہے ۔ لہٰذا اللہ جل جلالہ کی طرف سے ایسی چیز کی نسبت کرنا جس سے اللہ تعالی کی قدرت کاملہ یا وجود کی نفی ہوتی ہو فقہاء کی نزدیک موجب کفر ہے "

له مذكوره عبارت څخه معلومه شوه چې زيد كوم الفاظ ويلي دي دا سبب د كفر دي . (فتاوى حقانيه / ص: ٢١۴ / ج: ١)

سوال :......

يوې ښځې خپل خاوند ته وويل : كه تا زما سره بيا (بې وفايي) وكړه او يا دي فلانكى شى نه راواخيست زه كافره كېږم ، ايا دا ښځه شرعا څه حكم لري؟

جواب :......

"قالت لزوجها لو جفوتنى بعد هذا او قالت ان لم تشترلى كاكفرت ـ تكفر فى

الحال"

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چې دا ښځه د خبرو کولو په وخت کې لا کافره شوه . (جامع الفصولین / ص: ۲۲۸ / ج: ۲)

سوال:......

یو سړی ډېر زیات مریض شو په دوامداره مرض سره او دا یې وویل چې اې الله ستا خوښه ده که مې مسلمان مړ کوې که مې کافر، آیا دا سړی کافر دی که نه؟

جواب:......

"و إذا مرض الرجل اشتد مرضه و دام فقال المريض ان شئت توفني مسلما و ان شئت توفني كافر، يصير كافرا بالله مرتدا عن دينه"

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چې دا سړی کافر دئ . (عالمگیری / ص: ۲۷۵ / ج: ۲)

سوال:......

بعض خلک وایي چې د رزق حاصلولو لپاره په بنده باندې حرکت کول لازم دی لکه بعضې خلک داسې خبره کوي چې الله جل جلاله وایي ته حرکت کوه زه به برکت کوم شرعاً دا کس څه حکم لري؟

جواب:......**"تلزمه الحركة من العبد - از بنده جنبش باید - قيل كفر، اذ حركة العبد ايضا من الله و هو يرى الرزق من الحركة"**

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چې په قول د بعضو علماؤ دا سړی کافر دی ځکه دی خپل رزق له حرکت څخه بولي او په اصل کې خو حرکت هم د الله جل جلاله له جانبه دئ . (جامع الفصولین / ص: ۲۳۲ / ج: ۲)

سوال: ......

يـو كـس نيك تـايـي اچـوي او هـغـه زيـړه تـوته چي يهود يې د قميصانو په اوږو باندي كنږي يو عالم ورته وايي چي دا شعار د يهودو دئ داسي مه كوه په دې سره سړى كافر كيږي، آيا د عالم خبره صحيح ده كنه؟

جواب: ......"اذا اشتـد الزنـار عـلى وسطه ا و وضع العسلى على كتفه فقد كفر و فى (التمهيد) سواء فعل من غير اعتقاد سخرية او من اعتقاد"

لـه مـذكـوره عـبـارت څـخـه مـعـلـومه شوه چي دا سړى كافر دئ او د عـالم خبره صحيح ده . (التتارخانيه/ ص:٢٦٨/ ج:۴)

سوال: ......

يـو كـس پـخپـل اختيار سره كلمه د كفر واي ده ته علم نه وي دا كلمه د كفر ده او نـه يې عـقـيـده د كـفـري وي اوس پـه شـريعت كي ددغـه سـړي جهل ناپوهي تـه اعـتبار شتـه كنه؟

جواب: ......

"ولـو لم يعتقد او لم يعلم انا كفر و لكن اتى بها عن اختيار كفر عند عامة العلماء و لا يعذر بجهل"

لـه مـذكـوره عـبـارت څـخـه مـعلـومه شوه چي دا سړى كافر دئ ، جهل يا ناپوهي تـه يې اعـتـبار نشتـه . (جامع الفصولين / ص:٢١٦/ ج:٢)

سوال: ......

د (ږيري) يو كس توهين او بې عزتي كوي شرعا دا كس څه حكم لري، آيا كافر دى كنه؟

جواب: ......

”داڑھی سنت الانبیاء ہے اس لئے داڑھی کی توہین اور بے عزتی کرنے والا آدمی بلا شک وشبہ کافر ہے نیز استقباح سنت کی وجہ سے آدمی کافر ہو جاتا ہے“

دا کس چې توهین د ږیرې کوي بې له شکه او شبهې کافر دئ .
(حقانیه / ص: ۲۵۰ / ج: ۱)

سوال:......

يو سړى ډېر پرهيزګار دى دى ټول وخت خپل عبادت كوي خو چې كله (نوروز) ورځ شي چې دا د مشركينو د اختر يا خوشحالي ورځ ده، دې له مشركانو سره يو ځاى كيږي يا تحفې وركوي يعني د دې ورځې تعظيم كوي، آيا دا كس كافر دى كنه؟

جواب: ......” وعن امام ابی حفص لو ان رجلا عبد ربه خمسين سنة ثم جاء يوم النيروز فآهدى اى بعض المشركين هدية يريد تعظيم ذلك اليوم فقد كفر“

له مذكوره عبارت څخه معلومه شوه چې دا سړى كافر دئ . (بزازيه على هامش عالمكيرى / ص: ۳۳۲ / ج: ٦)

سوال:......

علماء كرام په دې مسئله كې څه وايي: بعضي خلک ځان ته تصوف والا پيران يا مريدان واي دوى په حلقه سره ذكر كوي يعني شا او مخ كيږي سرونه غورځوي او وايي چې دا حلقه چې په عربي (رقص) ورته وايي جائز او مباح ده . يو مفتي صاحب دا فتوى پر كړې ده چې څوک حلقه حلاله او روا بولي هغه كافر دئ، او س دا حلقه د شريعت او مذهب موافق

جواب :......"و للعب بالرقص احدثه اولا السامری حین اخرج لهم عجلا جسدا له خوار .... اهـ والقرطبیؒ علی ان هذا الغناء و ضرب القضیب و الرقص حرام بالاجماع عند مالکؒ و ابی حنیفةؒ والشافعیؒ فی مواضع من کتابه و سید الطائفة الشیخ احمدؒ صرح بحرمته و رأیت فتوی شیخ الاسلام السید جلال الملة والدین الکیلانی رضی الله عنه (ان مستحل هذا الرقص کافر) و لما علم حرمته بالاجماع لزم ان یکفر مستحل الخ"

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چي رقص یعني حلقه اول وار سامري کافر دنیا ته راویستې ده چي کله یې د غوا سخوندر جوړ کړی د سپینو زرو څخه او خاوره د قدم د آس د حضرت جبرائیل علیه السلام یې په خوله کي ور واچوله او د خدای جل جلاله په قدرت ژوندی شو او رامباړي یې شروع کړې، سامري بني اسرائیلو ته وویل چي دغه دی خدای له موسی علیه السلام څخه روک دی خلکو طوافونه پر کول او حلقه یې شروع کړه نن ورځ دغه کسان چي واي موږ خو جذب کیږي دا هغه سامریان دي .

همدا عمل په اجماع او په اتفاق د حضرت امام اعظمؒ او امام شافعیؒ او امام مالکؒ او امام احمدؒ حرام دی او فتوی د شیخ الاسلام مولانا جلال الدین کیلانيؒ ده که یو څوک دغه عمل ته حلال وایي کافر دئ او یو شی چي په اجماع سره حرام وي حلال شمېرونکی یې ولي نه کافر کیږي .

(بزازیه علی هامش عالمګیری / ص: ۳۴۹/ ج:٦ . هکذا رد المحتار / ص: ۳۳۷/ ج:۳)

سوال :......

يـوه ښـځـه خپـل خـاونـد ته وايي چي ستا سره پهوخت تېرولو باندي كافر كېدل ښه كار دى آيا دا ښځه كافره ده كنه؟

جواب : ......"كافر بودن بهتر از با تو بودن ـ تـكـفـر اذالـمقام مع الزوج فرض فقد رجحت الكفر على الفرض"

لـه مـذكـوره عـبارت څخه معلومه شوه چي دا ښځه كافره شوه . (جامع الفصولين / ص: ۲۲۸ / ج: ۲)

سوال :......

دوه كسان چي زيد او عمر دى، عمر چي له شريعت څخه خلاف كار وكړي يا خبره د كفر يا مشابه له كفر سره، زيد ورته وايي چي ته كفار شوې عمر ورتـه وايـي چي لـه الله جل جلاله څخه وويرېږه په فتوى د فكر په مسلمان بـانـدي احتيـاط كـول ضروري دي آيا يـو كس په يو دسي قول يا عمل سره كافر كيږي كنه؟

جواب :......'

'الـمـعتـمـد عدم التكفير كما هو ظاهر المذهب بل قالوا لو وجد سبعون رواية متفقة عـلـى تـكفير المؤمنين و رواية ضغيفة بعدمه يأخذ المفتى والقاضى بها ـ دون غيرها الخ"(رد المحتار / ص: ٦٠ / ج: ١) ـ

اقـول : هـذا نـص عـلـى أن مجرد امكان التاويل يمنع التكفير و ان لم يظهر التأويـل عـلـى هذا ينبغى ان لا يكفر فى مواضع كثيرة مما قيل بكفره فامل... (جامع الفصولين / ص: ۲۳۰ / ج: ۲)

علماء كو فتوى كفر دينى ميں احتياط كرنى چاہيے اور جلدى نہ كرنى چاہيے حديث شريف ميں ہے (رفع عن امتى الخطاء والنسيان) قال الله تعالى : (ربنا لا

تؤاخذنا ان نسينا او اخطأنا) (البقرة: ٢٨٦)

علاوہ بریں کلمہ ویسی بھی مؤول ہوسکتا ہے اور امکان تاویل کی صورت میں تکفیر کسی مسلمان کی ناجائز ہے۔ (دار العلوم دیوبند/ص:۳۲۵/ ج:۱۲)

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چې که چیري اویا (۷۰) قوي دلائل د مسلمان پر کفر باندي وي یعني په اویا وو قوي دلائلو سره یو مسلمان کافر وي، او په یوه ضعیف دلیل سره مسلمان وي یعني دا یو دلیل د ده په مسلماني باندي دلالت کوي نو مفتي یا قاضي به د ده اسلام ته ترجیح ورکوي او په ده باندي به دا حکم د اسلام جاري کوي، خو کله چې د ده مسلمان نیت او قصد په اسلام باندي وي او که چیري د ده نیت په کفر باندي وي بیا قاضي یا مفتي تاویل او حمل ده ته فایده نه رسوي بیا کافر دئ . مثلا :یو کس بل کس ته د دین ښکنځل وکړي یو مفتي تاویل داسي ورکړي چي له دین څخه یې (اخلا ق ردي ته) یعني بې کاره اخلاق مراد دي دا تاویل د دې لپار کوي چي دا کس دقتل ا مر څخه خلاص کړې او س د دغه کس هم له دین څخه اخلاق ردیه مراد وي بیا خو تاویل صحیح دئ او که یې دین مراد وي بیا دا تاویل فایده نه لري دا سړی کافر دئ واجب القتل دئ .

خو بهر حال په مسائلو مذکوره وو کي چي یو کس ته کافر ویل شوی دی په ډېرو ځایونو کي باید کافر نه سي، لکه په حدیث شریف کي چي نبي کریم ﷺ فرمايي: ”استماع الملاهی معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها كفر ای بالنعمة فصرف الجوارح إلى غيرها ما خلق لاجله كفر بالنعمة لا شكر“

له كفر څخه په حديث مذكوره كي (كفران النعمة) دى يعنى فتوالى د نعمت دى . الله جل جلاله بنده ته چي اعضاوي وركړي دي دا يو نعمت دى په بنده اې شكر واجب دئ بنده چي ګناه كوي دا ناشكري او كفران النعمة دئ . (در المختار / ص: ۲۴۶ / ج:۵) . وَ الله اعلم و علمه اتم .



کتاب الصید والذبائح

د ذبحې احکام او مسئلې

..د ذبحې لپاره یواځې د الله د نوم اخیستل کافي دی:

سوال:......

که چیرته سړي د یوه حیوان د ذبح کولو په وخت کښې د بسم الله الله اکبر د ویلو په ځای نور داسې کلمات وایې کوم چې د الله په ذکر کې استعمالیږي نو آیا په دې سره به ذبیحه حلاله وي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب:......د ذبیحې د حلال والي لپاره د الله نوم اخیستل کافي دی او تخصیص یې د پورتني کلماتو سره نه دی بلکه په هرو هغو کلماتو سره ذبحه جائزه ده کوم چې د الله تعالی په عظمت باندې دلالت کوي.

"لما قال العلامة التمرتاشی: والشرط التسمية هو الذكر الخالص عن سوب الدعاء) و غيره (فلايحل بقوله اللهم اغفرلی) لانه دعاء و سوال(بخلاف الحمد لله و سبحان الله مريداً به التسمية)فانه يحل۔"(تنوير الابصار على صدر رد المحتار / ج:٦ / ص: ٣٠١ ، كتاب الذبائح)

لما قال الشيخ الاسلام ابو بكر بن على الحداد اليمنیؒ : و ان قال بسم الله الرحمن الرحيم فهو حسنٌ و الشرط هو الذكر الخالص المجرد على ما قال ابن مسعود جود و التسمية .... و لو قال سبحان الله و الحمد لله و لا اله الا الله يريد التسمية اجزاء لان المامور به ذكر الله على وجه التعظيم۔

(الجوهرة النيرة / ج: ۲ / ص: ۲۷٦ ، كتاب الذبائح)

..د ذابح د معاون لپاره د تسمیې حکم:

سوال:......
د مذبوحې د حلالو لپاره اګر که د الله تعالی د نامه اخیستل ضروري دي لیکن که چیرته کوم سړي په حلالولو کي د ذابح امداد کاوه نو آیا د هغه لپاره هم د ذابح غوندي تسمیه ویل ضروري ده او که نه او د بسم الله د نه ویل په صورت کي په مذبوحې باندي څه اثر پرېوزي او که نه؟
الجواب باسم ملهم الصواب: ...... که چیرته په دغي ذبحي کي د ذابح د معاون حیثیت داسيوي چي د هغه نه پرته د ذابح کار نه پوره کیږي لکه که چیري یې له ذابح سره چاړه په لاس کي نیولې وي او ذبح وکړي او په دې کي دواړه شریک وي نو د هر یوه لپاره بسم الله ویل ضروري ده او هر یو به مستقل ذابح ګڼل کیږي.
"لما قال العلامة علاؤ الدين الحصكفى: و فيها اراد الضحية فوضع يديه مع يد القصاب فى الذبح و اعانة على الذبح سمى كل وجوباً فلو تركها احدهما او ظن ان تسمية احدهما تكفى حرمة ـ "(الدر المختار على صدر رد المحتار / ج: ٦ / ص: ٣٣٤ ، كتاب الاضحية)
لما قال العلامة الفرغانى رحمه الله: ررجلٌ اراد ان يضحى فوضع صاحب الشاة مع يد القصاب فى الذبح و اعانة على الذبح حتى صار ذابحاً مع القصاب قال الامام رحمه الله تعالى يجب على كل واحد منهما التسمية حتى لو ترك احدهما التسمية لا تحل الذبيحة ـ (الفتاوى قاضى خان على هامش الهندية / ج: ٣ / ص: ٣٥٥ ، كتاب الاضحية ، فصل فى مسائل المتفرقة)

..د ذبح فوق العقد حكم:

سوال :......

په شريعت كي د ذبح فوق العقد څه حكم دى او په دې باندي د ځناورو په حلالوالي او حراموالي باندي څه اثر لويږي او كه نه ؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ......په ذبح كي اصل شى حلقوم يعني مرى ده او د دوو رګونو پريكول ضروري دي كوم چي د عقد لاندي جمع كيږي نو ځكه تحت العقد ذبح ډېر بهتره ده او بيا هم كه چيرته د ذبح ماهرين دا ووايي چي دغه اعضاء لهع عقد څخه پورته پرې كيږي نو بې له شكه ځناور حلال دى ليكن احتياط په دې كي دى چي ذبح تحت العقد وي .

"لما قال العلامة برهان الدين المرغينانيّ : و الذبح بين الحلق و اللبة و فى الجامع الصغير لا بأس بالذبح فى الحلق كله وسطه و اعلاه و اسفله۔ (الهداية / ج: ٤ / ص: ٤٣٥ ، كتاب الذبائح)

قال العلامة علاؤ الدين الحصكفى رحمه الله : و ذكاة (الاختيار ذبح بين الخلق واللبة بالفتح المنحر من الصدر (و عروقه الحلقوم) كله وسطه او اعلاه او اسفله و هو مجر النفس ۔ " (الدر المختار على صدر رد المحتار / ج: ٦ / ص: ٢٩٤ ، كتاب الذبائح ۔ و مثله فى العناية على هامش فتح القدير / ج: ٨ / ص: ٤١٢ ، كتاب الذبائح)

..د حيوان حركت يا له هغه څخه دويني وتل د حلالوالي باعث دى:

سوال:......
که چیرته په یو ځناور کي په ظاهره دژوند آثار نه معلومیږي لیکن د ذبحي نه وروسته ترې وینه راووځي اویا حرکت وکړي نو آیا په دې سره ځناور حلال ګڼل کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب:......کله چې په یوه ځناور کي د حیات ظاهري علامې نه وي لیکن د ذبحې په وخت کي حرکت وکړي او یا دومره وینه ترې لاړه شي څومره چې له ژوندي ځناور څخه ځي ن و د هغه دژوند لپاره دا علامه کافي ده او په دې سره دا ځناور حلال ګڼل کیږي.

"لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی: ذبح شاة مریضة فتحرکت او خرج الدم حلت و الا لا بان لم تدر حیاته قال ابن عابدین (قوله او اخرج الدم) کما یخرج من الحی۔ (رد المحتار / ج: ٦ / ص: ٣٠٨، کتاب الذبائح)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری: رجل ذبح شاة او بقرة و تحرکت بعد الذبح خرج منها دم مسفوح تحل و کذا ان تحرکت و لم یخرج الدم او خرج الدم و لم یتحرك..... و فی شرح الطحاوی و خروج الدم لا یدل علی الحیوة الا إذا کان یخرج کما یخرج من الحی۔ (خلاصة الفتاوی / ج: ٣ / ص: ٣٠٦، کتاب الذبائح ۔ و مثله فی الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة / ج: ٦ / ص: ٣٠٥، کتاب الذبائح)"

.. د ذبح په وخت کي د حیوان سر له تنې څخه جلا کول مکروه دي:

سوال:......

د ذبحې په وخت کې که چیرته له ذابح څخه د څناور سر پرې شي نو آیا په دې باندې پر مذبحې څه اثر پرېوزي او که نه؟
الجواب باسم ملهم الصواب: ......د ذبحې په وخت کې ذ ذبیحې د سر په پرې کولو سره پر ذبحې هیڅ اثر نه کوي او غوښه یې حلاله او د خوړلو قابله ده بیا هم د حیوان د سوړوالي نه مخکې د هغه سر پرې کول د غیر ضروري تعذیب په وجه سره له کرهات څخه خالي نه ده .
"لما قال العلامة ابو الحسين احمد بن محمد البغدادیؒ : ومن بلغ بالسكين النحر و قطع الرأس كره له ذلك و توكل ذبيحته (مختصر القدوری / ص: ۲۷٦ ، كتاب الذبائح)
لما قال الامام عبد الله بن محمود بن موجود الموصلی و یکره ان یبلغ بالسكين النحر او يقطع الرأس و تؤكل ـ (الاختيار على تعليل المختار / ج: ۵ ص۱۲ ، كتاب الذبائح)ـ و مثله فى الدر المختار على صدر رد المحتار / ج: ٦ / ص: ۲۹٦ ، كتاب الذبائح ـ"

..په کومه حادثه کې د حیوان د سر تر پرې کېدو وروسته د هغه حکم:

سوال: ......
که چیرته دیوه حیوان په کومه حاده کې سر له تن څخه جلا شي نو په پاتې بدن باندې یې د چاړه په تیرولو سره هغه څناوره حلالیږي او که نه؟
الجواب باسم ملهم الصواب: ......د نوموړي صورت مطابق د سر د پرې کېدو نه وروسته که چیرته هغه رګونه پاتې نه وي چې د هغو په پرې کولو سره حیوان حلالیږي نو دا څناور به حلال نه وي یواځې داړه تېرول

پرې کافي نه دي .

"لما قال العلامة ابن البزاز الكردري: و لو انتزع الذئب رأس الشاة و بقيت حية نحل بالذبح بين اللبة و اللحيين ، و فيه ..... شاة قط الذئب او داجها و هي حية لا تذكى لفوات محل الذبح ـ "(الفتاوى البزازية على هامش الهندية / ج: ٦ ، / ص: ٣٠٨ ، كتاب الذبائح ، الباب الثالث فى المتفرقات)

..په غاښ، نوکانو او داسي نورو باندي د حلالېدونکي ذبیحې حکم:

سوال :......

که چیرته یو داسي صورت پیدا شي چي حلال حیوان مرګ ته نژدې شي او چاړه یا بل شي نه وي او د څناور د مردارېدو خطره وه نو آیا په غاښونو نوک او یا په تېرې ډبرې باندي د حیوان ذبح کول جائز ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب : ......په کوم اضطراري حالت کي د چاړه د نه موجودیت په صورت کي په نوکانو، غاښونو او یا په تېرې ډبرې او نورو شیانو باندي د حیوان ذبح کول درست او صحیح ده لیکن په دې شرط چي نوک او یا غاښ وتلی وي او د کوټو په نوکانو یا د خولې په غاښونو سره د څانور ذبح کول جائز نه ده . لیکن چونکه د انسان اجزاء قابل احترام دي نو د دې په وجه سره په وتلي غاښونو او نوکانو باندي د څناور ذبح کول له کراهیت څخه خالي نه ده .

"لما قال العلامة ابو عبد الله محمد بن الحسن الشيباني : ظفر منزوع او قرن او عظم او سنّ منزوعة ذبح به فانهر الدم و اخرى الاوداج لم يكن باكله

باس و اکره هذا الذبح و ان ذبح بطفر او بسن غیر منزوعة فهی میتة"(الجامع الصغیر / ص: ۳۸٦ ، کتاب الذبائح)

قال العلامة برهان الدین المرغینانیؒ : و یجوز بالظفر و السن و القرن إذا کان منزوعاحتی لا یکون باکله باس الا ان یکره هذا لذبح .... بخلاف غیر المنزوع لانه یقتل بالثقل فیکون فی معنی المنخنقة۔ (الهدایة / ج: ٤ / ص: ٤٣٦، کتاب الذبائح)۔ و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار / ج: ٦ / ص: ۲۹۱ ، کتاب الذبائح۔

..د مشین د ذبیحې حکم:

سوال:......

نن سبا په نوي سائنسي آلاتو سره حیوان ذبح کیږي په مقدس شریعت کي د مشیني ذبحي څه حکم دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب:...... دیوه حیوان د ذبح کولو لپاره مقدس شریعت څو شرائط وضع کړي دي:

۱......ذبح کوونکی به مسلمان وي .

۲......د ذبحي په وخت کي د بسم الله ویل .

۳...... تحت العقد ذبح کول .

له دې وجهې که چیرته په نوي سائنسي آلاتو سره په ذبح کولو کي نوموړي شرائط موجود وي نو ذبیحه به حلاله وي او د هغه په خوړلو کي هیڅ حرج نشته په بل صورت کي داسي ذبیحه حلاله نه ده او نه د هغې د غوښي خوړل جائز دي .

"لما قال الامام ابو الحسن احمد بن محمد البغدادی القدوریؒ : و ذبیحة

المسلم والكتابيب حلال و لا تؤكل ذبيحة المرتد والمجوسی والوثنی والمحرم وان ترك التسمية عمداً فالذبيحة ميتة لا تؤكل و ان تركها ناسياً أكل والذبح بين الحلق واللبة والعروق التی تقطع فی الذكاة اربعة الحلقوم والمری والودجان ۔ (مختصر القدوری / ص: ۲۷٦ ، كتاب الذبائح)

قا ل الامام عبد الله بن محمود بن مودود الموصلیؒ : والذكاة الاختيارية وهی الذبح فی الحلق واللبة والاضطرارية و هی الجرح فی ای موضع اتفق و شرطهما التسمية و كون الذابح مسلماً او كتابياً ۔ (الاختيار لتعليل المختار / ج: ۵ / ص: ۹ كتاب الذبائح ومثله فی كنز الدقائق / ص: ٤١٦ ، كتاب الذبائح)“۔

..د خاصو مواقعو د ذبح حکم:

سوال:......
کله کله د خاصو اسبابو په موجودوالي کي يو حيوان ذبح کيږي مثلا کله چي يو مريض له مريضي څخه روغ شي نو د هغه لپاره حيوان حلاليږي نو آيا د دې خاصو اسبابو په وجه سره د هغه په حلت باندي څه اثر پريوزوي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... په مقدس شريعت کي هغه څناور حرام دی کوم چي د غير الله د تقرب لپاره ذبح کيږي، په نوموړي صورتونو کي د غير الله تقدس او تقرب نشته بلکه خدای پاک د شکريې ادا کول پکښي ملحوظ وي نو ځکه د دې ذبحي په خوړلو کي هيڅ حرج نشته .

"لما قال العلامة ابن عابدينؒ : (ولو ذبح للضعيف يحرم) و على هذا فالذبح عند وضع الجدار او عروض مرض او شفاء منه لا شك فی حله لان

القصد منه التصدق "(رد المحتار / ج: ٦ / ص: ٣٠٩ ، كتاب الذبائح)

قال العلامة المفتي محمد كامل بن مصطفى الطرابلسيؒ: و على هذا فالذبح عد وضع الجدار و عروض مرض و شفاء منه لا شك فى حله لانالقصد منه التصدق۔ (الفتاوى الكاملية / ص: ٢٣٩ ، كتاب الذبائح) و مثله فى غمز عيون البصائر شرح الاشباه والنظائر للحمويؒ / ج: ٣ / ص: ٢٣٠ ، كتاب الذبائح ۔

..د اهل كتابو د ذبيحې حكم:

سوال: ......

د اوسني دور د عيسآيانو او يهوديانو په لاس د حلال شوي ذبيحې څه حكم دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... په مقدس شريعت كي د ذابح لپاره ضروري دي چي يا مسلمان او يا اهل كتاب وي ن و ځكه چيرته عيسايي يا يهودي د خپل مذهب د تعليماتو د پيروي دعوه لرونكی وي نو د هغوی په لاس د ذبيحې په خوړلو كي شرعاً څه ممانعت نشته . خو بيا هم د اوسنی زماني جدت پسندي ته كه چيرته نظر وكړو نو دا اندازه تړې لګيږي چي عيسايان او يهوديان په داسي عقائدو او نظرياتو باندي عمل كوي چي د هغو د مذهب له بنيادي عقايدو سره ټكر خوري نو ځكه احتياط په دې كي دی چي د هغو د ذبيحې له خوړلو نه ځان وساتل شي .

"لما قال العلامة ابو البركات عبد الله بن احمد النسفيؒ: حل ذبيحة مسلم و كتابى الخ ۔ "(كنز الدقائق / ص: ٤١٦ ، كتاب الذبائح)

قال الشيخ ابو الحسين احمد البغداديؒ : و ذبيحة المسلم والكتابى حلال

۔(مختصر القدوری / ص: ۲۷۵ ، کتاب الذبائح) ۔ و مثله فی الاختیار لتعلیل المختار / ج: ۵ / ص: ۹ کتاب الذبائح۔

..د شیعه ګانو د ذبیحې حکم:

سوال :......

جناب مفتي صاحب آیا د شیعه ګانو د ذبیحې خوړل جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب : ...... د محققینو علماؤ په نزد د اوسنۍ زماني د شیعه ګانو د تعصب او بغض په وجه سره د داسي عقائدو معتقدین ګرځېدلي دي چي د کفر موجب دي د داسي کفري عقائدو د لرلو په وجه سره د هغوی د ذبیحې حکم د مرتدینو ګرځېدلی دی او د خوړلو قابل نه دی .

"لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ : الرافضی ان کان یسب الشیخین و یلعنهما فهو کافرٌ وان کان یفضل علیاً علی ابی بکر و عمر رضی الله عنهم لا یکون کافراً لکنه مبتدعٌ"(خلاصة الفتاوی / ج: ٤ / ص: ۳۸۱ ، کتاب الکراهیة)

لما قال العلامة ملا علی القاریؒ : قلت و هذا فی غیر حق الرافضة الخارجة فی زماننا فانهم یعتصدون کفر اکثر الصحابة فضلا عن سائر اهل السنة والجماعة فهم کفرة بالاجماع بلا نزاع۔ (مرقاة شرح مشکوة / ج: ۹ / ص: ۱۳۷ ، کتاب الفتن ، و مثله فی شرح الفقه الاکبر / ص: ۷۲ ، الکبیرة لا تخرج المؤمن عن الایمان۔

..د غوا غوښې د حلت حکم:

سوال:......

د ځینو واعظینو څخه داسې خبرې اوریدل کیږي چې د غوا له غوښو څخه خلکو ته نفرت ورکوي نو آیا د غوا د غوښې خوړل د شریعت له مخې جائز دي او کنه ؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ......د شریعت له مخې غویی د هغو حیواناتو په فهرست کې شامل دی چې څیرل نه کوي یعنې درنده ځناور نه دی ځکه د هغه په حلت کې هیڅ شک نشته د فقهاؤ د تصریحاتو څخه اندازه کیږي چې غوا خو پریږده بلکه د هغې په نس کې چې کوم بچې دی د هغه هم ذبح کول او خوړل جائز دی .

"لما قال العلامة ابن عابدينؒ: بقرة تعسرت ولادتها فادخل ربها يده و ذبح الولد حل و ان جرحه في غير محل الذبح و ان لم يقدر على ذبحه حل و ان قدر لا"(رد المحتار / ج: ٦ / ص: ٣٠٣، كتاب الذبائح)

قال العلامة الاستاذ محمد الشهير بالطوريؒ: لو ان بقرة تعسر عليها الولادة فادخل صاحبها يده و ذبح الولد حل اكله و ان جرحها في غير موضوع الذبح إذا كان لا يقدر على ذبحه يحل و ان كان يقدر لا يحل- (البحر الرائق / ج: ٨ / ص: ١٧١، كتاب الذبائح - و مثله في الفتاوى الهندية / ج: ٥ / ص: ٢٨٧، كتاب الذبائح ، الباب الاول)

..د غلا شوي حیوان د غوښې حکم:

سوال:......

د غلا شوي یا مغصوبه څناور د ذبح کولو نه وروسته د هغه د غوښي خوړل جائز دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... د حلال حیوان د حلت او د حرمت په احکامو باندي د غلا او غصب اثر نه کوي خو په دې شرط چي ذابح مسلمان وي او د ذبیحې په وخت کي په ذبیحې باندي د الله نوم ذکر کړي خو بیا هم په غل او غاصب باندي مالک ته د هغه د قیمت ادا کول واجب دی .

"لما قال العلامة ابن البزاز الکردریؒ : غصب شاة و ضحی بها ان اخذها مالکها و ضمنه النقصان لا یقع عن الاضحیة و ان ضمنه قیمتها حیة وقعت عنها لانها صارت ملکاً من وقت الغصب ـ "(الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة / ج: ٦ / ص: ۲۹۱ ، کتاب الاضحیة)

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: إذا غصب شاة و ضحی بها لا یجوز و صاحبها بالخیار ان شاء اخذها ناقصة و یضمنه النقصان و لا یجوز عن الاضحیة و ان شاء ضمنه قیمتها حیة فتصیر الشاة ملکاً للغاصب من وقت الغصب فیجوز عند الثلاثة رحمهم الله استحساناً ـ (خلاصة الفتاوی / ج: ٤ / ص: ۳۱٦ ، کتاب الاضحیة) و مثله فی الفتاوی الهندیة / ج: ٥ / ص: ۳۰۳ ، الباب السابع فی التضحیة عن الغیر ـ

..سوی حلال حیوان دی:

سوال: ......

جناب مفتي صاحب د سوی د غوښي خوړل جائز دي او که نه او حال دا چي شیعه ګان د هغه د حراموالي قائل دي؟

الجواب باسم ملهم الصواب : ...... مقدس شریعت د سوی غوښه حلاله کرځولې ده .

"لما قال العلامة التمرتاشي رحمه الله : (و) حل (غراب الزرع) الذی یأكل الحب (و الارنب والعقعق)"(تنویر الابصار علی صدر رد المحتار / ج: ٦ / ص: ٣٠٨ ، كتاب الذبائح)

و اخرجه الامام ابو عیسی الترمذی فی سننه عن هشام بن زید قال سمعت انسا یقول انفجنا ارنباً بمر الظهران فسعی اصحاب رسول الله ﷺ خلفها فادركتُها فاخذتُها فاتیتُ بها ابا طلحة فذبحها بمروة فبعث معی بفخذها او بوركها إلى النبی ﷺ فاكله فقلت اكله قال قبله ۔ (الجامع الترمذی / ج: ٢ / ص: ١ ، كتاب الاطعمة ، باب ما جاء فی اكل الارنب ۔ ومثله فی البحر الرائق / ج: ٨ / ص: ١٧٢ ، كتاب الذبائح۔

..د کارګه د حلت او حرمت حکم:

سوال : ......

جناب مفتي صاحب د کارغه د حلت او د حرمت په باره کي د مقدس شریعت څه حکم دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب : ...... کارغه ته په عربي ژبه کي غراب ویل کیږي د فقهاء کرامو له اقوالو څخه معلومیږي چي د هغوی درې ډولونه دي:

۱ . ځیني کارغان داسي دي چي یواځي مردار او نجس شیان خوري . د کارغه دا ډول حرام دی .

۲ . دوهم ډول کارغه هغه دی چي یواځي دانې یعني پاک شیان خوري

نو داسي كارغان مردار نه دي او خوړل يې حلال دي .

۲ . د كارغانو يو دريم ډول هم شته چي د خوراک يې د حلالو او د حرامو څخه مركب وي يعني مردار شيان هم خوري او پاک شيان هم خوري . قاضي ابو يوسف اگر چه د هغه د كراهيت قائل دى ليكن د امام صاحب رحمه الله په نزد باندي حلال دى او فتوى هم د ده پر قول باندي وركړل شوې ده .

"لما قال العلامة فخر الدين عثمان بن على الزيلعيؒ: والغراب ثلاثة انواع يأكل الجيف فحسب فانه لا يؤكل و نوع يئكل الحب فقط فانه يؤكل و نوع يخلط بينهم و هو ايضا يؤكل عند ابى حنيفةؒ و هو العقعق لانه كالدجاج و عن ابى يوسف رحمه الله انه يكره لان غالب ماكوله الجيف و الاول اصح ، انتهى ـ (تبيين الحقائق / ج: ٥ / ص: ٢٩٥ ، كتاب الذبائح)

لما قال العلامة الاستاذ محمد الشهير بالطورى رحمه الله : والغراب ثلاثة انواع نوعٌ ياكل الجيف فحسب فانه لا يؤكل و نوعٌ ياكل الحب فحسب فانه يؤكل و نوع يخلط بينهما و هو ايضا يؤكل عند الامام و هو العقعق لانه يأكل الدجاج و عن ابى يوسفؒ انه يكره اكله لانه غالب اكله الجيف و الاول اصح"(البحر الرائق / ج: ٨ / ص: ١٧٢ ، كتاب الذبائح ـ و مثله فى مجمع الانهر شرح الملتقى الابحر / ج: ٢ / ص: ٥١٤ ، كتاب الذبائح)

..د هُد هُد مرغه د خوړلو حكم:

سوال :......

جناب مفتي صاحب د هدهد د غوښي خوړل د شريعت له مخي جائز دي او كه نه ؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... په اسلام کې د هر هغه مرغه خوړل حرام دي چې خپل ځان ته خوراک د ښکار په وجه سره پيدا کوي او نور ځناور ځيري . چونکه هدهد هم له دغو درندګانو مرغانو له جملې څخ نه دی له دې وجهې د هغه د غوښې په خوړلو کې شرعاً څه قباحت نشته . بيا هم ځيني فقهاء کرام د هغه خوړل مکروه بولي نو ځکه د هغه له خوړلو څخه ځان ساتنه بهتره ده .

"لما قال العلامة شيخ الاسلام ابو بكر بن على بن محمد الحداد اليمنىؒ: و كذا لا بأس باكل العقعق و الهُدهُد و الحمام والعصافير لان عامة اكلها الحب والثمار ـ "(الجوهرة النيرة / ج: ٢ / ص: ٢٧٩ ، كتاب الذبائح)

و قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: ويكره الصرد والهُدهُد ـ (رد المحتار / ج: ٦ / ص: ٣٠٦ ، كتاب الذبائح)

قال الامام ابو الليث الثمر قندى الفقيه الكاملؒ: و لا بأس باكل العقعق عند ابى حنيفةؒ و كذا لا بأس بالهُد هُد ـ (الفتاوى النوازل / ص: ٢٣٦ ، كتاب الذبائح) ـ و مثله فى الفتاوى الهندية (ج ٤ / ص: ٢٩٠ ، كتاب الذبائح ،الباب الثاني ـ)

د موطوئه حيوان شرعي حکم:

سوال: ......

له يوه حيوان سره د بدفعلي په کولو سره د دې کار د قباحت او حراموالي څخه قطع نظر د هغه د غوښې په باره کې د شرعي څه حکم دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... د يوه حلال ځناور سره د داسي بد فعل په کولو د هغه غوښه او شيدې نه حراميږي بيا هم د دې غير فطري عمل

یادونـه ډېـره ضـروري ده نو ځکه فقهاء کرامو لیکلي دي چي داسي ځناور ذبـح کړی او د هغـه غوښـه وسوځوئ تر څو چي د خلکو په ذهنونو کي دغه شـاعت د همېشـه لپاره پاتي نه شي بیا هم داسي کولی شئ چي چیرته دغه حیـوان لیـري عـلاقـې تـه یـوسـئ او هـلتـه یې وپلورئ او له ځان یې لیري کړئ .

"لـمـا قـال الـعـلامة ابـن الـهـمـام: (والذی یروی انه تذبح البهیمة و تحرق ذلك لقطع) امتداد (التحدث به) كلما رؤیت فیتاذی الفاعل به و لیس بـواجـب و إذا ذبـحـت و هـی مـمـا لا تؤكل ضمن قیمتها .... و ان كانت مما تؤكل اكـلـت و ضـمـن عـنـد ابـی حـنیفةؒ و عند ابی یوسفؒ لا تؤكل ـ "(فتح القدیر شرح الهدایة / ج: ٥ / ص: ٤٥٠ ، كتاب الذبائح)

قـال الـعـلامة ابـن نـجـیمؒ: والـذی تـذبـح البهیـمة و تـحـریم فذلك لقطع التحدث به و لیس بـواجب قالوا ان كانت الدابة مما لا تأكل لحمها تذبح و تحرق لـمـا ذكـرنـا و ان كـانت مما تؤكل تذبح و تؤكل عند ابی حنیفةؒ و قالا تحرق هذا ایضا ـ(البحر الرائق / ج: ٥ / ص: ١٧ ، كتاب الذبائح) ـ ومثله رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٢٦ ، كتاب الحدود ، مطلب فی وطئ الدابة ـ

..په اروپا کي د ذبح شوي حیوان د غوښي حکم:

سوال:......

جناب مفتي صاحب د عربو په ښارونو کي له نیوزي لینډ، استرلیا او داسي نورو اروپایي ملکونو څخه په بندو ډبو کي د چرګانو او د نورو

ځناورو غوښي راځي ابرسېره پرې ليکلي دي چي په حلاله توګه ذبح شوي دي نو آيا د داسي غوښو استعمالول جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... د داسي غوښو په باره کي که چيرته غالب ګمان داوي چي د دغو ذبح کوونکي مسلمانان دي او هغوی په اسلامي طريقې سره ذبح کړي وي نو د فتوی له رويه د هغوی استعمالول مرخص دی ليکن د تقوی له مخي په دې سلسلې کي د اوسنی زمانې نورو بې احتياطيو ته پهنظر کولو سره يې له استعمال څخه ځان ساتل په کار دي .

"لما قال العلامة التمرتاشی رحمه اللّٰه : وزكوة الاختيار ذبح اطلق واللبة .... والمرئ والودجان ..... وشرط كون الذابح مسلماً حلالاً خارج الحرم .... والشرط فی التسمية هو الذكر الخالص عن شوب الدعاء ـ "(تنوير الابصار على صدر المحتار / ج: ٦ / ص: ٢٩٦ ، كتاب الذبائح)

وفی الهندية : الاختيارية تركنها الذبح فيما يذبح من الشاة .... والذبح هو فرى الاوداج ومحله ما بين اللبة واللحيين ... منها ان يكون مسلماً او كتابياً ... منها قيام اصل الحياة فی المستأنس وقت الذبح۔ (الفتاوى الهندية / ج: ٥ / ص: ٢٨٥ ، ٢٨٦ ، كتاب الذبائح ، الباب الاول۔ ومثله فی الهداية / ج: ٤ / ص: ٤٣٧ ، كتاب الذبائح۔

..د غير فطري طريقې پيداوار او د غير ملکي غوايانو حکم:

سوال: ......

دځينو غوايانو په باره کې داخبره مشهوره ده چې د هغوی د نسل د ډېرولو لپاره د خنزير مادۀ منويه د ټيسټ ټيوب يعني ستني په ذريعه او يا د جفتي په ذريعه استعمالېږي او بيا بچي ترې پيدا کېږي . داسې غواوو ته جرمني يا خارجي غواوې ويل کېږي . د داسې غوايانو د غوښې حکم د شريعت له مخې څه دئ؟

الجواب باسم ملهم الصواب :...... د حيواناتو نسل له ښځې څخه ثابتېږي او د نر مادۀ منويه لره هيڅ اعتبار نشته له دې وجهې فقهاوو ليکلي دي که چيرته له ووزې سره کوم څيرونکی ځناور جوړه شي يعني تيره يې کړي نو بچی به يې د مور تابع وي . لهذا د نوموړي صورت مطابق د جرمني د مذکوره غوايانو ذبح کول او له هغو څخه انتفاع حاصلول يعني دغوښې خوړل يې جائز دي .

"لما قال العلامة الكاساني رحمه الله : فان كان متولداً من الوحشي والانسي فالعبرة للام فان كانت اهلية يجوز و الا فلا حتى ان البقرة الاهلية إذا نزعها ثور وحشي فولدت ولداً فانه يجوز ان يضحى به و ان كانت البقر وحشية والثور اهليا لم يجز لان الاص في الولد الام لانه ينفصل عن الام۔"(بدائع الصنائع / ج: ٥ / ص: ٦٩ ، كتاب الذبائح)

قال العلامة ابو بكر الجصاص الرازيؒ : الا قرى ان حمارة اهلية لو ولدت من حمار وحشي لم يؤكل ولدها و لو ولدت حمارة وحشية من حمار اهلي اكل ولدها فكان الولد تابعا لامه دون ابيه۔ (احكام القرآن / ج: ٥ / ص: ٣ ، سورة النحل)

..د ذبحي په وخت کي په قصد سره د تسميه (بسم الله) د پرېښودلو حکم:

سوال:......

که چيرته يو سړي د حيوان د ذبح کولو په وخت کي قصدا او عمداً بسم الله پرېږدي ن و آيا ذبيحه به حلاله وي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب:......د احنافو په نزد د ذبحي په وخت کي قصداً د بسم الله پرېښودل د ذبيحي د مرداريدو سبب دی لهذا د ذبحي په وخت کي قصداً د بسم الله د پرېښودلو په وجه سره ذبيحه حرامه کرځي او له هغي څخه د هيڅ ډول انتفاع اخيستل جائز نه دي نه يې خپله خوړلی شي او نه يې په نورو خوړلی شي.

"لما قال العلامة المرغيناني رحمه الله: ان ترك التسمية عمداً لا يسمع الاجتهاد و لو قضى القاضي بجواز بيعه لا ينفذ" (الهداية على صدر فتح القدير / ج: ۵ / ص: ۵۷، كتاب الذبائح)

قال العلامة ابن عابدين: و لا تحل ذبيحة من تعمد ترك التسمية مسلماً او كتابياً لنص القرآن و لانعقاد الاجماع۔ (رد المحتار / ج: ٦ / ص: ۲۹۹، كتاب الذبائح)۔ و مثله في الهداية / ج: ٤ / ص: ٤٣٥، كتاب الذبائح۔

..د حلال حيوان حرامي اجزاوي:

سوال:......

د حلالي مذبوحې د بدن د كومو اجزاوو خوړل حرام دي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... د حلال حيوان په شرعي توګه د حلالولو سره سره د هغه اوه لاندېني شيانو خوړل حرام دي:

۱ . پتا (تريخى) ۲ . مثانه ۳ . غدود ۴ . فرج ۵ . ذكر ٦ . خصيتين ۷ . دم مسفو ح .

"لما قال العلامة محمد بن حسن الشيبانیؒ: عن مجاهد قال كره رسول الله ﷺ من الشاة سبعاً المرار و المثانة والغدة والحياء والذكر والانثيين والدم ۔ انتهى ۔ (كتاب الآثار / ص: ۱۷۹ ، باب ما يكره من الشاة الدم و غيره)"

قال العلامة علاؤ الدين الكاسانیؒ: و اما بيان ما يحرم اكله من اجزاء الحيوان المأكول فالذى يحرم اكله منه سبعة الدم المسفوح والذكر و الانثيان والقُل و الغدة والمثانة و المرارة ۔ (بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع / ج: ۵ / ص: ٦۱ ، كتاب الذبائح)۔ ومثله فى تنقيح الحامدية / ج: ۲ / ص: ۲۳۲ ، كتاب الذبائح۔

..د حيوان په ګولۍ يا مرمۍ سره ويشتل او بيا ذبح كول:

سوال: ......

جناب مفتي صاحب زموږ په كلي كي يو ځنګ دى چي هغه ته زموږ خلك بيله وايي د كلي خلك په دې ځنګل كي خپل مالونه پيايي او كله كله يو نيم حيوان پكښې وحشي شي او په هيڅ طريقې سره نه نيول

کیږي یعني لاس ته نه راځي نو خلک هغه په ګولۍ ولي او څملوي يې او بيا يې ذبح کوي نو آيا داسې کول شرعاً صحيح دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب:...... د توپک په ګولۍ سره د ويشتلو نه وروسته که چیرته په حیوان کې روح پاتي وي او فوراً يې په شرعي توګه ذبح کړي نو حلال به وي او که نه وي نو بيا به حلال نه وي البته يو ځناور د ذبح کولو نه مخکې بې له ضرورته په ګولۍ ويشتل او بيا يې ذبح کول ظلم او زياتی دی او د ګناه سبب ګرځي.

"قال العلامة الحصكفی رحمه الله: وحل المذبوح بقطع ای ثلاث منها اذ للاكثر حكم الكل ۔"(الدر المختار علی صدر رد المحتار ٦ / ص: ۲۹۵، كتاب الذبائح)

..د خنزير د حرمت فلسفه:

سوال:......

جناب مفتي صاحب دلته په جاپان کې عموما د خنزير غوښه خوړل کیږي تر دې پورې چې ځيني مسلمانان چې له ډېره وخته راهيسې دلته مقيم دي هغوی يې هم خوري او داوايي چې د غوايي او خنزير په غوښې کې فرق نشته. د دواړو غوښې يو ډول دي بلكه د خنزير غوښه د غوايي له غوښې خوږه هم ده. د قرآن او سنت په رڼا کې د دې وضاحت وکړئ چې په اسلام کې د خنزير د غوښې د حراموالي فلسفه څه ده؟

الجواب باسم ملهم الصواب:...... د اسلامي نقطۀ نظر له مخې د يوه شي د حلت او حرمت حق يوازې الله تعالی ته حاصل دی. الله تعالی چې کوم شي ته حلال ويلي دي هغه حلال دی او کوم شي ته چې يې حرام ويلي دي

هغه حرام دی . په دې مسئله کې چا ته د قياس د جنګولو هيڅ حاجت نشته چې هغه اې خوا او دې خوا صغرى او کبرى سره يو ځای کړي او په يو شي باندې د حلالو يا حرامو حکم ولګوي . الله تعالى د مختلفو حيواناتو غوندې غوا هم حلاله ګرځولې ده لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي دي: ﴿ ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ مِّنَ الضَّأْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ قُلْ آلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الْأُنثَيَيْنِ ...... وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ قُلْ آلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الْأُنثَيَيْنِ ﴾ (سورة الانعام: پاره ٨)

"اته نر او ښځې يعني په ميږو کې دوه ډوله او په ووزو کې دوه ډوله تاسو ووايې چې آيا الله تعالى د هغو دوه نران حرام کړي دي او که دواړه ښځې"

مشهور د قرآن مفسر علامه ابن کثير د دې آيت لاندې ليکلي دي:

"ثم بين اضاف الانعام إلى غم ... الابل ذكورها و اناثها و بقر كذلك و انه تعالى لم يحرم شيئا من ذلك و لا شيئا من اولادها بل كلها مخلوقة آدم اكلا و ركوباً و حملة و حلباً و غير ذلك من وجوه المنافع" (تفسير ابن كثير / ج: ٢ / ص: ٨٣)

"بيا الله تعالى د هغه حيوان اقسام بيان کړه تر دې پورې چې د آس او د هغه د نر او ښځې او همدا رنګه د غواوو هم . بې شکه الله تعالى په غو کې او د هغو په اولادونو کې هيڅ شی هم نه دې حرام کړې . دا ټول يې د بني آدم د خوړلو، سورلۍ، د بار د وړلو، شيدو او د نورو منافعو لپاره پيدا کړي دي" .

نو ځکه د غوايي په حلالوالي کې شک کول صحيح نه دی او خنزير يې

د ځینو نورو حیواناتو غوندي حرام کړځولی دی . لکه څرنګه چي الله تعالی فرمایي:﴿قُل لَّا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّماً عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلَّا أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَماً مَّسْفُوحاً أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقاً ﴾ (سورة الانعام: پاره ۸)

''ته و وایه اې محمده ﷺ چي ما نه دي موندلي په دې وحي کي کوم چي ما ته کیږي یو شی حرام د خوړلو نه چي هغه وخوری مګر هغه شی چي هغه مردار وي او یا بهېدونکي وینه وي او یا د خنزیر غوښه کومه چي هغه ناپاکه او ناجائزه ده'' .

او په دې باندي د امت اجماع ده . علامه دمیري صاحب فرمایي: ''چي خنزیر نجس العین دی او د هغه د غوښي خوړل حرام دي او اخیستل او خرڅول یې هم جائز نه دي'' . (حیات الحیوان اردو ./ ج:۲/ ص: ٦١، الخنزیر)

د خنزیر په حراموالي باندي قرآني آیتونه، مبارک حدیثونه، د صحابه وو او تابعینو آثار دومره په کثرت سره دال دي چي یوه مسلمان ته هم هغو ته په نظر کولو سره د هغه خوړل حلال نه دی .

شریعت چي کوم شی حراموي په هغه کي د هغه حکم نه پرته نور ضررونه هم موجود وي چي د انساني بدن او یا د هغه د اخلاقو لپاره صحیح نه وي . چنانچه حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي د خنزیر د غوښي د حراموالي وجوهات بیان کړي او فرمایلي یې دي:

(۱) د دې خبري علم هیچا ته نشته چي دغه ځناور د اولي درجې نجس، حرام خور، بې غیرت او دیوث دی نو اوس د ده د حرام والي وجه ظاهره ده

چي د داسي پليد او بدبويه ځناور د غوښي اثرات په انساني بدن او روح باندي به هم پليد وي ځکه چي دا خبره ثابته شوې ده چي د غذاؤ اثر به هم بد وي لکه څرنګه چي يوناني طبيبان د اسلام څخه مخکي هم دغه رايه ظاهره کړې وه . چي د دې ځناور د غوښي خوړل د حياء قوت کموي او د ديوثي ماده زياتوي .نو کله چي دا امر مسلم دی چي د بدن او اخلاقو د تبديلۍ ډېر قوي سبب غذا ده نو له دې وجهي د داسي ځناورو غوښي اسلامي شريعت منع کړځولي دي .

(۲) خنزير يعني خوګ د نجاست خواته ډېر مايل دی خصوصا د انسان ګندګي د دغه خوراک دی او غوښه يې د همدې نجاست څخه جوړېږي پس د هغه شي خوړل ګواکه د خپل نجاست خوړل دي .

(۳) صاحب مخزن ادويه د خنزير د غوښي او د هغه د حراموالي ديارلس وجوهات ليکلي دي او فرمايلي يې دي چي د دې ځناور غوښه د انسان د فطرت په خلاف ده او مخکي ليکلي چي :

"گوشت خوک موار خلط غليظ است و مورث حرض شديد صداع مزمن، دوادالفيل، و اوجاع المفاصل و فسادِ عقل و زوال مروت وغيرت وحميت و باعث فحش است و اکثرے از فرق غير اسلامی آن رامی خورند وقبل از ظهور نور اسلام گوشت آن را در بازارہامی فروختند و بعد ازان در مذهب اسلام حرام و بيع آن ممنوع و موقوف گرديد بسيار کثيف و بد ہئيت است"

(د اسلام احکام د عقل په نظر کي / ص: ۲۰۴)

(۴) د خنزير غوښه د سترګو ديو مرض سبب جوړېږي کوم چي نوم يې

ترک اوسس دی کوم چي په صح رايي اب و هوا کي ډېر اثر کوي .

پاتـي شـوه د غـوا او د اسـي نورو د غوښي مسئله نو مولانا اشرف علي تهانويؒ د هغې په باره کي وايي:

(۱) دا ټول ځناو رپـه اصـل کـي د انسـاني مزاج موافق پاک او معتدل مزاجـه دي ځکه حلال ګرځول شوي دي او دغو ځناورو ته الله تعالى بهيمه الانعـام ويـلـي دي او د تـوافـق او اعـتـدال په وجه سې په دنيا کي اکثر خلک ددې ځناور غوښه استعمالوي . د انسان فطرت د دې امر متقاضي دی چي لـکـه څرنګه چي د انسان د خوراک څه حصه د نباتاتو څخه ده همدا رنګه څـه حصه د دوی د حيواناتو څخه هم وي او د دوی د خوراک لپاره حيوانات هم هغه تاکل مناسب وو کوم چي د هغه د مزاج موافق وي نو له دې وجهي الله تعالى همداسي وکړل .

(۲) لـکه څرنګه چي انسان جامع الجلال او جمال دی نو د ده په خوراک کـي هـم د جلال او جـمـال د دواړو مـوجوديت ضـروري دی لهذا د انسـان د خـوراک لپاره هغه حيوانات مقرر شول چي په هغوی کي د جلال او جمال دواړه صفتونه موجود دي . (احکام اسلام د عقل په نظر کي / ص: ۲۱۷)

د نـور تفصيل لپاره د علامه دميري صاحب د کتاب ''حيات الحيوان'' خـوا تـه مـراجـعـه وکـړئ . د مسلمانانو لپاره يوائې د الله او د هغه د رسول ﷺ حکم کافي دی . هوالموفق و المعين .

..د کوني کبر د خوړلو حکم:

سوال :......

جـنـاب مفتـي صاحب د ځينو خلګو وينا ده چي چونکه دريابي ځناور ټول

حلال دي نو ځکه کوني کبر هم حلال دی او حال دا چي د ځینو خلکو په نزد یې خوړل جائز نه دي نو د شریعت مطهره د احکاماتو په رڼا کي وښیاست چي د کوني کبر خوړل جائز دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... د احنافو په نزد په دریابي ځناور کي یواځي کب حلال دی او نور ټول حرام دي لهذا د کوني کبر یعني شمشتی خوړل حرام دي.

"قال العلامة المرغینانی: و لا یؤکل من حیوان الماء الا السمك"(الهدایة / ج: ٤ / ص: ٤٤٠، کتاب الذبائح)

..د درندګانو د حرمت فلسفه:

سوال:......

په ځینو علاقو کي زما په ذهن کي یو سوال پیدا کیږي چي شریعت مقدسه کوم زمری، ییږه، ګیدړ او نور درندګان یې حرام ګرځولي دي د دې څه وجه ده او د کومي فلسفې لاندي یې نوموړي درندګان حرام ګرځولي دي مهرباني وکړئ تسلي بخښونکی ځواب راکړئ ډېره شکریه به مو وي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... یو مسلمان ته نه دي په کار چي د یو شي د حلت او حرمت اعتقاد ـ فلسفې لاندي ولري بلکه ضروري دا دی چي یواځي دي د الله حکم ومني، او الله تعالی د یو شي په باره کي د حلت او حرمت حکم بې له کوم حکمت څخه نه دی فرمایلی:

لکه څرنګه چي حضرت مولانا اشرف علي تهانوي فرمایي: "د ټولو درندګانو ځناورو چي د هغوی په فطرت کي په پنجو سره د ښکار او په

صولت سره زخمي كول او كوم چي پكښي سخت دلي وي ټول حرام كړځولي دي . همدا وجه ده چي حضور ﷺ د لېوانو په باره كي فرمايلي دي چي: ”او يأكل احد؟“ آيا لېوه هم كوم انسان خوري يعني لېوه هيڅوك هم نه خوري . د حراموالي وجه يې ظاهره ده چي د هغو ځناورو په خوړلو سره په انسانانو كي درندګي او د ځيرلو ماده پيدا كيږي نو ځكه په دې وجه سره حضور ﷺ د هر ښكاري مرغۍ د خوړلو څخه هم منع فرمايلې ده . (د اسلام احكام د عقل له مخې / ص: ۲۰۵، كتاب الأكل والشرب) .



سوال:......

په ځينو علاقو كي خلك ماهيان (كبان) او مرغۍ د جال په ذريعه ښكار كوي چي په هغوی كي عموماً مرغيو ته ښه شيان ښكاروي او نيسي يې نو آيا دا طريقه د دوكې وركول نه ده او په ښكار باندي يې څه اثر كيږي او كه نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب:......ښكار د قرآن او حديث له مخې مبا ح دی . د داسي مبا ح امر د حصول لپاره ديوې حيلې اختيارول شرعاً ممنو ع نه دي او په جال سره ښكار كول څه نوې مسئله نه ده . د فقهاؤ عام عبارتونه د دې پر جواز دلالت كوي .

”لما قال العلامة القاضی خانؒ: رجلٌ حفر فی ارضه حفيرة فوقع فيها صيداً فجاء رجلٌ و اخذه قال الصيد يكون للآخذ و ان كان صاحب الارض اتخذ تكل الحفيرة لاجل الصدی فهو احق بالصيد“(الفتاوی قاضی خان علی هامش الهندية / ج: ۳ / ص: ۳۵۹ ، كتاب الصيد والذبائح)

قال العلامة ابن البزاز الكردریؒ: كمن نصب قسطاطاً بارض صيد فی ارض رجل او انكر رجله فيها او وقع فيه بحيث لا يقدر علی الباراه فاخذه انسان و نازعه

صاحب ان کان صاحب الارض بحیث لو مدّ یده یصل الیه فهو لهٗ و ان کان بعیداً لا یصل الیه یده لو مدّه فهو للآخذ۔ (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة / ج: ٦ / ص: ۳۰۳ ، الباب الخامس فی تملیك الصید) و مثله فی الهندیة / ج: ٥ / ص: ٤١٨ ، الباب الثانی فی تملیك ما به الصید الخ۔

..په اسلحې د ښکار کولو حکم:

سوال :......

په ټوپک یا په لینډۍ باندي ښکار شوې مرغۍ که چیرته ذبح نه کړی شي نو د هغه د خوړلو څه حکم دی او که چیرته په ټوپک یا په لینډۍ باندي ښکار زخمي شي او مړ شي نو آیا دغه زخم د ذبحې لپاره کافي دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب : ...... د فقهاؤ له عبارتونو څخه معلومیږي چي کوم شی پخپله زخمي کوونکی نه وي بلکه په زور سره ښکار زخمي کړي او په وجه یې ښکار مړ شي نو دا د موقوضه په حکم کي راځي او حلال نه دی . د ټوپک او لینډۍ ګولۍ پخپله جارح نه دي بلکه عموماً یو حیوان د هغه په زور سره زخمي کیږي نو ځکه د هغه د حلت لپاره دغه جرحه کافي نه ده . بیا هم که چیرته په حیوان کي څه ژوند پاتي وي او ذبح شي نو بیا یې په خوړلو کي څه حرج نشته .

"لما قال العلامة قاضی خانؒ : و لا یحل صید البندقة والحجر والمعراض والعصا وما اشبه ذلك وان حرق ذلك ۔ (الفتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة / ج: ۳ / ص: ۳۰ ، کتاب الصید و الذبائح)"

عن ابراهیم بن عدی بن حاتمؓ : قال قال رسول الله ﷺ إذا رمیت فسمیت فخرقت فکل و ان لم تخرق فلا تأکل و لا تأکل من المعراض الا ما ذکیت و لا تأکل من البندقة الا ما ذکیت ۔ (رواه احمد ۔ نیل الاوطار / ج: ٨ / ص: ١٤٣ ، کتاب

الصيد ، باب النهي عن الرمي بالبندق و ما في معناه)۔ و مثله في رد المحتار على الدر المختار / ج: ٦ / ص: ٤٧١ ، كتاب الصيد۔

..دمجروح (زخمي) ښکار ذبح کول ضروري دي:

سوال :......

مجروح ښکار که چيرته د څه وخت لپاره ژوندي پاتي کېدلی شو او يا د اضطراري مرګ څخه بچ کيدی شو نو د هغه د حلت لپاره همدا زخم کافي دی او که د هغه ذبح کول ضروري دي؟

الجواب باسم ملهم الصواب :...... مجروح ښکار که چيرته د لږ وخت لپاره ژوندی پاتي شي او يا کم تر کمه د اضطراري مرګ څخه بچ کيدلی شو نو شرعاً يې ذبح کول ضروري دي ځکه چې جرح د اختياري ذبحې په حکم کې ده او دا په هغه وخت کې د عمل قابل دی چې ذبح اختياري قابل عمل نه وي .

"لما قال العلامة ابو بكر الكاسانيؒ : و قال اصحابنا رحمهم الله لو جرحه السهم او الكلب فادركه لكن لم يأخذه حتى مات فان كان في وقت لو اخذه يمكنه ذبحه فلم يأخذ حتى مات لم يؤكل لان الذبح صار مقدوراً عليه فخرج الجرح من ان يكون ذكاةً ۔ "(بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع / ج: ٥ / ص: ٥١ ، كتاب الصيد)

قال العلامة علاؤ الدين الحصكفيؒ : (و لا بد من ذبح صيد مستأنس لان ذكاة الاضطرار انما يصار اليها عند العجز عن ذكاة الاختيار و كفى جرح نعم) كبقر و غنم (توحش) فيجرح كصيد (او تعذر ذبحه) كان تردى في بئر او ند او صال حتى لو قتله المصول عليه مريداً ذكاته حل۔(الدر المختار على صدر رد المحتار / ج: ٦ ، / ص: ٣٠٣ ، كتاب الذبائح) و مثله في البحر الرائق / ج: ٨ / ص: ١٧١ ، كتاب

الذبائح۔

..د ښكار د پرې شوي اندام خوړل جائز نه دى:

سوال:......
كه چيرته د ښكار د كولو په وخت كې په كولى او يا بلې تېرې آلې سره د حيوان كوم اندام بېل شي او وروسته هغه حيوان ذبح شي نو د دې پرې شوي اندام خوړل جائز دى او كه نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب:......كله چې له يوه ژوندي ځناور څخه د هغه كومه عضو د ښكار د آلې په سبب سره پرې شي نو د هغه حيوان د ذبحې په صورت كې هغه پرې شوى اندام نه حلالېږي ن و ځكه يې خوړل شرعًا صحيح نه دي .

"لماقال العلامة ابو بكر بن على الحداد اليمنىؒ: (قوله و إذا رمى صيداً فقطع عضواً منه اكل الصيد لما بيناه ولا يؤكل العضو) لقوله عليه السلام ما ابين من الحى فهو ميت والعضو بهذه الصفة لان المبان منه حى حقيقة لقيام الحيات فيه "
(الجوهر النيرة / ج: ۲ / ص: ۲۷٤ ، كتاب الصيد)

قال العلامة اكمل الدين محمد بن محمود البابرتىؒ: قال (و ان رمى صيداً إذا قطع بالرمى عضوا من الصيد لما بيناه ان الرمى مع الجرح مبيح و قد وجود و لا يؤكل العضو ان امكن حياته بعد الابانة و ان لم يمكن اكلا ۔(العناية شرح الهداية على هامش فتح القدير / ج: ۹ / ص: ٦١ ، كتاب الصيد)۔ و مثله فى الدر المختار على رد المحتار / ج: ٦ / ص: ٤٧٣ ، كتاب الصيد۔

..په دریابونو کې د موجودو کبانو پلورل جائز نه دي:

سوال: ......

په ځینو دریابونو کې د کبانو کثرت ته په کتو سره د حکومت هغه دریابونه د آمدني ذریعې په توګه استعمالوي او په داسې ځایونو کې بیا خلکو ته د کبانو د ښکار د کولو اجازه ورکوي کوم چې حکومت ته یوه خاصه اندازه پیسې ورکوي او په عرف کې دغه اجازه ته ټیکه ویل کیږي نو آیا شرعاً دا معامله صحیح ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... د ملکیت لپاره کوم ځای کې چې بیع د سبب په توګه سره استعمالیږي نو په هغه کې دا ضروري ده چې د کوم شي پلورل مقصود وي د هغه تسلیم به د بائع په دائرۀ اختیار کې وي او کوم ځای کې چې د پلورل شوي شي څخه بائع مشتري ته له حواله کولو یعني ورسپارلو څخه قاصر وي نو هلته به د بائع دا معامله ناجائزه وي او د هغه لپاره د دغو روپو اخیستل جائز نه دی . او بیا هم که چیرته ټیکه دار محنت وکړي او کبان ښکار کړي او بیا یې وپلوري نو په ښکار کولو سره د هغه ملکیت ثابت شو او کټل شوې روپۍ ورته جائز ګرځي .

"لما قال العلامة برهان الدين المرغيناني : و لا يجوز بيع السمك قبل ان يصطاد لانه باع ما لا يملكه و لا في خطيرة إذا كان لا يؤخذ الا يصيد لانه غير مقدور التسليم ـ "(الهداية / ج: ۳ / ص: ۵۵ ، كتاب الصيد)

قال العلامة ابن نجيمؒ :(قوله و السمك قبل الصيد اى لم يجز بيعه لكونه باع ما

لا يملكه فيكون باطلاً اطلقه فشمل ما إذا كان فى خطيرة إذا كان لا يؤخذ الا بصيد لكونه غير مقدور التسليم ـ (البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ٧٣، كتاب الصيد) و مثله فى فتح القدير / ج: ٦٠ / ص: ٤٩ ، كتاب الصيد۔

..د ښکاري سپي (تازي) د ښکار حکم:

سوال:......

زموږ په کلي کي خلک دښکار لپاره سپي ساتي او هغوی ته د ښکار تعليم ورکوي او بيا په هغو باندي ښکار کوي نو که چيرته هغه سپی ښکار ونيسي او پخپله يې و نه خوري او خپل مالک ته يې راوړي او په لار کي يې هغه ښکار په خوله کي مړ شي نو آيا د دې ښکار خوړل جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب:...... اسلام د ښکار په غرض سره د سپي ساتل او د هغه په ذريعه ښکار کول جائز ګرځولی دی خو په دې شرط سره چي هغه ته يې د ښکار کولو تعليم ورکړی وي او هغه ښکار ونيسي او مالک ته يې راوړي او پخپله له هغه څخه څه و نه خوري نو د داسي سپي ښکار شوی شی حلال دی . اګر که هغه ځناور د سپي په خوله کي ختم شي ليکن د هغه لپاره دا ضروري دي چي مالک يې د ښکار د نيولو په وخت کي او د سپي د پرېښودو په وخت کي د الله نوم ياد کړی وي . پرته له دې څخه ښکار حلال نه دی .

لقوله تعالى: ﴿يَسْأَلُونَكَ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللَّهُ فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ﴾ (سورة المائدة: ۴)

..د پړانګ او زمري په ذريعه د ښکار کولو حکم:

سوال:......

جناب مفتي صاحب د پړانګ او د زمري په ذريعه ښکار کول جائز دی او که نه د حنفي مذهب په رڼا کي د هغه ځواب راکړئ؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... چونکه دغه دواړه ځناور د خپل درندګۍ او خونخوارۍ په وجه سره د تعليم قابل نه دي نو ځکه فقهاوو د هغو په ذريعه ښکار کول ناجائز ګرځولي دي او بيا هم که چيرته دا ځناور تعليم يافته شي او ښکار وکړی شي نو په دې کي څه حرج نشته ځکه چي د علت په وجه سره يې د هغوی ښکار ناجائز ګرځولی دی او هغه علت اوس مفقود دی.

"لما قال العلامة الحصكفيؒ: فلا يجوز الصيد بذب و اسد لعدم قابليتهما للتعليم فانهما لا يعملان للغير الاسد لعلو همته و الذئب لخسامسته"(الدر المختار على صدر رد المحتار / ج: ٦ / ص: ٤٦٣، كتاب الصيد)

قال العلامة ابن عابدينؒ: و حاصله البحث فى استثناء الخنزير و الاسد و الذب و فى التعليل لان الشرط فى ظاهر الرواية قول التعليم فيحل بكل معلم و لو خنزير-(رد المحتار / ج: ٦ / ص: ٤٦٤، كتاب الصيد)

قال العلامة وهبة الزحيلي: و استثنىٰ ابو يوسفؒ من ذلك الاسد و الذئب لانهما لا يعملان لغيرهما الاسد لعلو همته و الذئب لخساسته والحق بعضهم الحداة لخساستها والخنزير مستثنى - (الفقه الاسلامى و ادلته / ج: ٣ / ص: ٧٠٤، الفصل الثانى فى الصيد)

..يواځي د شوق له مخي د ښکار کولو حکم:

سوال:......

جناب مفتي صاحب زموږ په کلي کي ځيني موذي حيوان لکه ګيدړ او داسي نورو ښکار خاص د شوق له مخي کوي چي مطلب يې ترې يواځي لوبي او تماشه وي نو آيا شرعاً داسي ښکار کول جائز دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب:......د هر يوه حيوان ښکار يواځي په دې غرض سره بايد وشي چي له هغه څخه څه نفع حاصله شي يواځي د لوبي او تماشې لپاره ښکار کول جائز نه دی خصوصا د حرامو ځناورو ښکار چي له هغه څخه هيڅ ګټه په ښکاره توګه نه حاصليږي ليکن هغه ځناور چي پټي او داسي نورو ته نقصان رسوي نو بيا د هغوی وژل او ښکار کول جائز دي .

"لما قال العلامة وهبة الزحيلى : و يكره الصيد لهوا لانه عبث لقوله عليه السلام لا تتخذوا شيئا فيه الروح غرضا اى هدفاً فى قتل عصفوراً عبثا عج إلى الله يوم القيامة يقول يا رب ان فلاناً قتلنى عبثاً ولم يقتلنى منفعة"(الفقه الاسلامى و ادلته / ج: ۳ / ص: ٦٩٣ ، الفصل الثانى فى الصيد)

لما قال العلامة الحصكفیؒ : هو مباح بخمسة عشر شرطا ..... الا المحرم فى غير الحرم او للتلهى كما هو ظاهر ۔ قال العلامة ابن عابدينؒ فى مجمع الفتاوى و يكره للتلهى ۔ (الدر المختار على صدر رد المحتار / ج: ٦ / ص: ٤٦١، ٤٦٢ ، كتاب الصيد)

..د تجارت په غرض د ښکار حکم:

سوال:......
جناب مفتي صاحب موږ څو ملګري په اجتماعي توګه د سیند په دریاب کي د ماهیانو ښکار کوو او بیا هغه پلورو یو صاحب وایي چي ښکار یوائې د خوړلو تر حده پوري جائز د تجارت لپاره ښکار کول ناجائز دی. له تاسو څخه هیله ده چي د قرآن او سنت په رڼا کي ځواب راکړئ چي د تجارت په غرض ښکار کول جائز دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ......اګر که د ځینو علماؤ په نزد د کسب په توګه ښکار کول مکروه دی لیکن راجح قول دا دی چي د داسي عمل په کولو کي څه حرج نشته لهذا د نوموړي صورت مطابق د تجارت لپاره ښکار کول مباح دی او د حرمت هیڅ شائبه پکښي نشته.

"لما قال العلامة الحصكفيؒ: هو مباح بخمسة عشر شرطا .... الا المحرم فى غير الحرم او للتلهى كما هو ظاهر او حرفة على ما فى الاشباه قال المصنفؒ و انما زدته تبعاً له و الا فالتحقيق عندى اباحة اتخاذه حرفة لانه نوع من الاكتساب و كل انواع الكسب فى الاباحة سواء على المذهب الصحيح"(الدر المختار على صدر رد المحتار / ج: ٦ / ص: ٤٦٢ ، كتاب الصيد)

قال العلامة ابن عابدينؒ: و فى التتارخانية قال ابو يوسفؒ إذا طلب الصيد لهواً و لعباً فلا خير فيه و اكرهه و ان طلب منه ما يحتاج اليه من بيع او ادام او حاجة اخرى فلابأس ـ (رد المحتار / ج: ٦ / ص: ٤٦٢ ، كتاب الصيد)



(کتاب الحظر والاباحة
د هگی یو جنگول)

سوال)

داختـر پـر مـوقـعـو بـانـدی هلوکان هگی جنگوی نو آیا ددې هگیو خوړل جائز دی او که نه؟

جواب)

پـر کـومی هگی باندی چی شرط لگول سوی وی او په ساتیری کی استعمال سوې وی د هغه خوراک حرام دی همداسی جوز او نور شیان . قالـو او الـجـوز الـذی یـلـعـب به الصبیان یوم العید یو کل و هذا اذا لم یکن عـلـی وجه المقامرة فان کان علی وجه المقامرةفهو حرام . . .الخ (فتاوی قاضی خان ص۳۸۱ج۴)

(د خیاط او موچی لپاره شرعی حکم)

سوال)

و خیـاط تـه یو چا کالی راوړل او هغه ته وویل چی زما لپاره کف او کالـر والا کـالـی جـوړ کـه او یا یی یو موچی ته وویل چی د فلانی شو والا چمپـل زمـا لپـاره تیـار کړه او حال دا چی هغه اسلامی فیشن نه وی نو آیا د خیاط لپاره او یا د موچی لپاره داډول کالی او یا چمپل جوړول جائز دی؟

جواب)

داډول کـالـی جـوړول خیاط تـه جائز نه دی بلکی د هغه لپاره یوائی

اسلامی فیشن والا کالی جوړول په کار دی که یی د بل فیشن والا کالی جور کړل نو هغه گناهگار کیږی همداسی موچی لپاره هم دا حکم دی اکساف امره انسان یتخذ له خفا مشهور اعلی ذی المجوسی او لفسقة و زاد له فی الاجرة قیل لا یبغی له ان یفعل ذالک و کذا الخیاط اذا امر ان یخیط ثوبا علی ذی الفساق الخ (الفتاوی قاضی خان ۳۷۹ ج۴

(د حلالو حیوانانو خصیتین (خوټې) خوړل)

سوال)

د حلالو حیوانانو خصیتین (خوټې) خوړل) مکروه تحریمی دی او که حرامی آیا خصیتین خوړونکی سړی حرام خور بلل کیدلای سی او که نه؟

جواب)

خصیتین (خوټې) خوړل مکروه تحریمی دی د هغو خوړل حرام دی

کره تحریما من الشاة الحیاء والخصیة . . .الخ (تنویر الابصار مع الدر المختار علی هامش رد المحتار ص۳۴۱ ج۴

(د کافر سره یو ځای ډوډی خوړل)

سوال)

زه هوائی میدان په دفتر کی دنده تر سره کوم او راسره یو څو کافران هم کار کونکی دی او موږ یو ځای ډوډی خورو او چائی کو نو آیا د

کافر سره یو ځای ډوډۍ خوړل جائز دی کله نا کله زما دا خیال سی چې راسی دا کار پرېږده تاسی ددې په اړه زما لارښوونه وکړی؟

جواب)

تاسی خپله مزدوری مه پرېږدی ولی چې تاسی ددې کافرانو ملازمین نه یاست بلکی تاسی د هوائی میدان کارکونکی یاست د کافرانو سره د یو ځای ډوډی خوړلو څخه خپل ځان ساتی تاسی جلا لوښی او ګلاس استعمالوی

ولم یذکر محمد ﷺ الاکل مع المجوس و مع غیره من اهل الشرک انه هل یحل ام لا وحکی عن الحاکم الامام عبد الرحمن الکتاب انه ان ابتلی بی المسلم مرة او مرتین فلا باس به و اما الدوام علیه فیکره کذا المحیط . . . الخ (الفتاوی العالمگیری ص۳۴۷ ج۵)

(په ولاړه خوراک کول)

سوال)

نن صبا د خوراک دا رواج عام سوی دی چې پر میز باندی ډوډی اېښول کیږی او خلک یې په ولاړه سره خوری آیا دا طریقه جائز ده او که نه؟

جواب)

په ولاړه سره ډوډی خوړل د کافرانو یو جوړه طریقه ده او د سنت خلاف کار دی .

او دا د حیوانانو سره د تشبیه یو ډول دی .

حدثنا محمد بن مثنی قال نا عبد الاعلی قال نا سعید عن قتادة عن انس عن النبی ﷺ انه نهی ان یشرب الرجل قائما قال قتادة فقمنا فالاکل فقال

ذالک اشر و اخبث (الحديث) صحيح مسلمص١٧٢ ج٢باب فی الشربقائما .

(د بينک له کار کونکی ځخه ډالی اخستل)

سوال)

يـو سـړی پـه بيـنک کـی کـارکـونـکی دی د هغـه څخـه ډالـی (تحفه) اخستـل جائز ده او که نه؟

جواب)

د کوم سړی مال چی حرام وی هغه څخه ډالی اخستـل جائز نه ده .
ولا يجوز قبول هدية امراء الجور . . .الخ (الهندية ص٣٤٢ ج٥)

(د غنمو پر غلې باندی د حيوانانو بولی)

سوال)

پـه يو ميـدان کـی د غـنمـو غـلـه پرتـه ده د شپې پر دې غلې باندی حيـوانـانـو بـولـی کړی او پکښی کرځيدلی دی په شريعت کی ددې غلې د پاکی څه طريقه ده او دا غله پاکه ده که حرامه؟

جواب)

ددې د پـاکـولـو طريقه دا ډول کيدلای سی چی چيری د بولـو نښانونه سـړی و ويـنـی د هغــه شـاه و خـوا دی را جمع کړی او پرې دی وی اووچ دی کړی بس دا حلال سول

ولـو کـانـت الـحـنـطة منفغة و اللحم مغل بالماء الجش يغل ثلاثا و يجفف

فی کل مرة الخ (مجمع الانهر ص۴۰ ج۱
او کوم کوم ځای چی ددې حیوان د کرځیدلو اثار نه ولیدل سی هغه د پریمنځلو ضرورت نسته هغه پاک دی .
و فی فتاوی الحجة سئل ابو لیث البخاری عن کداس تداس بالحمر فتروث و تبول فی الحنطة قال ارجوا ان لا یکون به باس . . . الخ (الفتاوی التتار خانیه ص۳۲۳ ج۱

(د ږیری یوه قبضه کیدل سنت مؤکده دی)

سوال)
ما ږیره پرې ایښې ده مګر د کور والا له وجهی می کوچنی کړې ده البته ما په زړه کی اراده کړې ده چی د سنت مطابق به یو موټ اندازه ږیره به لازم پریږدم په دې اړه زه معلومات لرم چی ددې کوچنی ږیری ګناه ماته رسیږی زما په دې اړه مکمله لارښوونه وکړی؟
جواب)
لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق (الحدیث صحیح البخاری ص۱۰۷۸ ج۲)
د الله تعالی د حکم په مقابل کی د بندګانو حکم منل جائز نه دی د ږیری خریل او کوچنی کول دواړه کبیره ګنهونه دی .
ولا باس بنتف الشیب واخذ اطراف اللحیة والسنة فیها القبضة و کذا یحرم علی الرجل قطع لحیة . . . (الدر المختار ص۲۸۸ ج۵
تر یوه موټه کمی ږیری ته شرعی ږیره نه ویل کیږی همدا راز د یو

ملازمت حاصلولو لپاره ږیره خریل هم مکروه تحریمی ده .

(پیکی پریکول مکروه تحریمی دی)

سوال)

پیکی پریښول د ښځی لپاره جائز دی که نه همدا راز د پیکی پریکول د ښځی لپاره جائز دی که نه؟

جواب)

په رواج کی د زلفو پریکول لازمی دی ولی چی د ښځی لپاره ویښتان پریکول او لنډول مکروه تحریمی دی نو په التزام سره ثابت سول چی پیکی پریښول جائز نه دی یعنی که چیری ویښتان پرې نه کړی نو یواځی د ښائست لپاره یی پریښول منع نه دی و فیه قطعت شعرا سها ثمت و لعنت زاد فی البزازیة و ان یاذن الزوج لانه لا طاعة لمخلوق فی معصية الخالق . . .الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار ص۲۸۸ ج۲

(مصنوعی ویښتان لګول (پیوندول) جائز دی)

سوال)

مصنوعی ویښتان لګول څرنګه دی که چیری یو ښځه د ښائست لپاره پر خپل سر باندی مصنوعی ویښتان کسیږدی نو آیا پر هغه باندی مسح جائز ده؟

جواب)

مصنوعی ویښتان پریښول مکروه تحریمی دی او جائز نه دی (صحیح مسلم ص۲۰۴ ج۲
له حضرت اسماء بنت ابی بکر صدیق رضی الله عنها څخه روایت دی وایی چې یوه ښځه د نبی کریم ﷺ په خدمت کې راغله او ویې ویل چې اې الله رسوله زما د لور واده کیدونکی دی او دیو مرض له وجهې د هغې ویښتان بالکل توی سوی دی نو آیا زه هغې ته مصنوعی ویښتان پیوندولای سم نو نبی کریم ﷺ ورته و فرمائل چې ویښتان پیوند کونکی او ورته پیوند کونکې دواړه لعنتی دی.
وعن ابن عمر ان النبی ﷺ قال لعن الله الواصلة والمستوصلة والواشمة والمستوشمة متفق علیه... الخ (مشکوة ص۳۸۱ ج۲
له حدیث شریف څخه معلومه سوه چې مصنوعی ویښتان اینبول او یا د ویښتان لګول جائز نه دی او پر مصنوعی ویښتانو باندې مسح جائز نه ده او په دې سره د اوداسه فرض نه اداء کیږي ولې چې مسح کې روایت کې دالفظ ذکر دی مس الشعر

(له بدن څخه د کریمو، پوډرانو په ذریعه ویښتان پاکول)

سوال)
بال صفاء یو ډول کریم دی په عام ډول ښځې هغه استعمالوی او بعضې نارینه هم د چرې پر ځای باندې دغه بال صفاء استعمالوی نو آیا شرعاً د نارینه و لپاره ددې استعمال جائز دی که نه؟
جواب)

بال صفاء د ښځینه و لپاره استعمالول جائز او د نارینه و لپاره یی استعمال اولی نه دی د نارینه و لپاره چاړه استعمالول سنت طریقه ده .
په حدیث شریف کی راغلی دی و حلق العانة (الحدیث) په صحیح مسلم شریف ص۱۲۹ ج۱ کی ذکر دی او حلق خریلو ته ویل کیږی او خریل په چړې سره وی :
په بال صفاء سره خریل نه راځی بلکی په هغه سره نطف د بیخه راکښل وی نو د نارینه لخوا په دې سره سنت نه ادا کیږی که یی وکړی نو یواځی یی جواز دی قال فی الهندیه و یبتدی من تحت السرة ولو عالج بالنورة یجوز کذا فی الغرائب . . .الخ (رد المحتار ج۵ص۲۸۸ .

(تر نامه لاندی ځایونه حدود)

سوال)
تر نامه لاندی ویښتانو خریلو حدود تر کومه ځایه پوری دی او کوم ویښتان په هغه کی شامل دی
جواب)
تر نامه لاندی حدود د سپو خسی (آمخانه) د هډوکی څخه شروع کیږی په کوم کی چی هغه درې اندامونه هغه حصه په کوم کی چی د تلوث خطره وی او ددبرې ویښتان ددې ټولو خریل واجب دی (طحطاوی علی مراقی الفلاحص۲۸۷)

(پر اندامو باندی خالونه وهل)

سوال)
یو سړی پر خپل بدن کی د خال په ذریعه باندی خپل نوم لیکلی

واوخه وخت بعده یې هغه عیب وبلي او خلکو هم دی ملامتوي چې دا دې
څه کړي دي آیا پر بدن باندې داسي کول جائز دي .
جواب)
پر بدن باندې ستني وهل او بیا پر هغه رانجه اچول بالکل ناجائز او
مکروه تحریمي دي دداسي سړي په اړه په حدیث شریف کي لعنت راغلی
دی .
لعن الله الواشمة والمستوشمة (الحدیث) (صحیح البخاری ص۸۷۸ ج۲)
پر بدن باندې ستني وهونکي او ددې حکم کونکي دواړه لعنتیان دي

(دپتلون،نیکر،او ټائی بیان)

سوال)
حکومت یو څوک ددې پابنده کړي چې ته به دااغوندې نو بیا ددې
اغوستل جائز دي که نه؟
جواب)
نن صبا پتلون ټائی دکافرانو قومي پیژندګلوي ده نو مسلمان
لپاره دکافرانو شعار خپلول مکروه تحریمي دي
وعنه (ابن عمر) قال قال رسول الله ﷺ من تشبه بقوم فهو منهم (رواه
احمد و ابو داؤد (مشکوة المصابیحص۳۷۵ ج۲ کتاب اللباس)
نبي کریم ﷺ وفرمایل چې کوم څوک چې دیو چا سره خپل ځان مشابه
کړي هغه دهغه قوم څخه دي .
مسلمان ته په کار دي چې هغه خپله جامه نه پریږدي او دنابلدو خلکو ته
ځان نه کړي خپل

(د ښځو لپاره د نارینه و جامې اغوستل)

سوال)

بعضې ښځې خپل ویښتان پرې کوی او د نارینه په شان خپل ځان جوړوی آیا داسې کول جائز دی؟

جواب)

ښځو لره د نارینه او نارینه لره د ښځینه و شکل جوړول حرام دی او پر داسې چا باندې د الله تعالی لعنت سوی دی.

قال قال رسول الله ﷺ لعن الله المتشبهین من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء باالرجال (رواه البخاری) مشکوة المصابیحص۳۸۰ ج۲)

(د ښځو چوټی ګان)

سوال)

ښځه خپل د سر ویښتان د ښائست لپاره باید څو حصې کړی او بعض خلک د ښځو د ویښتان پر یوه چوټی کولو باندې زور اچوی؟

جواب)

په حدیث شریف او فقهی کی دښځې د ویښتان لپاره قرآن لفظ او د ضفر تین راغلی دی

و قالت فضفرنا شعرها ثلاثة قرون (الحدیث)

علامه طیبیؒ ویلی دی چی ویښتان پر درې حصو ویښل ددې دور دښځو عادت و

قال الطيبی لعل المرادبا فتل شعرها ثلاثة قرون مراعاة عادة النساء فی ذالک . . .الخ

ښځی لره خپل د سرويښتان پر دو حصو باندی ويښل ښه کار دی

ثم يجعل شعرها ضفر تين الخ (الهدايهص۱٦۴ج۱)

د مرګ جامه د ړوندون پر ډول باندی رواج جوړول کيږی (الطحطاويص۳۱۵)

(روغبړ مصافحه کول)

سوال)

روغبړ (مصافحه) کول او د لاس مچولو شرعی طريقه څه ده؟

جواب)

د نارينه د نارينه سره روغبړ کول جائز دی او معانقه هم جائز ده همداسی د احترام لپاره د لاس او تندی مچه هم جائز ده .

قال ابو يوسف لا باس بالتقبيل والمعانقة فی الزار واحد فان كانت المعانقة فوق قميص او جبة او كانت القبة علی اوجه المبرة دون الشهوة جاز عند الكل كذا فی فتاوی قاضی خان . . .الخ (الفتاوی العالمكيريه ص۳٦۹ج۵)

البته نارينه لره د نا محرمه ښځی سره روغبړ کول بالکل جائز نه دی همداسی ښځه لره د نا بلده نارينه سره لاس ملاوول جائز نه دی .

لقوله عليه السلام العنيان تزينان و زنا هما النظر و اليدان تزينان و زنا هما البطش . . .الخ (الهداية ص۴٦۰ج۴)

په يو حديث شريف كی راغلی دی چی كوم چا چی ديو نا بلدی په

یو ښځی سره لاس یو ځای کړی ګوا کی هغه د دوږخ او انکار په خپل لاس کی واخستی؟

(د قومیت د بدلولو بیان)

سوال)

بعض خلک په یو سیمه کی مشهوره نه وي هغه د خپل ځان پیږندلو لپاره دیو مشهوره قوم سره ګډون کوي او بیا همیشه لپاره هغه خپل قوم ښکاره کوی په اسلام کی ددې په اړه څه حکم دی؟

جواب)

د الله تعالی په دربار کی قبولیت دارومدار پر تقوی باندی دی دیو قوم سره یو ځای کیدل او قوم غټ بلل هیڅ حیثیت نه لری او قومیت بدلول حرام دی.

و من ادعی الی غیر ابیه او انتمی الی غیر موالیه لعنة الله والملائکة والناس اجمعین لا یقبل الله منه یوم القیمة صرفا ولاعد (الحدیث)

• کو چا حقیقی مالک بدل کړی پر هغه باندی الله تعالی او ملائکو او د ټولو خلکو لعنت دی وی تر قیامته پوري د هغه نفلی او فرضی عبادت به الله تعالی نه قبلوی

(روغبړ په دو لاسو کول سنت دی)

سوال)

روغبړ په دو لاسو سره کول سنت دی او که لاس بعض خلک په یوه لاس روغبړ کولو ته سنت وایی؟

جواب)

روغبړ په دو لاسو سنت دی .

(۱) باب المصافحه قال ابن مسعود علمنی النبی ﷺ التشهد و كفی بين كفيه (الحديث) صحيح البخاری ص۹۲۶ ج۲)

(۲) باب الاخذ باليدين و صافح حماد بن زيد ابن المبارک بيديه (الحديث) صحيح البخاری حوالۂ بالا)

په يوه لاس باندی روغبړ كول د كافرانو طريقه ده د مسلمانانو لپاره په يوه لاس روغبړ منعه دی كه يو شی فی نفسه جائز وی مگر كه د يو شی فی نفسه جائز وی مگر كه د يو كافر شعار جوړ سوی وی نو مسلمانانو ته د هغه څخه ځان ساتل په كار دی لقوله عليه السلام من تشبه بقوم فهو منهم (ابو داؤد ص۵۵۹ ج۲) كتاب اللباس باب فی لبس الشهرة)

ختم شد

کتاب الوصیة
د وصیت احکام او مسئلې

..وارث ته وصیت باطل دی:

سوال: ......

یوه سړي د خپل ټول مال وصیت خپل لمسي ته وکړ او حال دا چې د هغه نور لمسي او نړندي هم شته نو آیا دا وصیت به شرعاً درست او نافذ وي او که نه؟ تفصیلاً ځواب مطلوب دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... د وارثانو حقوق د وراثت د قانون مطابق ټاکل شوي دي او مورث که وارثانو ته وصیت وکړي په هغه کې د هیڅ ډول کموالي او زیاتوالي حق نلري . د کوم وارث لپاره چې وصیت وکړي نو د هغه تنفیذ به د نورو وارثانو تر اجازې پورې موقوفه وي او که نور وارثان اجازه ورنه کړي نو وصیت به کالعدم پاتې شي . بیا هم د اجازې په صورت کې که په وصیت باندې عمل وکړي نو څه پروا نلري .

"قال العلامة المرغینانیؒ: و لا تجوز لوارثه لقوله علیه الصلوة و السلام ان الله تعالی کل ذی حق حقه الا لا وصیة لوارث و لانه یتأذی البعض بایثار البعض ففی تجویزه قطعیة الرحم و لانه حیف بالحدیث الذی رویناه" (الهدایة / ج: ٤ / ص: ٦٢٥ ، کتاب الوصایا)

عن ابن عمرو بن خارجة خطب رسول الله ﷺ فقال ان الله تعالی قد اعطی کل ذی حق حقه الا وصیة لوارث۔ (سنن النسائی / ج: ۲ / ص: ۱۳۱ ،

كتاب الوصايا ، باب ابطال الوصية للوارث)

..نابالغو اولادونو ته د ودونو د کولو وصیت:

سوال :......

زید خپلو بالغو زامنو ته ودونه کړي دي نو آیا هغه خپلو نابالغو اولادونو ته د خپل جائیداد شرعا دیوې حصې وصیت کولی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب : ......زامنو ته ودونه کول د پلار ذمه واري نه ده بلکه د احسان معامله ده . په ژوند کي پلار ته پخپل جائیداد او مال و دولت کي مکمل اختیار حاصل وي لیکن له مرګ نه وروسته د اولاد لپاره د داسي اضافي اخراجاتو وصیت به کالعدم وي .

"كما قال عليه الصلوة و السلام : ان الله اعطى كل ذى حق حقه الا لا وصية لوارث"(سنن النسائى / ج: ٢ ، / ص: ١٣١ ، **كتاب الوصايا ، باب ابطال الوصية للوارث)**

لما قال العلامة المرغيناني رحمه الله : و لا تجوز لوارثه لقوله عليه السلام ان الله اعطى كل ذى حق حقه الا لا وصية لوارث. (الهداية / ج: ٤ ، / ص: ٦٢٥ ، كتاب الوصايا)

..وصیت په مملوکه جائیداد کي نافذ وي:

سوال :......

زید د بکر لپاره پخپل جائیداد کي د پنځمي حصې وصیت وکړ او بیا یې خپل زوی خالد ته ځیني جائیداد په مختلفو ځایونو کي ورکړ خو بیا هم د

مرګ په وخت کې یې په ملکیت کې څه څمکه پاتې وه، نو آیا په داسې حالت کې یې وصیت په ټول جائیداد کې نافذ وي چې په هغه کې زوی ته هغه ورکړ شوی جائیداد به هم شامل وي او که یواځې د مرګ په وخت کې یې په هغه مملوکه جائیداد کې وصیت نافذ وي؟

الجواب باسم ملهم الصواب:......وصیت په حقیقت کې د مرګ په وخت کې نافذیږي ځکه چې مرګ په وخت کې څومره جائیداد پاتې وي په هغه کې به وصیت معتبر وي چونکه له مرګ څخه مخکې وصیت کوونکی پخپل ټول جائیداد کې د مالکانه تصرفاتو حق ورته حاصل وي نو ځکه هغه ته د وصیت څخه قولا یا عملا د رجوع حق هم حاصل دی لهذا زامنو ته چې کوم جائداد په ژوند کې ورکړی وي هغه به د هغوی ملکیت وي البته د پاتې جائیداد څخه به پنځمه حصه موصیٰ له ته ورکول کیږي.

"قال العلامة السجاوندیؒ: ثم تنفذ وصایاه من ثلث ما بقی بعد الدی۔"(مقدمة السراجی / ص: ۳)

و فی الهندیة: ثم تنفذ وصایاه من ثلث مایبقی بعد الکفن والدین۔ (الفتاوی الهندیة / ج: ٦ / ص: ٤٤٧، کتاب الفرائض) ومثله فی البزازیة علی هامش الهندیة / ج: ٦ / ص: ٤٥٣، کتاب الفرائض۔

..د ټول مال له ثلث (دریمې برخې) څخه په زیاتو کې وصیت معتبر نه دی:

سوال:......

یوه ښځه پخپل ژوند کې خپل ټول جائیداد غیر منقوله د رائج الوقت

ملكي قانون مطابق د انتقال په ذريعه د كلي د جومات لپاره په دې شرط وقف كړ چي زما تر مرګه پوري به دا جائيداد زما وي او زما له مرګ نه وروسته به زما شيان آن تر ستنو پوري به د جومات لپاره وقف وي او د دې خبري ګواهان هم موجود دي او حال دا چي په وارثانو كي د ماما د زوى او لور نه پرته نور هيڅوک هم نشته او هغې مرحومي فرمايلي وه چي ما دغې نجلۍ ته كوم شيان په زړه كي وو هغه مي وركړي دي نور هغې ته څه نه وركوم . نو اوس پوښتنه دا ده چي آيا د مرحومي له مرګ نه وروسته د دې خپلوانو ته څه وركول كيږي او كه نه او كه د هغې ټول مالونه منقوله او غير منقوله به د جومات لپاره وقف وي؟

الجواب باسم ملهم الصواب:......په نوموړي صورت كي د مرحومي دا وقف د وصيت سره تعلق لري او وصيت د ټول مال له دريمي حصې څخه په زياتو كښي معتبر نه دی يعني د ټول جائيداد منقوله او غير منقوله يوائي په يو په دريمي حصې كي وصيت نافذ دی او هغه به د جومات لپاره وقف وي او په دويمي په دريمي حصې كي يې ارث جاری كيږي ځكه چي د وصيت په ذريعه هيڅوک هم خپل وارثان د ميراث څخه نه شي محرومولی .

"قال العلامة محمد علاؤ الدين افنديؒ: الارث جبری لا يسقط بالاسقاط "(تكملة رد المحتار / ج: ۱ / ص: ۳۵۹ ، مطلب واقعة الفتوى ، كتاب الدعوى)

قال العلامة السجاونديؒ : و تنفذ وصاياه من ثلث ما بقى بعد الدين ـ (مقدمة السراجی / ص: ۳)

وفی الهندیة: ثم تنفذ وصایاه من ثلث ما بقی بعد الکفن والدین.... ثم یقسم الباقی بین الورثة علی سهام المیراث ۔ (الفتاوی الهندیة / ج: ٦ / ص: ٤٤٧، کتاب الفرائض)

..د مړي په وصیت سره په جومات باندې مصرف کول:

سوال:......

زید له مرګ څخه دوه میاشتې مخکې جومات ته د لسو زرو روپو د ورکولو وعده کړې وه چې له هغو څخه یې دوه نیم سوه روپۍ په جومات کې مصرف کړې هم وې لیکن پاتې روپۍ یې تر مرګه پورې د څه وجوهاتو په بناء نه سمو مصرف کولی نو آیا د مرحوم له ترکې څخه به دا روپۍ په جومات مصرف کیږي او که نه، په داسې حال کې چې د مرحوم په وصیت باندې ګواه هم موجود دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ......که چیرته د مرحوم د وصیت په باره کې د هغه اقربا اقرار کاوه او یا ګواه پرې موجود وو او هغه وصیت شوی شی د متروکه له دریمې حصې څخه ادا کیدل ممکن وو نو ادا کول یې ضروري دي.

"قال العلامة السجاوندیؒ: و تنفذ وصایاه من ثلث ما بقی بعد الدین "(مقدمة السراجی / ص: ٣)

قال العلامة ابن البزازؒ: و تبرعات المریض کالهبة والصدقة .... من الثلث ۔ (البزازیة علی هامش الهندیة / ج: ٦ / ص: ٤٣٤، کتاب الوصایا)

..د وصيت له وجهي وارث د ميراث له حق څخه محروميږي:

سوال:......
يوه ښځه چي وارثان نه لري وصيت يې وکړ چي زما له مرګ نه وروسته زما زراعتي جائيداد او کور په دوارو لېورونو باندي برابر تقسيميږي ځکه چي هغوی دواړه زما په مريضي باندي کافي روپۍ لګولي دي او په راتلونکي کښي هم زما په تکفين او تجهيز باندي پيسې مصرفوي . ځکه زما نورو خپلوانو ته زما په جائيداد کي هيڅ حق حاصل نه دی . حال دا چي د هغې له وفات څخه وروسته د هغ د تره دوه زامن هم ژوندي دي نور آيا شرعا هغو دواړو ته د مرحومي له مال څخه څه حصه ورکول کيږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... د شريعت د اصولو مطابق چي په کفن او دفن کي څومره روپۍ مصرفيږي هغه به له ترکې څخه اخيستل کيږي او د پاتي جائيداد له دريمي حصې څخه به وصيت پوره کاوه شي ځکه چي له ثلث څخه په زياتو کي وصيت معتبر نه دی او پاتي مال به په وارثانو باندي تقسيميږي لهذا په نوموړي صورت کي د مرحومي دواړو لېورونو ته د ثلث مال د ورکولو نه وروسته پاتي مال به د هغې د تره د دواړو زامنو وي .

”قال العلامة السجاوندیؒ: تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة الاول يبدأ بتكفينه و تجهيزه من غير تبذير ولا تقطير... ثم تنفذ وصاياه من ثلث ما

بقى بعد الدين ثم يقسم الباقى بين ورثته بالكتاب والسنة والاجماع الامّة"(مقدمة السراجى / ص: ٣)

قال العلامة المرغينانىؒ: قال و لا تجوز بما زاد على الثلث لقول النبیﷺ فى حديث سعد ابن وقاص رضى الله عنه الثلث والثلث كثير۔(الهداية / ص: ٦٥٣ ، كتاب الوصايا ، باب صفة الوصية)

وصيت يوائې په ثلث د مال کې نافذ دی

سوال:......

که چیرته یو سړی پخپل ژوند کې د خپل مال وصیت وکړي نو د هغه وصیت به په څومره مال کې نافذوي او که د هغه ټول مال به ذ وصیت مطابق مصرفیږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... وصیت د مړي د ټول مال یوائې په ثلث کې جاري کیږي یعني د مړي وصیت به د هغه د دریمې حصې مال څخه پوره کیږي او پاتې ترکه به په وارثانو ویشل کیږي .

"قال الشيخ سراج الدين محمد بن عبد الرشيدؒ: ثم تقضى ديونه من جميع ما بقى من ماله ثم تنفذ وصاياه من ثلث ما بقى بعد الدين الخ"(السراجى / ص: ٣)

و فى الهندية ثم تنفذ وصاياه من ثلث ما يبقى بعد الكفن و الدّين الا ان تجيز الورثة اكثر من الثلث الخ۔ الفتاوى الهندية / ج: ٦ / ص: ٤٤٧ ، كتاب الفرائض ، الباب الاول فى تعريفها و فيما يتعلق بالتركة)۔ و مثله فى الهداية / ج: ٤ / ص: ٦٥١ ، كتاب الوصايا ، باب فى صفة الوصية ما يجوز من ذلك الخ۔

..له وصيت څخه رجوع صحيح ده:

سوال:......

که چیرته یو سړی د چا لپاره د خپل مال د مخصوصې حصې وصیت وکړي او و یې هم لیکي لیکن څو ورځې وروسته وصیت کوونکی د څه خفګان له وجهې د خپل وصیت څخه رجوع وکړي نو آیا د دې سړي د وصیت څخه رجوع کول صحیح ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... د وصیت څخه رجوع کول صحیح ده لهذا په صورت مسئوله کي وصیت کوونکی چي کله له خپلي وصیت نامې څخه رجوع وکړي نو له مرګ ن ه وروسته وصي ته هیڅ شی نه و رکول کیږي .

"قال العلامة المرغينانيّ : و يجوز للموصى الرجوع عن الوصية و إذا صرح بالرجوع او فعل ما يدل على الرجوع كان رجوعاً"(الهداية / ج: ٤ ، / ص: ٦٤٤ ، كتاب الوصايا ، باب صفة الوصية ما يجوز من ذلك الخ)

و فى الهندية : و يصح للموصى الرجوع عن الوصية ثم الرجوع قد يثبت صريحاً و قد يثبت دلالة الخ۔(الفتاوى الهندية / ج: ٦ ، / ص: ٩٢ كتاب الوصايا ، الباب الاول فى تفسيرها و شرط جوازها و حكمها الخ)

و مثله فى فتاوى قاضى خان / ج: ٤ / ص: ٤٣٢ ، كتاب الوصايا ، فصل فيما يكون رجوعاً عن الوصية الخ۔

..کافر ته د وصیت کولو حکم:

سوال:......

یوه مسلمان ته پخپل مال کي کافر ته وصیت کول جائز دی او که نه او که چیرته جائز وي نو په څومره مال کي به نافذیږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ......په اسلام کي د وصیت دائره پراخه ده . له مسلمان شخصه پرته کافر ته هم وصیت کول صحیح دی او یواځي به په دریمې حصې د مال کي جاري کیږي .

"قال العلامة الكاسانیّ : اما کونه مسلماً فلیس بشرط حتی لو کان ذمیاً فاوصی له مسلم او ذمی جاز"(بدائع الصنائع / ج: ۷ ، / ص: ۳٤۱ ، کتاب الوصایا)

قال العلامة المرغینانیّ : و یجوز ان یوصی المسلم للکافر و الکافر للمسلم فالاول لقوله تعالی لا ینهاکم الله عن الذین لم یقاتلونکم فی الدین۔ (الهدایة / ج: ٤ / ص: ٦٤۱ ، کتاب الوصایا)

..د وصیت د اثبات لپاره د شهادت ضرورت:

سوال: ......

یوه سړي دا دعوه وکړه چي فلاني سړي زما لپاره د دومره مال وصیت کړی وو او حال دا چي د مرحوم وارثان له دې وصیت څخه منکر دي لیکن د مدعي سره ګواه موجود دی نو آیا شرعا د وارثانو انکار د مرحوم وصیت حتمولی شي او که نه ؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ...... لکه څرنګه چي د نورو معاملاتو او عقدونو د ثبوت لپاره د شاهدانو ګواهي د ثبوت موجب ده بالکل په

همدې ډول وصیت هم د شاهدانو په شهادت سره ثابتیږي او په دې سره د وارثانو د انکار شرعاً څه حیثیت نه پاتې کیږي .

"لما قال العلامة الدکتور وهبة الزحیلی: و تثبت الوصیّة بطرق الاثبات الشرعیة کالشهادة والکتابة" (الفقه الاسلامی وادلته / ج: ۸ / ص: ۱۲٦، المبحث السابع اثبات الوصیّة)

..موصیٰ له د موصي څخه مخکې په وفات کېدو سره د وصیت حکم:

سوال:......

جناب مفتي صاحب زما والد صاحب پخپل ژوند کې د خپل یوه ملګري لپاره د یوې ټکړې ځمکې وصیت نامه لیکلې وه چې زما د مرګ نه وروسته دا ځمکه ستا ده . لیکن زما د والد صاحب دا ملګری زما د والد صاحب نه مخکې مړ شو او اوس زما د والد صاحب د انتقال نه وروسته د هغه ملګري زامن د دې ټکړې ځمکې مطالبه کوي نو آیا شرعاً د دوی دغه دعوی صحیح ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب:...... د وصیت د تکمیل لپاره ضروري ده چې موصیٰ له د وصیت کوونکي تر مرګه پورې ژوندی وي نو بیا به د وصیت اهل وي .

او که نه نو په بل صورت کې که چیرته موصیٰ له د وصیت کوونکي په ژوند کې وفات شي نو وصیت باطلیږي نو ځکه په صورت مسئوله کې د وصیت مال د وصیت کوونکي حق دی د موصیٰ له د اولاد د

استحقاق دعوی صحیح نه ده .

"قال العلامة الكاسانی رحمه الله : و تبطل بموت الموصی له قبل موت الموصی لان العقد وقع له لا لغیره فلا یمكن ابقاء علی غیره۔"(بدائع الصنائع / ج: ۷ / ص: ۳۹٤ ، كتاب الوصایا ، فصل تبطل الوصیة)

قال العلامة وهبة الزحیلی: موت الموصی له المعین قبل موت الموصی تبطل به الوصیة باتفاق المذاهب الاربعة لان الوصیة عطیة و قد صادقت المعطی میتاً فلاتصح كالهبة للمیت ۔ (الفقه الاسلامی و ادلته / ج: ۸ ، / ص: ۱۱٦ ، المبحث الرابع مبطلات الوصیة) و مثله فی البحر الرائق / ج: ۸ / ص: ٤٥٣ ، كتاب الوصایا۔

..د وصي معزولول جائز دی:

سوال:......

که چیرته یو سړی خپل وصي وټاکي او بیا یې څو ورځې وروسته معزول کړي او کوم بل څوک وصي مقرر کړي نو آیا شرعاً هغه ته دا اختیار حاصل دی چې یو ځل څوک وصي مقرر کړي او بیا یې معزول کړي؟

الجواب باسم ملهم الصواب : ......موصي ته شرعاً دا اختیار حاصل دی چې د کوم وصي لـه ټاکلو نه وروسته هغه معزول کړي لیکن په دې کې د دې خبرې خیال ساتل پکار دي چې وصي ته د هغه د معزول والي اطلاع ور کړي .

"قال العلامة الكاسانیؒ : فالوصیة تبطل بالنص علی الابطال .... اما النص فنحو ان یقول ابطلت الوصیة التی اوصیتها لفلان او فسختها او نقضتها

الخ"(بدائع الصنائع / ج: ۷ / ص: ۳۹٤ ، کتاب الوصایا ، فصل بیان ما تبطل به الوصیة)

قـال العلامة وهبة الـزحیلـی : والـرجوع اما ان یکون صریحاً او دلالة فالرجـوع التـصریـح ما کان بلـفظ هو نص فی لارجوع مثل قول الموصی رجعت عن وصیتی لفلان او ترکتها او ابطلتها او نقضتها او ما اوصیت به لفلان هـو لـورثتی و نحـوه ـ (الفقه الاسلامی و ادلته / ج: ۸ / ص: ۱۱٤ ، المبحث الرابع ، مبطلات الوصیة)

..په وصیت باندي د ملکیت لپاره قبول والی ضروري دی:

سوال :......

کـه چیرته یو سړی د خپل مرګ نه وروسته د چا لپاره د یو مخصوص مال وصیت وکړي نو آیا د هغه سړي یواځې په وصیت سره موصی له د هغه مخصوص مال مالک جوړیږي او کـه د هغه قبلول د هغه لپاره ضروري دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب : ...... وصیت یو عقد دی او د حنفیه وو اصول دي چې د هر عقد د تکمیل لپاره د هغه عقد قبلول ضروري دی نو ځکه په نـوموړي صـورت کې د موصٰی له وصیت قبلول لازمي امر دی . پرته له قبلولو څخه د هغه شي مالک نه شي جوړیدلی .

لیـکن په قبلولو کې یې د واضحو الفاظو ویل ضروري نه دي نفس په قبضه کې یې اخیستل هم کافي دي .

"قال العلامة وهبة الزحيلي: حكم الوصية بمعنى الاثر المترتب على الشيئ هو انتقال ملكية الموصى به إلى الموصى له ملكاً جديدا بقبول الموصى له بعد وفاة الموصى و به تلزم الوصية بالاتفاق ـ" (الفقة الاسلامی و ادلته / ج: ٨ ، / ص: ٢٢ ، كتاب الوصايا ، وقت ثبوت ملكية الموصى به)

قال العلامة الكاسانيؒ: وملك بدون القبول او بدون عدم الرد وقوع اليأس عنه ولم يوجد القبول منه و لا وقع اليأس عن الرد ما دام حيا فلا يعتق (بدائع الصنائع / ج: ٧ ، / ص: ٣٣٢ ، كتاب الوصايا، فصل ركن الوصية)

و مثله في الهندية / ج: ٦ / ص: ٩٠ ، كتاب الوصايا ، الباب الاول۔

د مبهم وصیت حکم:

سوال:......

که چیرته یو سړی په دې الفاظو سره وصیت وکړي چې زما له مال څخه څه حصه فلاني سړي ته ورکړه لیکن هغه د دې مال تعین نه وکړي نو آیا د وصیت کوونکي له مرګ نه وروسته موصٰی له ته به هغه مال ورکول کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب:......شرعاً خو دا وصیت صحیح ده البته د ابهام په وجه سره د وصیت کوونکي د انتقال نه وروسته د هغه تعین د وارثانو په صوابدید باندې موقوفه وي.

چې هغوی موصٰی له ته څومره وغواړي ورکولی یې شي او بیا هم که چیرته وصیت کوونکی پخپل ژوندکي دا مال متعین کړی وي نو پس له مرګه به هم هغه مال ورکول کیږي خو په دې شرط سره چې هغه ما د مړي د ټولي ترکې د ثلث څخه زیات نه وي.

”قال العلامة الكاساني رحمه الله : منها ما ذا اوصيلرجل بجزء ماله او بنصيب من ماله او بطائفة من ماله او ببعض او شقص من ماله فان بين في حياته شيئاً و الا اعطاه الورثة بعد موته ما شاء و الان هذه الفاظ تحتمل القليل و الكثير فيصح البيان فيه ما دام حيا و من ورثته إذا مات لانهم قائمون مقامه ۔ “(بدائع الصنائع / ج: ۷ / ص: ۳٥٦ ، كتاب الوصايا ، فصل شرائط الوصية)

..دلیوني یا مجنون او نابالغ د وصیت حکم:

سوال :......

جناب مفتي صاحب که چیرته مجنون یا نابالغ هلک چا ته وصیت وکړي نو آیا د دوی له مرګ څخه وروسته موصٰی به د دې مال مالک ګڼل کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب :......نابالغ او مجنون چونکه د تصرفاتو حق نلري نو ځکه د دوی وصیت لره هیڅ اعتبار نشته لهذا د لیوني او نابالغ په وصیت سره به موصٰی له د هغه مال مالک نه ګڼل کیږي .

”قال العلامة الكاساني رحمه الله : ومنها ان يكون من اهل التبرع في الوصية بالمال و ما يتعلق به لان الوصية بذلك تبرع بايجابه بعد موته فلا بد من اهلية التبرع فلا تصح من الصبي و المجنون لانهما ليسا من اهل التبرع لكونه من التصرفات“(البدائع الصنائع / ج: ۷ ، / ص: ۳۳٤ ، كتاب الوصايا ، فصل في الشرائط)

و فی الهندیة : و لا تصح الوصیة الا ممن یصح تبرعه فلا تصح من المجنون و المکاتب و الماذون الخ ـ الفتاوی الهندیة / ج: ٦ / ص: ۹۲ ، کتاب الوصایا ، الباب الاول)

..لمسي ته د وصیت کولو حکم:

سوال :......

که چیرته نیکه د خپل لمسي لپاره د خپلو زامنو سره د برابري حصې وصیت وکړي نو آیا د هغه د وصیت په وجه سره د هغه لمسي ته هم د هغه د زامنو غوندي برابري حصې ورکول کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب : ......د زامنو په موجود والي کي اګر که د لمسي لپاره وصیت کول صحیح دی لیکن دا وصیت

د مړي په دریمه حصه د مال کي جاري کیږي . د دریمې حصې څخه به زیاته لمسي ته نه ورکول کیږي او بیا هم که چیرته ثلث د مال یې دومره وو چي د زامنو د حصو سره برابرېده نو د

وصیت مطابق به برابري حصې ورکول کیږي . مثلاً د مرحوم دوه زامن یو لمسی وو نو مال به درې حصې کړي او هر یوه ته به یوه یوه حصه ورسیږي .

"کما فی الهندیة : یعتبر کونه وارثا او غیر وارث وقت الموت لا وقت الوصیة حتی لو اوصی لاخیه و هو وارث ثم ولد له ابن صحت الوصیة للاخ و لو اوصی لاخیه و له ابن ثم مات الابن قبل موت الموصی بطلت الوصیة للاخ ـ "(الفتاوی الهندیة / ج: ٦ / ص: ۹۰ ، کتاب الوصایا ، الباب الاول)

..له وصیت څخه رجوع صحیح ده:

سوال:......

که چیرته یو سړي د خپل یوه ملګري لپاره د څه مال وصیت وکړي لیکن له مرګ نه مخکې یې منسوخ کړي نو آیا د ده له خپل وصیت څخه رجوع کول صحیح دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب:...... وصیت چونکه یو استحبابي امر دی نو ځکه که چیرته موصي له خپل وصیت څخه وروسته ترې رجوع وکړي او خپل مخکینی وصیت باطل

کړي نو دا د هغه شرعي حق دی او په دې رجوع سره یې وصیت باطلیږي که قولاً وي او یا تحریراً وي .

"قال العلامة الکاسانیؒ : الموصی حتی یملك الرجوع عندنا ما دام حیا لان الموجود قبل موته مجرد ایجاب و انه یحتمل الرجوع فی مقدار المعاوضة فهی بالتبرع اولی"(بدائع الصنائع / ج: ۷ ، / ص: ۳۷۸ ، کتاب الوصایا ، فصل صفة هذا العقد)

قال العلامة وهبة الزحیلی : تبطل الوصیة باسباب امام فی الموصی کرجوعه عن الوصیة او زوال اهلیته او ردته ـ (الفقه الاسلامی و ادلته / ج: ۸ / ص: ۱۱۲ ، المبحث الرابع ، مبطلات الوصیة ـ و مثله فی الهندیة / ج: ٦ / ص: ۹۳ ، کتاب الوصایا ، الباب الاول)

..پر موصٰى بهٖ باندي يواځې قبضه هم كافي ده :

سوال :......

جناب مفتى صاحب د وصيت د قبلولو لپاره د ”قبلوم“ الفاظ ويل ضروري دي او كه يواځې د موصٰى بهٖ (د وصيت شوي شي) په قبضه كولو سره موصٰى له قبلويت پوره كيږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب :...... ”قبلوم“ د الفاظو په ويلو سره لكه څرنګه چې قبلوم پوره كيږي او همدا رنګه دلالتًا او فعلًا چې كوم ډول قبلول وي له هغه څخه هم معلوميږي چې قبلول پرې پوره كيږي نو هغه كافي ده د الفاظو ويل ضروري نه دي .

”قال العلامة علاؤ الدين الحصكفى رحمه اللّٰه : و فى البدائع و ركنها الايجاب و القبول و قال زفر الايجاب فقط قلت و المراد بالايجاب مايعم الصريح و الدلالة بان يموت الموصى له بع دموت الموصى بلا قبول“(الدر المختار على صدر رد المحتار / ج: ٦ ، / ص: ٦٥٠ ، كتاب الوصايا)

و فى الهندية و يشترط فى الوصية القبول صريحا او دلالة ذلك بان يموت الموصى له قبل الرد و القبول فيكون موته قبولًا فترثها ورثته ـ (الفتاوى الهندية / ج: ٦ / ص: ٩٠ ، كتاب الوصايا ،الباب الاول فى تفسيرها)

..د وصي د موصٰى تر انتقال وروسته د وصيت ردولو حكم:

سوال :......
یو چا یوه سړي لره خپل وصي جوړ کړ او هغه قبول هم کړ او په دې خبرې باندې د وصیت کوونکي تر وفاته پورې قائم هم وو . اوس هغه د موصي له وفات نه وروسته له دې ذمه وارې څخه ځان فارغوي نو آیا هغه له دې ذمه وارې څخه فارغېدلی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب :...... کله چې یو سړی وک وصي مقرر کړي او هغه وصیت قبول کړي او د وصیت کوونکي تر مرګه پورې په دې منصب باندې قائم هم وي نو د وصیت کوونکي له مرګ نه وروسته د وصي توب ذمه وارې پوره کول به پر هغه باندې لازمه وي او هغه د دې ذمه وارې څخه خلاصېدلی نه شي .

"قال العلامة محمد الطوری رحمه الله: و إذا وصی الیه فقبل قبل موته او بعده ثم رده لم یخرج لان الموصی ما اوصی الا إلی من یعتمد علیه من الاصدقاء و الامناء الخ"(البحر الرائق / ج: ٨ / ص: ٤٥٧ ، كتاب الوصايا)

..د زوی په موجودوالي کي ورور ته وصیت کول:

سوال :......
یو ورور غریب دی او بل ورور امیر او مالدار دی او د دواړو ورونو زامن هم شته اوس که چیرته مالدار ورور خپل غریب ورور لپاره له خپل مال څخه د څه مخصوصي روپیو وصیت وکړي نو آیا د خپل اولاد په موجودوالي کي د ورور په حق کي یې وصیت صحیح دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب : ......وروور اګر که وارث دی لیکن د اولاد په موجودوالي کي د اجنبي په منزله کي دی او حال دا چي په شریعت کي د اجنبي لپاره په دریمي حصې د مال کي وصیت صحیح دی البته که چیرته دغه مخصوص مال د ټول مال د ثلث څخه متجاوز وي نو هغه به د وارثانو اختیار کي وي نو د زامنو په موجودوالي کي د غریب وروور لپاره وصیت صحیح دی .

"و فی الهندیة : یعتبر کونه وارثا او غیر وارث وقت الموت لا وقت الوصیة حتی لو اوصی لاخیه و هو وارث ثم ولد له ابن صحت الوصیة للاخ و لو اوصی لاخیه و له ابن ثم مات الابن قبل موت الموصی بطلت الوصیة۔" (الفتاوی الهندیة / ج: ٦ / ص: ٩٠ ، کتاب الوصایا ، الباب الاول)

..د شیخ احمد خوا ته د منسوبې وصیت نامې شرعي حیثیت:

سوال :......

څه فرمایي علماء دین او مفتیان شرع متین د دې مسئلې په باره کي چي له ډېره وخته راهیسي په پاکستان ، هندوستان او افغانستان کي باز بار یوه وصیت نامه شائع کیږي چي نسبت یې شیخ احمد خادم روضۂ رسول مقبول ﷺ ته شوی دی . دغه وصیت نامه د اشتهار په صورت کي په مختلفو عنوانونو سره بار بار په مختلفو مضامینو کي شائع کېده او ساده مسلمانانو ته یې ترهیب او ترغیب ورکاوه او د هغې د اشاعت تلقین پکښي شوی دی . آیا د حضور نبي ﷺ خوا ته د هغې نسبت

صحیح دی او آیا دا په غیر یقیني توګه سره حضور ﷺ خواته یې منسوب کول جائز دي او که نه او ددې اشتهار شرعي حیثیت څه دی او په اشاعت باندي یې شرعاً رڼا واچوئ؟

الجواب باسم ملهم الصواب:......مذکوره وصیت نامه د اعلان او اشتهار په صورت کي د نیمي پېړۍ څخه په مختلفو ښارونو کي بار بار چاپ کیږي او د دې د مندرجاتو د غیر شرعي والي په وجه سره علماء کرامو بار بار د هغه تردید کړی دی او دا یې واضحه کړې ده چي د دې ډول وصیت نامې هیڅ شرعي حیثیت نشته ځکه چي د دې مندرجات بالکل بیهوده، غلط او د اسلام د بنیادي تعلیماتو خلاف دي. چنانچه له نن څخه ډېر وخت مخکي حضرت حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانويؒ دې غلط توهم په سختۍ سره رد کړی دی. لکه څرنګه چي د دې په باره کي د هغه مفصله فتوی په امداد الفتاوی کي په/ ج:٦ / ص: ٥٠٦/٥٠٧ کي موجوده ده. لیکن دا د مسلمانانو د ناپوهي او جهالت نتیجه ده چي د نبي کریم ﷺ د یقیني او ثابت شوي ارشاداتو او تعلیماتو کوم چي د قرآن او سنت په شکل کي مدون او منضبط موجود دي د هغه د اشاعت او ترویج خواته توجه نه کوي لیکن بلي خواته د علماء کرامو د وعظونو او اعلانونو باوجود د یوې بې بنیاده شي په ترویج او اشاعت کي له یوه او بل نه وړاندي والي کوي او د حضور ﷺ د وعیدونو مصداق جوړیږي د نبي ﷺ ارشاد دی: من کذب علیّ متعمداً فلیتبوء مقعده من النار. (الحدیث)

"چا چي پر ما باندي ناحقه دروغ وتړلو نو هغه دي په جهنم کي د خپل

ځان لپاره ځای جوړ کړي .
دا حدیث او له دې پرته بې شمېره نور نصوص او احادیث دي چې له هغو څخه دا واضحه کیږي چې رسول کریم ﷺ او د مذهب په ن امه په وچه او لنده کې بې له کوم سوچ او فکر نه په پټو سترګو عمل کول نه دی په کار .
د نبي کریم ﷺ د تعلیماتو او ارشاداتو له دروا غو او د جعلسازۍ له دسیسو او د دوکه بازانو له دوکې څخه د ساتلو لپاره د مسلمانانو اسلاف د حدیثو د فن ، اصول او د اسماء الرجال د فنونو په نامه سره عظیم الشان علوم او فنون مدون کړي دي او د محدثینو یو یو روایت یې د شریعت، عقل و فهم، درایت او د ادراک په تلې باندې تللی دی او صحیح او ضعیف حدیث یې له یوه اوبل څخه جلا کړي دي او د معمولي قرائنو په وجه سره چې کوم روایات په دې باندې دال دي چې دا د شریعت خلاف دی هغه حدیثونه به یې موضوعي ګرځول . یوې خوا ته دومره په احتیاط سره او دومره تقوٰی او بصیرت دا حالت دی او بلې خوا ته زموږ ساده مسلمانان د خپلې کم علمۍ او کم فهمي په وجه سره یو موضوع او بې اصله وصیت نامه په اشاعت او خپرونې باندې شپه او ورځ مصروف او مشغول دي . حالانکه چې د معمولي توجه او عقل او پوهې څخه کار واخیستل شي نو دا به ثابته شي چې د اصل خلاف ، بې سنده او بې دلیله ده . او دا ظاهره خبره ده چې د کومې خبرې نه سند وي نه دلیل وي محضې په یو فرضي نوم سره یې منسوبول . نو د داسې مضامینو به څه حیثیت وي کوم چې د قرآن و حدیث او د شرعي له مخې د قرآن او سنت د

تعلیماتو خلاف دي مثلاً د دې مختلف النوع وصیت نامو څخه ځیني مندرجې او منتخبې خبرې دلته بیانیږي:

﴿الف﴾ . . . او بیا تعجبه دا ده چي د یوه سړي دي دومره ډېر عمر وي .

﴿ب﴾ . . . بیا دا هم سوچ وکړئ چي لـه یو سړي نه بغیر د روضهٔ نبوي ﷺ بل خادم او یا د عالم اسلام نور اکابر اولیاء او د دین بزرگان او مشران او مقربینو بندگانو ته په خوب کي داسي وعیدونه او تهدیدونه او وصیت ولي نه دی شوی .

﴿ج﴾ . . . او که چیرته دا قصه صحیح هم وي نو خپرول یې په مدینه منوره او مکه معظمه کي ډېر په کار وو او حالانکه د ډېرو مسلمانانو د تګ او راتګ د خطونو او رسائلو سره سره هلته د دې وصیت نامې نوم او نشان هم نشته او که چیرته دا قصه تسلیم هم کړو نو بیا د فکر خبره دا ده چي آخر هغه کوم خلک وو چي هغوی ته خوب ویونکي دا قصه کړې وي . او بیا کومو راویانو په کومو وسائطو سره دا قصه هندوستان ته ورسوله . او دلته کومو ثقه او معتمدو اشخاصو دا واقعه واورېدله . او بیا چا دغه شی په اردو او پښتو ژبي سره ترجمه کړ او خپور یې کړ .

ظاهره خبره ده چي دا یو داسي روایت دی چي نه یې راوي معلوم دی، نه سند او نه یې په منځ کي سند او وسائط او نه د هغه څه تاریخي حیثیت شته محض یو وهم دی او د نبي کریم ﷺ په نامه سره د جعلي یا د موضوع هدایت د خپرولو روایت نصا او اجماعا حرام دی بلکه د ځینو محدثینو په نزد کفر دی .

﴿۲﴾ . . . په دې کي لیکلي دي چي دیوې جمعې نه تر بلي جمعې پوري

شپېتـه زره کسـان مـري چې یو هم له ایمان سرهٔ نه مري بلکه ټول له دنیا ځـخـه بې ایمانه تېرېږي . او په ځینو وصیت نامو کې لیکلي دي چې لس لـکـه کـلـمـه ویونکي مړه شوي دي او په ه غوی کې یوائې اولس کسان له دنیا نه مسلمان تېر شوي دي . دا مضمون هم د اسلام او د نبي کریم ﷺ د ارشاداتو خلاف دی . ارشاد باري تعالی دی:

وَسِعَت رَحمَتِي عَلَی غَضَبِي (چې زما رحمت زما په غضب باندي غالب دی) او زموږ مشاهده ده چې په دغي تیري شوې زمانې کې چې هم زیات مسلمانان توبه کوي کلمه وایي او مړه کیږي نو دا د نبې خاتمې علامه ده ..

﴿۳﴾ . . . همدا رنګه په دې کې دا هم لیکلي دي چې "د تارک الصلوة د جنازې لمونځ مه کوئ" دا حکم په صفا توګه سره د حدیثو خلاف دی . د نبي ﷺ ارشاد دی چې "صلوا علی کا بر و فاجر" یعني هر نېک او ګنهګار سري باندي د جنازې لمونځ وکړئ .

﴿۴﴾ . . . په دې کې د قیامت د علامو او د قیامت د نژدې والي په باره کې داسې شیان لیکلي دي چې هغه د حدیثو په روایاتو کې بالکل نشته مثلاً:

(الف) یو ستوری به په آسمان کې راخیږي .

(ب) د قرآن کریم الفاظ الوزي .

﴿۵﴾ . . . په دې کې د ځینو داسې شیانو ترغیب او تعلیم شته چې د هغه حراموالی او بدعت د شریعت په دلائلو سره ثابت شوی دی مثلاً:

(الف) د شربت تخصیص د کربلا د شهیدانو لپاره .

(ب) او پېژنئ جنت په خاطر .

(ج) او پلو (وريژې) د حضرت غوث الاعظم په خاطر .

﴿٦﴾ . . . او همداسي د مروجه مولود شريف او قوالۍ کوم چي د شرعي او عقل خلاف دي لکه څرنګه چي حضرت تهانوي رحمه الله د دې وصيت نامې په باره کي په امداد الفتاوى / ج: ۴/ ص: ۵۰۷ کي د دغو شيانو ذکر کړى دى .

﴿٧﴾ . . . په دې کي ځيني داسي شيان ذکر دي چي له هغه څخه العياذ بالله د حضور ﷺ توهين معلوميږي او د حضور ﷺ د شفاعت کبرىٰ او ددې سره سره چي حضور ﷺ رحمة للعٰلمين دى او د محبوبيت او مقبوليت خداوندي سره په ټکر کي لويږي مثلاً:

چا چي دا وصيت نامه خپره کړه د هغه د ټول خاندان شفاعت به کيږي او هغه ته به په جنت کي ځاى ورکول کيږي او څوک يې چي خپره نه کړي نو هغه به د خداى له رحمت څخه محرومه وي ګواکي د فرضي خوب په وجه سره د مسلمانانو د نجات او شفاعت لپاره يو داسي شرط لازمي کړى دى چي هغه نه په قرآن کي شته او نه په حديث کي . که چيرته واقعي ـ ايمان د مقبوليت او د انسان د مغفرت او شفاعت لپاره د دې وصيت نامې خپرول ضروري وبلل شي نو ظاهره خبره ده چي په کرورونو مسلمانان ، علماء ، صلحاء اهل الله او د دين بزرګان به ټول له شفاعت څخه محرومه وي او جهنمي به وي . چا چي د دې وصيت نامې تشهير نه وي کړى او نه يې اوس کوي . نو د دې توهم پرستي او د بې بنيادو خبرو نتيجه تر کومه ځايه پوري رسيږي . يوه بله وصيت نامه کومه چي د ملتان څخه خپره

شوې ده په هغې كي مندرجه ذيل عبارات ليكلي دي:

(الف) اې شيخ احمد زه د خداى عزوجل څخه ډېر شرمنده يم .

(ب) په دې وجه زه د خداى او فرښتو مخ ته نه شم كتلى .

(ج) اې شيخ احمده زما امت ته ووايه چي د تاسو په وجه سره زه خداوند كريم ته ډېر شرمنده يم .

(د) زه (نبي كريم ﷺ) بيا د خپل خداى څخه معافي غوارم او اې شيخ احمده ته هم دغه وصيت نامه خلكو ته ورسوه تر څو چي زه د خپلي ذمه وارى نه خلاص شم . (د مختلفو علماء كرامو فتوى مطبوعه هفت روزه خدام الدين لاهور / ص:١٦، ٢٥ جنوري ١٩٦٣ء مطالعه كړئ)

له دې ډول جملو څخه د حضور ﷺ شان اقدس او د شان شفاعت او وجهات او عظمت ته د نقصان ور رسولو كوشش شوى دى كوم چي د اسلام دښمن د رايو او د عيسايانو سازش معلوميږي . او نبي كريم ﷺ خپل فريضۀ رسالت او د تبليغ ذمه وارى په اكمل او احسن او په انتهائى كمال سره ادا كړې ده او له ذمه وارى څخه يې ځان فارغ كړى دى او د باركاه خداوندي څخه راضية مريضة او فادخلى فى عبادى وادخلى جنتى او همدار نكه: و رفعنا لك ذكرك او ليغفرلك ما تقدم من ذنبك و ما تأخر و په نورو ډېرو انعاماتو او بشاراتو باندي مشرف شوى دى او شفيع المذنبين او په رحمة للعالمين په مقاماتو باندي فائز شوى دى . نو اوس د امت د كناهونو عذر او پوښتنه په حضور ﷺ باندي نه ده او نه زموږ په بد اعماليو وبال په ده مبارك ﷺ باندي دى چي نعوذ بالله دى د شرمندكي سره مخامخ كيږي . هغه د خپلي فريضې څخه په زركونو درجې پورته د

خدای جل جلاله د رشد او هدایت انسانانو ته رسولی دی او د خپل منصب تبلیغ څخه په احسنه توګه کامیاب شوی دی .

د دې وصیت نامې خپرولو ته توجه ورکول او په لکونو، کرورونو روپۍ مصرفول او په دې لالچ سره خلک د عذاب او تباهۍ، بربادۍ څخه داروي او فرضي افسانې یې پکښې لیکلي دي چې نه یې اورېدونکی معلوم او نه یې اوروونکی معلوم دی .

لنډه دا چې هیڅکله د دې وصیت نامې لیکل او مضمونونه صحیح مه ګڼئ . البته چې کومې خبرې په قرآن او حدیث او په دیني کتابونو کې لیکلي دي د هغو موافق پر نېغې لارې باندې د تللو او د بني کریم ﷺ سنت په مضبوطي سره نیول او د بدې لارې نه د بچ کېدلو کوشش وکړئ . نو ځکه د شرعي له مخې د داسې مضمون خپروونکی به سخت ګنهګار وي که چیرته چا ته د حضور ﷺ د تعلیماتو ارشاداتو، مبشراتو او وعیدونو د لوستلو او خپرولو شوق وي نو دا ټول تعلیمات د حضور ﷺ د مبارکو حدیثونو په مستندو کتابونو کې موجود دي نو د هغو په لوستلو، زده کولو، عمل کولو او خپرولو ایماني جذبه او د نبوي ﷺ د عشق ثبوت ورکولی شي . و الله اعلم و علمه اتم و احکم .

